د بریا راز ........................................ ۱۵٤
خلک مه پرېږده چې زړه کې دې کینه ډېره کړي ........................................ ۱۵۵
د صبر ژوندی بېلګه ........................................ ۱۵٦
زړه له دې ناروغیو وژغوره ........................................ ۱۵۸
یوه خبره چې ژوند دې بدلولی شي ........................................ ۱۵۹
له داسې خلکو سره ملګرتیا مه کوه ........................................ ۱٦۰
د نورو د نېکو کارونو ثواب ته وګټه ........................................ ۱٦۲
قیامت کې له خجالتۍ ځان وساته ........................................ ۱٦٤
څنګه ټول ارمانونه پوره کړم؟ ........................................ ۱٦۵
که بریا غواړې دا یې شرط دی ........................................ ۱٦۸
زېری درکوم ........................................ ۱۷۰
ناهیلی او یوازې شوی یې؟ ........................................ ۱۷۲
الله پاک توبه کوونکي ډېر خوښوي ........................................ ۱۷۳
له شیطان سره اوږده جګړه ........................................ ۱۷۵
هسې خپل ژوند بې خونده کوې ........................................ ۱۷٦
دا بې پروایي دې دوزخ ته بیایي ........................................ ۱۷۷
ګټور راز چې ژوند خوندور کوي ........................................ ۱۸۰
د حاجت په وخت دا کار کوه ........................................ ۱۸۱
غواړې هر کار دې په ګټه وي؟ ........................................ ۱۸۲
په دې ذکر به دې غم او تشویش لرې شي ........................................ ۱۸۳

ځنګه ملګري وټاکم ........................................................ ۱۱٦
رښتینې خبره ........................................................ ۱۱۸
دې خبرې ته جدي پام کوه ........................................................ ۱۱۹
دا کار نېک عملونه له منځه وړي ........................................................ ۱۲۰
ځان تر خلکو لوړ مه ګڼه ........................................................ ۱۲۲
له دې وروسته به په اسانۍ تشویش ونه کړې........................................................ ۱۲٤
څنګه ټول خلک خوشحاله کړم؟........................................................ ۱۲۹
له تېروتنو مه ډارېږه ........................................................ ۱۳۰
دوه لارې او یو انتخاب ........................................................ ۱۳۲
په دې پوښتنه غور وکړه ........................................................ ۱۳۳
د خلکو له منفي خبرو ستړی یې؟........................................................ ۱۳٤
د تنبلي پایله زحمت دی ........................................................ ۱۳٦
له دې لوی فرصته ګټه واخله ........................................................ ۱۳۷
غمونو او کړاوونو ستړی کړی یې؟ ........................................................ ۱۳۸
مه ناهیلی کېږه ........................................................ ۱۳۹
ځینې وخت چوپ پاتې شه ........................................................ ۱٤۱
نا امیدي د شیطان موخه ده ........................................................ ۱٤۲
غواړې د هر کار پایله دې ښه وي؟........................................................ ۱٤٤
مه خپه کېږه ........................................................ ۱٤۸
د تشویش زولنې ماتې کړه؟........................................................ ۱۵۱

مينه الهي ډالۍ ده ........................................ ۸۳
داسې حالت کې ژر خپل رب ته ستون شه ................................ ۸٤
له خلکو ډېره طمع مه کوه ........................................ ۸٤
د ګنو ستونزو د حل کيلي ........................................ ۸٦
تلپاتې خوشحالي ........................................ ۸۸
مه پرېږده ډېر ناوخته شي ........................................ ۹۰
د داسې خلکو قدر کوه ........................................ ۹۲
ورته کار خو ۲۷ چنده اضافه ثواب ........................................ ۹۳
د غم او تشويشونو لرې کوونکي ذکرونه ........................................ ۹٤
د خوشحالي اسباب ........................................ ۹٦
کينه ناک انسان کې خير نشته ........................................ ۹۹
دا ځان ته قاعده وټاکه ........................................ ۱۰۰
د ذهني سکون راز ........................................ ۱۰۱
د داسې حالت په ليدو ژر دعا کوه ........................................ ۱۰۲
ناځوانه ملګري ........................................ ۱۰٦
له واده وروسته لاهم خوشحالي نه لرې؟ ........................................ ۱۰۷
په دې دوه کارونو ځان نېکمرغه کړه ........................................ ۱۰۹
د دعا قبلېدو مهم شرط ........................................ ۱۱۰
دا فرصت له لاسه مه ورکوه ........................................ ۱۱٤
ځان پخپله ارزښتمن کړه ........................................ ۱۱۵

له سترې ژونده بېزار یې؟ ........................................ ٥١
شکر کول دې عادت کړه ........................................ ٥٣
د ښه ژوند لپاره درې ګټور درسونه........................................ ٥٦
د زړه لویه ناورغي ........................................ ٥٨
ریښتینې سیالي ........................................ ٥٩
بریا دې حتمي ده خو که دا کار وکړې ........................................ ٦٠
ولې دومره ستونزې لرم؟ ........................................ ٦١
د خوندور ژوند لپاره اسانه کار........................................ ٦٣
په دې اسانه کار دې ژوند بدل کړه ........................................ ٦٤
دا کار دې عزتمن کوي ........................................ ٦٧
عزت په عاجزۍ کې دی ........................................ ٦٨
د اولاد تربیه کې د کتابونو نچوړ ........................................ ٦٩
تباه کېږې، که دا کار نه کوې........................................ ٧٠
شیطاني عبادت........................................ ٧٢
د تاریخ تر ټولو ګټور نصیحت ........................................ ٧٤
که داسې ونه کړې، غرقیږې........................................ ٧٧
د سعادت کیلي ........................................ ٧٨
غواړې دعا دې قبوله شي؟........................................ ٨٠
دومره مینه مه کوه ........................................ ٨١
دا ورځ له یاده مه باسه ........................................ ٨٢

دوه حالتونو کې دعا غواړه ........................................................ ۲۱
د حکمت لوی درس ................................................................ ۲۳
که زړه دې تنګ دی؛ دا زیری درسره مرسته کوي ...................................... ۲٤
له دې بد عادت څخه ځان ساته ..................................................... ۲۵
په ژوند کې بشپړ راحت څنګه ترلاسه کړم؟ .......................................... ۲٦
په خپل غیبت مه خپه کېږه ......................................................... ۲۷
د بریالي ژوند لپاره زرینې خبرې .................................................... ۲۹
ښه کوه، اجر یې له الله تعالی غواړه .................................................. ۳۰
داسې خلک وپېژنه ................................................................ ۳۱
له ظلم څخه ځان وساته ........................................................... ۳۲
غواړې په الله پاک ګران شې؟ ...................................................... ۳۳
په اسانه کار ډېر څه ترلاسه کړه .................................................... ۳۷
د خپګان یو عمده لامل ............................................................ ۳۸
په ژوند د حلال رزق اغېز .......................................................... ۳۹
غواړې غوره مؤمن شې؟ ........................................................... ٤۱
هره خبره دې لیکل کیږي .......................................................... ٤۳
تل دا دعا کوه ..................................................................... ٤٤
څنګه توبه وکړم؟ .................................................................. ٤۵
د ژوند امتحانونه؛ څنګه بریالی شم؟ ................................................ ٤۷
اسانه کار خو لویه ګټه .............................................................. ٤۹

لړلیک — مخ


له سکونه ډک ژوند غواړې؟ ........................ ۳
د بې قراره زړه تسکین ........................ ٤
ځان ساتنه؛ د دین اصلي ښکلا ........................ ٤
د مطمئن زړه لپاره پنځه عادتونه ........................ ٥
یوه څېره؛ له داخلي نارامۍ خلاصون ........................ ٦
بد ملګري داسې پېښېمان کړه ........................ ٦
عشق سخته ناروغي ده ........................ ۷
بهترینې دعاګانې ........................ ۱۱
اجازه مه ورکوه چې بې قدره دې کړي ........................ ۱۱
په دې کار سره به الله پاک ته ګران شې ........................ ۱۲
په دې کار ژوند مه ضایع کوه ........................ ۱۳
د دنیا او اخرت له عذابه د خوندیتوب دعا ........................ ۱٤
ربه خپل دیدار مو په برخه کړه ........................ ۱٤
د الله پاک پیاوړی مؤمن خوښېږي ........................ ۱٥
تر دې حده پرې زړه مه تړه ........................ ۱٦
د نعمتونو دروازې ځان ته پرانېزه ........................ ۱۷
پام کوه دا موضوع جدي ده! ........................ ۱۸
په دې کار ځان عزتمن کړه ........................ ۲۰

چې لږ نور يې هم درته واضح کړم، که يو انسان خپله ښه وي، تاته ښه نظر کوي، ته هغه ته ښه ښکارې او هغه ستا په اړه مثبت نظر لري.

کله چې ته تېروتنې کوې، ستا له تېروتنو دی تېرېږي، تېروتنو ته دې نه تم کېږي، دا فکر نه کوي چې ستا ټول کارونه ناسم دي، خو هغه انسانان چې تا سره کینه او حسادت لري او ته يې نه خوښېږې، که ته هرڅه وکړې، دوی بيا هم ستا تېروتنو ته ګوري، ښه والي ته دې نه ګوري او ستا ښه والی د دوی هېر وي، هغې باندې هېڅ خيال نه راوړي، خو يوازې هغه څه ته ګوري چې له تا تېروتنې کېږي.

ستا منفي صفتونه دوی پخپلو زړونو کې ځای پر ځای کړي وي او هغه کينه چې ستا په اړه د دوی په زړه کې ده، ته چې هر څومره پرمختګ کوې، د دوی کينه لا پسې زياتېږي.

ته چې هرڅه وکړې، دوی به ستا په اړه بيا هم منفي نظر لري، همدا د ښه او بد انسانانو ترمنځ توپير دی.

ته خپله وګوره، که ښه انسان يې، خلکو ته په ښه نظر ګورې او که نه يې، خلکو ته په منفي نظر ګورې.

نو، ښه انسان شه!

هره ورځ ددې ذکر په ویلو به دې الله پاک غم، تشویش او خپگانونه لرې کړي، ژوند به دې هوسا او گناهونه به دې وبخښي ان شاءالله.
رسول الله ﷺ ته یو کس راغی او ورته یې وویل چې زه پر تا باندې ډېر درود وایم او ما خپل ذکر کې ډېره برخه تاته ځانگړې کړې ده.
رسول الله ﷺ وفرمایل: دا دې د خپگانونو او غمونو لپاره کافي دی.
رسول الله ﷺ فرمایي: څوک چې پر ما یو ځل درود ووایي، الله تعالی به په هغه لس ځله درود ووایي.[١٣٧]
کله چې الله پاک تا یاد کړي، بیا نو څه غم لرې؟
زړه چې دې د الله پاک واک کې دی؛ غم او خپگان به پکې پاتې شي؟
دا درود همېشه د ذکر په شان هره ورځ لږ تر لږه سل ځله وایه:
اللّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

## د خلکو په خبرو خپه یې؟

په دې تشویش کوې چې ولې ځینې خلک زما په اړه ډېر منفي نظر لري؟
ډېر خلک زما په اړه داسې څه وایي چې ما کې هغه نشته، خو خلک دي، له خبرو یې ارام او په امان نه یې.
پوهېږې، هر انسان تاته د خپل نقطې نظره گوري، هر انسان چې څنگه وي، هغسې تاته هم گوري.

---

١٣٧: صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ٢١٩.

کله چې د اللّٰه پاک غضب پر تا لازمي شي، معلومه خبره ده چې هېڅ شی به ستا په ګټه نه وي. ته په داسې یو نظام کې ژوند کوې، چې هرڅه د اللّٰه پاک په اختیار کې دي.
ایا داسې یو شی پېژنې چې د اللّٰه پاک په اختیار او واک کې نه وي؟
کله چې رب له ځانه خپه کوې، فکر نه کوې چې ټول نعمتونه، امکانات او اسباب ښایي ستا په ضد شي او ژوند دې له کړاو څخه ډک شي؟
پخپل اولاد به ځورېږې، مېرمن یا مېړه سره به دې اختلافات ډېر شي او ژوند به دې داسې بې خونده او زړه تنګی شي چې ترې بېزار به یې، خو که هر کار کې د اللّٰه پاک رضا لټوې، د خلکو د حق له خوړلو او حرامو ځان ساتې او یو ریښتینی مؤمن شې؛ ټول اسباب، امکانات او ټول نظام به ستا په ګټه څرخېږي.

## په دې ذکر به دې غم او تشویش لرې شي

ښایي لویه غوښتنه او ارمان دې دا وي چې غمونه او تشویشونه دې له ژونده لرې شي، ارام ذهن، خوشحاله او مطمئن زړه ولرې او په ژوند کې دې برکت پیدا شي.
بله غوښتنه دې دا ده چې اللّٰه پاک درڅخه راضي شي او قیامت کې جنت ته بریالی شې.
که داسې وي یو لنډ ذکر در ښیم، چې په برکت یې اللّٰه پاک دغه ارمانونه پوره کوي.

که ناروغ وې، لومړی له الله پاک څخه د شفاء غوښتنه وکړه، بیا ډاکټر ته ورشه. که کاروبار پیلوې، لومړی له رب مرسته وغواړه او توکل پرې وکړه، بیا اسباب برابر کړه او مخکې ځه. هر کار چې کوې، تر پیل وړاندې له الله پاک مرسته غواړه بیا د هغه کار لپاره گام اخله؛ ځکه ستا زړه له خالق سره نښتی او چې د خپل زړه قبله الله پاک کړې، ټولې ستونزې به دې ورسره حل شي ان شاءالله.

## غواړې هر کار دې په ګټه وي؟

هر وخت په یاد لره چې د هر کار په پای کې دوې پایلې دي، مثبت یا منفي. د عبادتونو ترسره کولو یا نه کولو پایله جنت یا دوزخ دی.

هر کار چې کوې یا به حق وي یا باطل او یا نېک یا بد. د نېکو کارونو بدله خوشبختي او د بدو بیا بدبختي ده.

الله پاک جنت په سختیو، هلو ځلو او په ستړیاوو پوښلی او دوزخ یې د خواهشاتو او شهوتونو په پاللو پوښلی.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ»[۱۳٦]

ژباړه: جنت په سختیو پوښل شوی او دوزخ په شهوتونو.

که د هوس او خواهشاتو پوره کولو پسې لالهانده یې او رب دې هېر کړی، په حقیقت کې پر ځان د الله پاک غضب لازمي کوې.

---

۱۳٦: صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ۲۸۲۲.

د انسانانو د زړونو واک له الله پاک سره دی او که ته یې راضي کړې، د انسانانو زړونو کې دې مینه اچوي او تاته یې مایله کوي.
ډېر هغه راز دی چې ډېر کسان پرې ځان نه پوهوي او د خلکو په راضي کولو ستړي دي، خو نه پوهېږې لومړی باید څوک راضي کړای شي.

## د حاجت په وخت دا کار کوه

الله پاک انسان کمزوری پیدا کړی که پیاوړی؟
کمزوری؛ ځکه چې پخپله الله تعالی فرمایي:
﴿وَخُلِقَ الإِنْسَانُ ضَعِيفًا﴾[۱۳۵]
ژباړه: او انسان کمزوری هست کړای شوی دی.
ښه، چې انسان کمزوری دی، دوامداره مرستې ته اړتیا لري که نه؟
بلکل، اړتیا لري.
الله پاک چې مرسته کوي، تاته ګوري او که ستا زړه ته؟
طبیعي ده چې زړه ته دې ګوري.
د همدې لپاره دې د زړه قبله د الله پاک رضا وټاکه.
هر وخت چې له ستونزې سره مخامخ کېدې او جدي مرستې ته دې اړتیا وه، خپلې قبلې ته ستنېږه، چې هغه الله پاک دی.
که وړې وې، لومړی له الله پاک مرسته غواړه، بیا د روزي پیدا کولو په لټه کې شه.

۱۳۵: سورة النساء، ۲۸ آیت.

## ګټور راز چې ژوند خوندور کوي

کله چې د ځان ستاینه اورې څه احساس کوې؟

ایا د خلکو تشویق او هڅونې دې غره کوي او یوازې د همدې لپاره سترې یې چې خلک درته شاباسی ووایي؟

که داسې ونه شي بیا ناهیلی او خپه کېږې او احساس کوې چې ارزښت دې کم شوی؟

دا ښه خبره ده چې د خلکو خیال وساتې او په نېک نوم یاد شې، خو دا دې د ژوند موخې په توګه مه ټاکه؛ ځکه انسانان نن یو سبا بل ډول وي. ستا اهداف باید سپېڅلي وي، یوازې د خلکو لپاره نه وي.

دومره په انسانانو تکیه مه کوه، چې که بله ورځ د دوی پام درباندې نه وي ژوند دې بې خونده شي.

ښه خلک ډېر دي، خو ګڼ داسې هم دي چې د خپل طبیعت له مخې او د خپلو ګټو په اساس تا سره چلند کوي.

نن پرې ګران یې سبا یې ښایي له پامه بد شې، نو که تا ور پورې زړه تړلی وي د هغوی په تللو به دې حالت څه وي؟

که غواړې چې بې ځایه ونه ځورېږې او خوندور ژوند ولرې، له خلکو دې طمع ډېره ښکته ساته.

ټول فکر او تشویش په دې کوه چې الله پاک ناراضه نه کړې. تل د خپل رب د راضي ساتلو هڅه کوه، هغه تر ټولو غوره تدبیر نیوونکی دی.

همدا اوس لمونځ پیل کړه، باور وکړه په دنیا کې به هم نېکمرغه شې او په اخرت کې به هم بریالی شې ان شاءالله.
که دې لا هم زړه نه کېږي، باید پوه شې چې شیطان درباندې برلاسی شوی دی او نه دې پرېږدي چې خپل رب ته سجده وکړې، پخه اراده وکړه چې د شیطان خبره نه منم او خپل رب ته رجوع کوم.
دا ځان غولول دي چې د لمونځ په نه کولو فکر کوې، ارام کېږې، ته یو څه وخت دوامداره لمونځ وکړه بیا به د ارام په خوند پوه شې.
د ګناه او د شیطان په لاره تللو کې به څه ارام وي، سکون او ارام خو د الله په عبادت او د لمونځ په کولو ترلاسه کېږي.
رسول الله ﷺ به بلال رضي الله عنه ته ویل: «أَقِمِ الصَّلَاةَ يَا بِلَالُ أَرِحْنَا بِهَا»[١٣٤]
ژباړه: اې بلاله! لمونځ قایم کړه، موږ ته پرې راحت راکړه.
خو ته فکر کوې چې د لمونځ په نه کولو راحت موندلی شې؟
لمونځ تر شهادت کلمې وروسته د اسلام تر ټولو ارزښتمن رکن دی.
هر بل عمل کې وقفه شته، خو لمونځ کې په هېڅ صورت اجازه نشته چې له جدي اړتیا پرته یې قضا کړې.
آن که د مرګ په بستر پروت یې، د سترګو په اشارو به لمونځ کوې، خو د پرېښودلو اجازه یې نشته.

١٣٤ : مشکاة المصابیح، د حدیث شمېره: ١٢٥٣.

﴿مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ﴾[128]

ژباړه: تاسې څه شي دوزخ ته بوتلئ؟

هغوی به ځواب ورکړي: ﴿قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ﴾[129]

ژباړه: هغوی به ووایي، موږ له لمونځ کوونکو څخه نه وو.

﴿وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ﴾[130]

ژباړه: او مسکین ته مو خواړه نه ورکول.

﴿وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ﴾[131]

ژباړه: او د حق پر خلاف خبرو جوړونکو سره په یو ځای کېدو موږ هم خبرې جوړولې.

﴿وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ﴾[132]

ژباړه: او د جزا ورځ مو دروغ ګڼله.

﴿حَتَّىٰ أَتَانَا الْيَقِينُ﴾[133]

ژباړه: تر دې چې موږ له هغه باوري شي (مرګ) سره مخامخ شوو.

بیا به مو دا افسوس څه ګټه وکړي چې الله مه کړه که د دغو نېکو کارونو د پرېښودو له کبله دوزخ ته ځو؟

ایا لمونځ دومره سخت کار دی چې له کبله یې دومره لویه بدبختي ومنو؟

---

۱۲۸: سورة المدثر، ۴۲ آیت.

۱۲۹: سورة المدثر، ۴۳ آیت.

۱۳۰: سورة المدثر، ۴۴ آیت.

۱۳۱: سورة المدثر، ۴۵ آیت.

۱۳۲: سورة المدثر، ۴۶ آیت.

۱۳۳: سورة المدثر، ۴۷ آیت.

ځینې وخت یوه ستونزه ډېره کوچنۍ وي او موږ په ذهن کې تر اندازې ډېر ځای ورکوو، خو کله چې پېښه شي یا هغه حالت تېر شي، ډېر اسانه او عادي وي خو موږ یې په اړه په تشویش کولو ځان ځپلی وي.
ته له ځان سره فکر وکړه چې څومره ډېر داسې حالت دربانديې تېر شوی چې په اړه یې ډېر لالهانده وې، خو چې هغه حالت راغی عادي تېر شو.
ډېری داسې شیان یا کارونه دي چې ته ورته اوس هم تشویش لرې، خو که پام ورته وکړې دا به داسې څه وي چې ښایي هېڅ پېښ نه شي.
لس سلنه تشویشونه په ژوند کې وي، خو د دغه لس سلنه تشویشونو له امله موږ خپل پاتې ۹۰ سلنه ژوند بې خونده کړی وي.
د پرون او سبا په تشویشونو دې خپل حال برباد کړی دی.
مه پرېږده چې دا کوچني تشویشونه تا د هغو لویو نعمتونه یادولو څخه بې پروا کړي، چې مهربان رب درکړي دي. تل د خپل رب شکر ادا کوه، شته نعمتونه به دې برکتي او لا زیات کړي.

## دا بې پروایي دې دوزخ ته بیایي

لږ فکر وکړه، څومره سخت کارونه دي چې په پوره لېوالتیا او زحمت ګاللو یې ترسره کوې سره له دې چې هېڅ اخروي ګټه پکې نه وي، خو چې د لمانځه وخت راشي څو رکعته لمونځ چې تر ټولو اسانه کار دی داسې دربانديې دروند شي لکه غر چې چپه کوې.
ایا پوهېږې، د لمونځ نه کول څومره سخت عذاب لري؟
په اخرت کې به له دوزخیانو پوښتنه کېږي:

ژباړه: په حقیقت کې نېکي بدۍ له منځه وړي.

د رسول الله ﷺ دا حدیث دې نه دی اورېدلی چې فرمایلي یې دي: «التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لاَ ذَنْبَ لَهُ» [127]

ژباړه: له ګناه څخه توبه کوونکی داسې دی، لکه هېڅ ګناه چې یې نه وي کړې.

که هر څومره ګناهونه دې کړي وي، الله پاک ته ور ستون شه، ټول ګناهونه دې درته بخښي ان شاءالله؛ ځکه هغه بخښونکی رب دی.

## هسې خپل ژوند بې خونده کوې

د ژوند له سختیو شکایت لرې او زړه دې تور شوی؟

یو ځوان زوړ سړي ته شکایت وکړ، چې د ژوند حالات سخت دي او ستونزې دومره ډېرې دي چې له ژونده یې زړه را تور کړی، په ملا یې مات کړی یم او هېڅ نه پوهېږم چې څه وکړم.

هغه ورته په ځواب کې وویل: ما هم خپل ټول عمر د هغه څه په اړه په تشویش او وېره تېر کړ چې هېڅ پېښ نه شول.

ما به تشویش کاوه چې فلانۍ ستونزې سره مخامخ نه شم او د کوم کارونو په اړه چې مې تشویشونه لرل، هېڅ را پېښ نه شول، خو ما پرې خپل ژوند ضایع کړ.

که د هغه څه په اړه سر له اوسه تشویش لرې چې ښایي هېڅ پېښ نه شي، ته هم د عمر په وروستیو کې همدغه ډول پښېمانه کېږې.

---

۱۲۷: سنن ابن ماجه، د حدیث شمېره: ۴۲۵۰.

## له شیطان سره اوږده جګړه

په دوامداره ډول هڅه کوه چې له ګناه څخه ځان وساتې، خو که بیا هم ګناه درڅخه کېده، ذهن ته دا راوله چې له شیطان سره په اوږدمهاله جګړه کې له یو کمین سره مخامخ شوې او یو قدم شاتګ دې وکړ، ټول جنګ دې نه دی بایللی. ویښ اوسه او پام ساته چې بیا درباندې حمله کوي او دا ځل باید اجازه ورنه کړې چې درباندې برلاسی شي.

دغه ابدي دښمن هغه وخت جګړه ګټي چې له خپل رب څخه دې ناهیلی کړي. له ګناه وروسته داسې احساس ولرې چې الله پاک دې نه بخښي او دعا دې نه قبلوي او توبې ته لېوالتیا دې کمه شي، خو په حقیقت کې داسې نه ده!

دا د شیطان وسوسه ده چې ته یې له خپل ربه نا امیده کړی یې، حقیقت دا دی چې الله پاک دې همېشه دعا قبلوي.

له هرې ګناه وروسته سملاسي اودس کوه، دوه رکعته نفل لمونځ کوه، الله پاک ته کېنه او د خپلې ګناه څخه توبه وباسه.

په هغو ګوتو استغفار ویل دې وشمېره چې ګناه دې پرې کړې. په هغو سترګو قران کریم تلاوت کړه چې ګناه دې پرې کړې.

هغه اندامونه د الله پاک په عبادت کې بوخت کړه او استفاده ترې وکړه چې په ګناه دې بوخت کړي وو. که دا وکړې الله پاک زېری درکړی:

﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾[126]

---

۱۲٦: سورة هود، ۱۱۴ آیت.

ددې موخه دا نه ده چې موږ دې ګناه ته په تشویش شو. موږ انسانان کمزوري یو او پیغمبرانو پرته داسې څوک نشته چې ګناه ترې نه کېږي.
الله پاک موږ د توبې دروازې تر هغې پرانیستې ترڅو چې له موږ څخه ګناه کېږي او ترڅو چې موږ ساه په تن کې وي.
په داسې حالت کې باید مسلمان له خپل رب څخه ناهیلی نه شي او د هرې کوچنۍ او لویې ګناه څخه وروسته سملاسي توبه وکړي.
کله چې ګناه درڅخه کېده دا خبره ذهن ته راوله چې الله پاک ولې خپل نوم یا صفت غفور ټاکلی دی؟
غفور یعنې بخښونکی؛ بخښنه چاته کوي؟ ګنهګار ته.
یو څوک چې ګناه ونه کړي هغه ته د بخښنې غوښتلو ضرورت شته؟
الله پاک پخپل کرم انسان داسې مخلوق پیدا کړی، چې له شیطان سره یې دوښمني تر قیامته ادامه لري.
کله نا کله شیطان په دغه جګړه کې پر تا برلاسی شي او پښه دې وښویېږي او ګناه درباندې وکړي، ددې لپاره چې له خپل رب څخه دې ناهیلی کړي، خو ته باید نا هیلی یا تسلیم نه شې؛ ځکه مهربان او بخښونکی رب لرې چې په توبه کولو دې تر تا ډېر خوشحالیږي.
توبه یوازې د ګناه د پاکولو وسیله نه ده، بلکې د زړه د نېکمرغۍ او روحاني سکون غوره لاره هم ده.
نو په توبه کې هېڅکله هم ځنډ مه کوه؛ ځکه چې هره شېبه الله تعالی ته د نږدې والي لپاره یو فرصت دی چې بیرته ور وګرځې.

## اللّٰه پاک توبه کوونکي ډېر خوښوي

څه شی دې له دې منع کوي چې خپل رب ته لاس لپه کړې؟

له گناه د خجالتی احساس که ناهیلي؟

اللّٰه پاک هغه انسان خوښوي چې ډېر توبه کوونکی وي.

توبه څوک ډېره کوي؟

هغه چې گناه ترې ډېره کېږي.

﴿وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ﴾[١٢٣]

ژباړه: او جنت به د پرهېزگارانو لپاره نږدې راوستل شي، لرې به نه وي.

﴿هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ﴾[١٢٤]

ژباړه: (دوی ته به وویل شي) دا هغه څه دي چې له تاسې سره يې ژمنه کېده، د هر هغه چا لپاره چې (له گناه خپل رب ته) ډېر رجوع کوونکی او ډېر (د شرعي حدودو) ساتونکی و.

أواب چاته وايي؟

سعيد بن المسيب رحمه اللّٰه وايي: هغه څوک چې په غیر قصدي ډول گناه کوي، ورپسې توبه باسي، بیا گناه ترې کېږي او بیا توبه کوي.

شعبي او مجاهد ويلي دي: أواب هغه څوک دی چې په یوازېتوب کې خپل گناهونه ذهن ته راولي او له خپل رب څخه بخښنه غواړي.[١٢٥]

نو بیا څه شي له توبې کولو منع کړی يې؟

---

١٢٣: سورة ق، ٣٢ آيت.

١٢٤ سورة ق، ٣٣ آيت.

١٢٥: تفسير البغوي.

## ناهیلی او یوازې شوی یې؟

کله چې تکې تنها پاتې شوې او د یوازېتوب احساس دې وکړ، ستونزو را ګیر کړې، ملګرو درڅخه لاس واخیست، کورنی غړو یوازې پرېښودې او هېڅوک نه وو، دا فکر همېشه ځان سره کوه چې الله پاک خو شته.

ابوبکر صدیق رضي الله عنه له رسول الله ﷺ سره په غار ثور کې د قریشو له مشرکینو پناه شوي وو. ابوبکر رضي الله عنه اندېښمن و چې که مشرکین یې ووینې ممکن رسول الله ﷺ ته ضرر ورسوي.

همدا اندېښنه یې له خوږ نبي ﷺ سره شریکه کړه، قران کریم فرمایي چې هغه مبارک ورته وفرمایل: ﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ۖ﴾[۱۲۲]

ژباړه: مه خپه کېږه، الله له موږ سره دی.

که د الله پاک په مرسته تکیه یې او بشپړ باور پرې ولرې، هېڅ ځای کې به یوازې پاتې نه شې او لومړی مرستندوی به دې الله پاک وي.

کله چې دې زړه تش و، مرستې ته اړ وې او له خلکو دې طمع پرې وه، نو خپل رب ته ستون شه او همېشه دا ذهن کې ساته چې که نور هېڅوک هم نه وي، الله پاک خو شته. الله پاک تر ټولو ښه ملاتړ کوونکی او تدبیر نیوونکی دی.

زموږ رب عزوجل داسې نظام جوړ کړی، چې ټول د خپلو بندګانو په ګټه څرخوي، خو که ایمان پرې ولرې او ربښتینی مؤمن شې.

ولې باید خپه او ناهیلی شې چې کله دې له رب سره اړیکه جوړه وي.

---

۱۲۲: سورة التوبة، ۴۰ آیت.

ځینې خلک یوازې په اسبابو پورې زړه تړي، خو زکریا علیه السلام خپل زړه الله پاک پورې تړلی و او توکل یې پرې کړی و.
که انسان یوازې اسبابو پورې زړه وتړي، الله پاک یې اسبابو ته پرېږدي، خو که الله پاک پورې زړه وتړي، په هغه توکل وکړي او ډاډه وي چې هرڅه د الله پاک په لاس کې دي، اسباب او له ستونزې د وتلو لار ورته الله عزوجل برابروي.
په الله پاک داسې توکل کوه لکه اسباب چې هېڅ شی هم نه وي، بیا اسباب داسې برابروه او استفاده ترې کوه لکه همدغه چې هرڅه وي.
رسول الله ﷺ ته یو صحابي ورغی، هغه مبارک ترې پوښتنه وکړه چې خاروی دې څه کړ؟ هغه وویل الله پاک ته مې پرېښود او زه ترې راغلم. مدني جانان ورته وویل چې لومړی د خاروي رسۍ په ونه پورې وتړه، بیا یې الله تعالی ته پرېږده چې ورک نه شي.
اسباب کم مه ګڼه او له پامه یې مه غورځوه، خو تر هرڅه لومړی په الله پاک توکل کوه بیا انساني کوښښ جاري ساته.
که اولاد نه لرې یا کومه بله غوښتنه لرې، د زکریا علیه السلام په شان له الله پاک څخه مه ناهیلی کېږه، دعا ترې غواړه، د خیر زېری به درباندې کېږي ان شاءالله.
مریم علیها السلام ته یې په معجزوي ډول اولاد ورکړ او ابراهیم علیه السلام ته یې په لوړ عمر کې اولاد ورکړ؛ تاته یې هم درکوي که پخپل رب پوره باور ولرې، ناهیلی نه شې او د طبي درملنې تر څنګ دوامداره دعا وکړې.

نو که غواړې یو بریالی انسان اوسې دوامداره هڅې کوه، کوښښ کوه او صبر ولره.
د هر مهارت یا هر کار زده کړې لپاره یوازینۍ او غوره لار تمرین یا تکرارې هغه کار ترسره کول دي، چې څومره ډېر د یو کار تمرین کوي په همغه اندازه پکې پیاوړی او تکړه کېږې.

## زېری درکوم

زوړ شوی و، هډوکي يې کمزوري او ویښتان يې سپین شوي وو او مېرمن يې هم زړه وه، خو بیا هم له الله پاک څخه نا هیلی نه و او همېشه به يې دا دعا کوله:

﴿فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا﴾[120]

ژباړه: ماته پخپله ځانګړې لورینه یو وارث را په برخه کړه.

که دنیوي اسبابو او طب له اړخه ورته وګورې، زوړ مېړه او زړه ښځه د اولاد زېږولو ډېر کم بخت لري، خو الله پاک دغه پیغمبر ته چې پخپل رب يې بشپړ باور درلود زېری ورکوي:

﴿يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَىٰ﴾[121]

ژباړه: اې زکریا! موږ تاته د یو هلک زېری درکوو چې نوم يې یحیی دی.
زکریا علیه السلام پوهېدلو چې په الله پاک باور يې پایله لري او ناهیلی به پاتې نه شي، د همدې لپاره يې له دعا لاس نه اخیست.

---

۱۲۰: سورة مریم، ۵ آیت.

۱۲۱: سورة مریم، ۷ آیت.

له دغه تکرار او نظم څخه داسې درک کېږي چې الله پاک پرمختګ، پیاوړي کېدل او نور ګټور کارونه په دوامداره او وار وار د یوه کار ترسره کولو، زحمت ګاللو او صبر پورې تړلي دي.
دا قاعده په یاد ساته چې تر هغې ناکام نه یې چې دوامداره هڅې کوې، بلکې هغه وخت ناکامېږې چې هڅې ودروې او ناهیلی شې.
راحت طلبه او تنبل خلک دې بریالي لیدلي؟
بریا خو د ستړیا او کوښښ بل نوم دی، نو ته یې څنګه په ارام او لنډ مزل کې لټوې؟
که دې موخه د قران کریم زده کړه یا حفظ کول وي، ایا داسې څوک پېژنې چې په یو یا دوه ځل لوستلو یې قران کریم زده یا حفظ کړی وي؟
هره ورځ به وخت ځانګړی کوې او هر آیت به تر سل ځله تکراري وایې تر دې چې حافظه کې دې ثبت شي او بیا به یې وخت ناوخته تکراروې.
داسې څوک پېژنې چې په یوه میاشت ورزش یې اندام جوړ شي؟
تر شپږو میاشتو یا یو کال یې اغېزې پر بدن نه ښکاري، خو که ته دوه میاشتې وروسته بدلون ونه وینې، ښایي بس یې کړې او ستړی شې او که صبر وکړې او دوامداره ورزش وکړې د وخت په تېرېدو یې خامخا پایله ترلاسه کوې.
ښوونځی ۱۲ کاله لوستل کېږي، بیا انسان ترې فاغرېږي. پوهنتون هم همداسې له څلور کلن کوښښ وروسته د فراغت سند درکول کېږي.
خو که ته صبر نه لرې او دا هرڅه چټک غواړې، ایا ممکنه ده؟

## که بریا غواړې دا یې شرط دی

ولې الله پاک پر موږ شپه او ورځ کې پنځه وخت لمونځ فرض کړی دی؟ د نورو عبادتونو او اذکارو په اړه احادیثو مبارکو کې د درې ځلې ویلو ټینګار شوی. تر شا یې حکمت څه دی؟

ځکه چې له دې سره د انسان په ژوند کې نظم یا ترتیب راځي.

هره ورځ څو ځله اندامونه وینځل او په ټاکل شوي وخت، په معلومه اندازه عبادت ترسره کول تر ټولو لوی نظم دی.

دغه نظم د ژوند په نورو اړخونو اغېز او د ټولو چارو نظم کې مرسته کوي.

هر سهار وختي له خوبه پاڅېدل، یا ورځ وختي پیلول، د هر بریالي انسان عادت وي او د شخصیت د پیاوړي کولو او د وخت مدیریت ټول ماهرین په دې کې یو نظر دي چې سهار وختي ویښېدل د خوندورې ورځې او د چارو ښه مدیریت لپاره لازمي او غوره عنصر دی.

غیر مسلمان خو به د دنیایي موخو لپاره وختي پاڅېږي، خو مسلمان ته خو الله پاک امر کړی چې ورځ وختي په لمونځ او په اذکارو پیل کړه.

رسول الله ﷺ خپل امت لپاره دعا کړې چې سهار وخت یې برکتي شي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «اللَّهمَّ بارِكْ لأمَّتي في بُكورِها.»[١١٩]

ژباړه: یا الله زما د امت لپاره سهار کې برکت واچوه.

١١٩: سنن أبي داود، د حدیث شمېره: ٢٦٠٦.

﴿تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ﴾[١١٤]

ژباړه: د هغو په څېرو کې به ته د خوښۍ نښې لیدای شې.

﴿يُسْقَوْنَ مِنْ رَحِيقٍ مَخْتُومٍ﴾[١١٥]

ژباړه: په هغو به سرپټې شراب څښل کېږي.

﴿خِتَامُهُ مِسْكٌ ۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ﴾[١١٦]

ژباړه: چې د مشکو مهُربه پرې لګیدلي وي او څوک چې د نورو نه میدان ګټل غواړي، ددې شي د ګټلو په مسابقه کې دې هڅه وکړي.

﴿وَمِزَاجُهُ مِنْ تَسْنِيمٍ﴾[١١٧]

ژباړه: او په دې شرابو کې به تسنیم ګډ وي.

﴿عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ﴾[١١٨]

ژباړه: دا یوه چینه ده چې د هغې له اوبو سره مقرب خلک شراب څښي.

سبحان الله!

اوس ته ووایه چې دنیا د سیالۍ لپاره ده او که اخرت؟

د کوم یو لپاره باید سیالي وکړو؟

خوښه ستا ده چې لنډمهاله دنیا غواړې او که تلپاتې جنت!

هوښیار هغه دی چې د دنیا پر ځای د اخرت د جنت لپاره سیالي وکړي.

---

١١٤: سورة المطففين، ٢۴ آیت.

١١٥: سورة المطففين، ٢۵ آیت.

١١٦: سورة المطففين، ٢٦ آیت.

١١٧: سورة المطففين، ٢٧ آیت.

١١٨: سورة المطففين، ٢٨ آیت.

که ته تلوسه، هیله او ارمان ونه لرې، کور کې به کرار پروت یې او لټې به دې د ژوند ټول فرصتونه ضایع کړي وي.

خو پوښتنه دا ده چې ایا الله پاک یوازې د همدغه خواهشاتو او ارمانونو پوره کولو لپاره موږ پیدا کړي یو او یوازې د همدې لپاره سیالي وکړو؟

ځواب یې الله تعالی فرمایلی:﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ۚ﴾[110]

ژباړه: نو تاسې د ښېګڼو په لوري په ځغاسته شئ.

﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾[111]

ژباړه: پر هغه لاره په منډه وځغلئ چې ستاسې د پروردګار د بخښنې او د هغه جنت خوا ته تللې ده چې هغه (جنت) لکه د اسمانونو او ځمکې په شان پراخ دی او هغه د پرهېزګارانو لپاره تیار کړای شوی دی.

هغه کسان چې دغه کارونه کوي، د الله پاک بخښنې لپاره، د جنت لپاره، په نېکیو کې هڅې کوي او په دې کې سیالي کوي.

د دوی په اړه الله پاک فرمایي: ﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ﴾[112]

ژباړه: هرو مرو به نېکان په زیاتو خوندونو کې وي.

﴿عَلَى الْأَرَائِكِ يَنْظُرُونَ﴾[113]

ژباړه: په هسکو څوکیو ناست ننداره کوونکي به وي.

---

۱۱۰: سورة البقرة، ۱۴۸ آیت.

۱۱۱: سورة آل عمران، ۱۳۳ آیت.

۱۱۲: سورة المطففین، ۲۲ آیت.

۱۱۳: سورة المطففین، ۲۳ آیت.

مور او پلار خدمت، ښو اخلاقو او نورو نېکو کارونو ډکې کړه، چې قیامت کې یې د پایلې په لیدو ووایې:
﴿إِنِّي ظَنَنْتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ﴾[۱۰۹]
ژباړه: ما انګېرلې وه چې حتما له خپل حساب سره یوځای کېدونکی یم.
نن هغه ورځ ده چې د خپل اخرت لپاره د ژوند کتاب له نېکیو ډک او ګناهونه ترې په توبه پاک کړې.
که دې د کتاب پاڼې له ګناهونو ډکې وي، په توبې یې داسې پاک کړه لکه پنسل پاک چې د کتابچې له پاڼو لیک پاکوي.

## څنګه ټول ارمانونه پوره کړم؟

د هېڅ انسان زړه له شا په شا تلوسې، هیلې او ارمان خالي نه دی. د دنیا په مینه یې هېڅکله تنده نه خړوبېږي، ترڅو چې پرې خاورې انبار شوې نه وي. کله چې کوچنی وې یو بایسکل دې ارمان و او هغه دې ترلاسه کړ. بیا دې د موټر سایکل تلوسه پیدا شوه او د هغې له پوره کېدو سره د موټر علاقه درباندې زوروره شوه. شپه او ورځ دې خواري وکړه دې موخې ته هم ورسېدې، خو ورسره دې د ارمانونو جریان ونه درېد، چې یو ارمان دې پوره کېږي بل غواړې او لا هم همداسې ادامه لري.
انسان په طبیعي توګه همداسې دی او باید هڅانده او کوښښ کوونکی وي؛ ځکه له دې پرته ژوند ادامه نه شي کولای.

---

۱۰۹: سورة الحاقة، ۲۰ آیت.

## قيامت کې له خجالتۍ ځان وساته

ستا ژوند هغه کتاب دی چې د قيامت په ورځ به يې د الله تعالى په مقابل کې پخپله لولې.

د حشر په ورځ به دې عملنامه کې ټول هغه څه ليکل شوي وي، چې په دنيا کې دې ترسره کړي دي او پخپله به دې پايله ګورې.

له اندازې زيات کوښښ کوه چې د ژوند د کتاب پاڼې دې له ګناه پاکې وي او مه پرېږده چې کتاب دې له داسې عملونو ډک وي چې په ليدو يې خجالته او شرمنده کېږې.

الله مه کړه د هغو کسانو له ډلې نه شې چې د قيامت په ورځ به وايي:

﴿يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ﴾[١٠٦]

ژباړه: کاشکې زما عملنامه ماته نه وای راکړل شوې.

﴿وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ﴾[١٠٧]

ژباړه: او زه نه وای پوهېدلی چې زما حساب څه دی.

هڅه کوه د هغه کسانو په ډله کې ځان راولې چې غږ به کوي:

﴿هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ﴾[١٠٨]

ژباړه: واخلئ ولولئ زما عملنامه.

که غواړې چې قيامت کې کامياب شې د ژوند د کتاب يا عملنامې پاڼې دې د هرې ورځې په استغفار، تسبيح، دعاګانو، صدقه، نېک چلند، د

---

١٠٦: سورة الحاقة، ٢٥ آيت.

١٠٧: سورة الحاقة، ٢٦ آيت.

١٠٨: سورة الحاقة، ١٩ آيت.

لوستونکی گټي، همغومره ثواب به تاته هم درکول کېږي؛ ځکه ته ددې سبب یا لامل شوې چې هغه کس دغه نېک عمل وکړ، نو فېسبوک، ټېک ټاک، انسټاگرام او ټولنیزې رسنۍ د خیر خپرولو سرچینې کړه.
ټولنیزې رسنۍ د جاریه نېکو عملونو تر ټولو غوره وسیلې دي. ته بنایي وفات شې، خو هغه ګټورې ویډیوګانې او مطالب چې تا په ټولنیزو رسنیو کې خپاره کړي، خلک به یې دوامداره ګوري او ثوابونه به یې در رسېږي.
دومره ثوابونه به ترلاسه کړې چې شمېر به یې نه کېږي، د قیامت په ورځ به الله پاک درته عملنامه درکړي، داسې عملونه به پکې لیکل شوي وي چې تا به نه وي ترسره کړي، خو ستا له امله بل کس ترسره کړي وي او ثوابونو کې به یې ته شریک یې.
کله چې ته د نورو د نېکۍ لامل شې، نو په حقیقت کې د خپل ځان لپاره د اخرت سرمایه جوړوې.
ددې انګېرنه اوس بنایي سخته وي، خو په هغه وخت کې یې په ارزښت پوهېدای شې چې قیامت کې الله مه کړه داسې احساس کوې چې ناکام شوی یې او دوزخ ته ځې؛ خو عملنامه درکړل شي چې پکې الله پاک د نورو خلکو نېک عملونه تاته لیکلي وي او جنت ته روان شې.
هر څوک چې ستا له امله نېک عمل وکړي، د هغه نېکۍ ثواب به درته هم ثبتېږي او دا د اخرت لپاره یوه لویه پانګه ده؛ ځکه چې د نورو نېک عملونو لامل کېدل داسې پانګه ده چې هېڅکله ضایع نه کېږي. نو هڅه وکړه چې هره ورځ لږ تر لږه یوه نېکه خبره خپره کړې، که په لفظ وي او که په عمل وي.

د دغه ډول خلکو کارنامو ته چې وګورې پخپله هېڅ لاسته راوړنې نه لري، خو د خير په غونډۍ ناست په نورو نيوکې کوي.
دوی لږ تر لږه په دې هم ځان نه پوهوي چې قران زموږ د خالق کلام دی او هغه تر هر چا د خپل بنده په چارو ښه پوهېږي او داسې نظام يې ورته د دين په توګه غوره کړی چې سراسر د انسان په ګټه دی.
اسلام چېرې د ساينس او پرمختګ مخالفت کړی چې دوی يې داسې انګېري؛ بلکې اسلام خپل پلويان د هر هغه څه لپاره هڅولي چې بشريت ته يې ګټه رسېږي او په بدل کې يې الله پاک د اجر او بدلې ژمنه هم کړې ده.

## د نورو د نېکو کارونو ثواب ته وګټه

خپلې ټولنيزې رسنۍ د خير خپرولو لپاره کاروه. که يوه نېکه خبره خپره کړې او څوک پرې عمل وکړي، د هغه تر څنګ به يې ثواب تاته رسېږي. ته به هغه نه پېژنې او خبر به هم ترې نه يې، خو د هغه نېک عمل په ثواب کې به ته هم ورسره شريک يې.
رسول الله ﷺ فرمايي: «مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ»[١٠٥]
ژباړه: څوک چې د يو خير کار لامل (سبب) شو، همدومره ثواب ګټي څومره چې فاعل (اصلي ترسره کوونکی) ګټي.
يعنې که په ټولنيزو رسنيو کې پوسټ وکړې، چې رسول الله ﷺ باندې درود ويل دومره ثواب لري. يو لوستونکی درود ووايي، څومره ثواب چې

---

١٠٥: صحيح مسلم، د حديث شمېره: ١٨٩٣.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾[١٠٤]

ژباړه: او (اې محمده ﷺ) کله چې ته وګورې چې خلک زموږ په آيتونو کې نقطې لټوي، نو د هغو له څنګ نه پاڅېږه، تر دې پورې چې هغوی دا بحثونه پرېږدي په نورو خبرو پيل وکړي. او که کله شيطان تا په هېره کې واچوي، نو چې څه وخت دا خطا احساس کړې، له هغه وروسته بيا د دې ظالمانو څنګ ته مه کېنه.

يعنې کوم ځای کې چې ته کېنې او هلته نعوذبالله د الله او د رسول سپکاوی کېږي، يا هلته د دين بې احترامي کېږي، له هغوی څخه پاڅېږه. که داسې ونه کړې، ته به هم د هغوی په ډله کې حساب شې.

له بده مرغه ځينو خلکو ته ځانونه په دې روښنفکره او پرمختللي ښکاري، چې په ديني مسائلو ملنډې ووهي يا ديندراه خلک وروسته پاتې ګڼي.

دوی فکر کوي چې دين د وروسته پاتې کېدو لامل دی او که پرمختګ غواړې، نو د غرب په لار به ځې چې دين يې له ورځني ژوند او سياست څخه جلا کړی او عبادت يوازې عبادت ځايونو پورې محدود بولي، خو چې د اسلام په اړه ترې پوښتنې وکړې له ورايه ښکاري چې له نورو اورېدلې خبرې زمزمه کوي او د اسلام په اړه مطالعه او معلومات يې په نشت حساب وي، خو ځانونه يې د فيلسوفانو کوي.

---

[١٠٤]: سورة الانعام، ٦٨ آيت.

## له داسې خلکو سره ملګرتیا مه کوه

له هغه چا سره ملګرتیا مه کوه او مجلسونو کې ورسره مه کېنه چې د اللّٰه پاک او د رسول اللّٰه ﷺ احترام نه لري او مجلسونه یې ټول د دنیا وي او په دیني مسائلو ملنډې وهلو ورته ځان هوښیار او روشنفکره ښکاري.

له هغو ځان ساته چې هرڅه ته له منفي زاویې ګوري او مثبت نظر ترې ډېر کم اورېدل کېږي او مثبته خبره په منفي بدلوي.

له هغوی لرې ګرځه چې شپه او ورځ په لهو و لعب کې اخته دي او د اللّٰه تعالی او د هغه د دین خیال نه ساتي.

هغوی سره ملګرتیا مه پاله چې په پرمختګ دې خپه کېږي؛ ځکه داسې خلک ستا وړ نه دي.

له هغه چا سره ملګرتیا کوه او وخت ورسره تېروه چې دیندار وي، له اللّٰه تعالی څخه ډارېږي، احترام درته لري، ارزښت درکوي او کبرجن نه وي.

له داسې خلکو سره په ملګرتیا پرمختګ کوې او ژوند دې خوندور کېږي، خو هغه انسانان چې په لهو و لعب اخته او اهل باطل دي، له ځان سره تا هم بدبخته کوي.

د قران کریم په دې آیت کې له دغه ډول خلکو سره ناستې په اړه اللّٰه پاک څومره په صراحت امر کړی او دوی یې ظالمان بللي دي.

﴿إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾[103]
ژباړه: مګر دا چې څوک له روغ یا سپېڅلي زړه سره الله ته ورغلی وي.
زړه هغه وخت روغ وي چې له شرک، کینې، کبر، غرور، ظلم، ناوړه اخلاقو، بې ځایه خبرو او له نورو ناوړو عادتونو څخه خالي وي.

## یوه خبره چې ژوند دې بدلولی شي

که دې دنیا ټوله وګټله، ان میلیاردر شوې، خو الله تعالی درڅخه راضي نه و، ته تر ټولو لوی تاوان کوونکی یې.
که دې هېڅ نه لرل، خو الله پاک درڅخه راضي و ته تر ټولو لوی ګټونکی یې؛ ځکه د ټولو خزانو، د ژوند ټولو اسبابو، د ځمکې، اسمانونو، د پټو او ښکاره خزانو مالک الله تعالی دی.
بیا نو د څه په اړه تشویش لرې؟
دنیا او مافیها له خپل رب څخه بې پروا کړی یې؟
د دنیا برخه دې مه هېروه، خو د الله تعالی رضا تر هرڅه لومړۍ ده.
الله پاک خپلو نېکو بندګانو ته له داسې ځایه روزي ورکوي، چې ستا به هېڅ طمع نه وي.
د الله تعالی رضا او له هغه سره پیاوړې اړیکه پالل ربښتینې پانګه ده.
که یوازې د دنیا مینه کې غرق یې او الله پاک دې هېر کړی، داسې ورځ را روانه ده چې هرڅه به دې نورو ته پاتې وي او ته به ترې ځې، هلته دې یوازې نېک عملونه پکاربېږي او بس.

---

۱۰۳: سورة الشعراء، ۸۹ آیت.

## زړه له دې ناروغيو وژغوره

کله دې چې خپل مسلمان ورور ليده، تر ځان يې غوره ګڼه.

که د کبر احساس دې کاوه برعکس کار يې کوه، چې دغه احساس دې له زړه ووځي.

که د چا په اړه د کم ارزښتۍ احساس درته پيدا شو او له لامل پرته درته بد ښکارېد يا کينه دې ورسره وه، ورشه او په قصدي ډول هغه سره مجلس وکړه او دغه احساس او غرور دې مات کړه؛ ځکه د زړه تر ټولو ناوړه ناروغي کينه ده.

که الله پاک په ښو نعمتونو نازولی يې، د دوام لپاره يې شکر کوه او صدقه ورکوه.

ډېرې خبرې د قسوة القلب يا د زړه کلک والي اسباب دي، له بې ځايه خبرو تل ډډه کوه. يا د خير خبره کوه او يا هم چوپ پاتې کېږه.

په دې عادتونو د خپل زړه اصلاح کېږي او روغ زړه به ولرې. که ځان د سالم زړه خاوند کړې د ابراهيم عليه السلام د دعا مصداق به شې:

﴿وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ﴾[۱۰۱]

ژباړه: او په هغه ورځ مې مه رسوا کوه چې ټول خلک ژوندي پاڅول شي.

﴿يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ﴾[۱۰۲]

ژباړه: کله چې نه مال څه ګټه رسوي نه اولاد.

---

۱۰۱: سورة الشعراء، ۸۷ آيت.

۱۰۲: سورة الشعراء، ۸۸ آيت.

له دومره لوی کړاو او غم سره د الله پاک شکر کول، د رب پرېکړو ته د تسلیمۍ او صبر ښه بېلګه ده.

د دغه حالت په اړه غیر مسلمانان فکر کولو ته اړ کېږي، چې دا څنګه ممکنه ده چې انسان دې دومره غم کې د واویلا او شکایت پر ځای منندوی وي، خو چې مطالعه وکړي، پوه شي چې اسلام مسلمانانو ته د صبر سپارښتنه کړې چې د خپل رب پرېکړو ته تسلیم شي.

صبر او الله پاک ته د تسلیمۍ، بدله جنت دی او ورسره د انسان غم بار ډېر سپک او زړه یې ارامه شي.

د مسلمان هر حالت دده په ګټه دی، که په نعمت ونازول شي، د خپل رب شکر کوي او چې ستونزه پرې راشي صبر کوي.

دنیا د ازموینې ځای دی او په ازموینه کې د بریالي شویو بدله جنت دی.

دا فکر له سره لرې کړه چې دنیا کې به بشپړه خوشبختي ترلاسه کړې.

دا ډول نعمتونه چې هېڅ غم او کړاو باندې اخته نه شې او تل ارام او غوره ژوند ولرې، یوازې جنت کې ممکن دي. هلته نه غم، نه کړاو او نه تشویش شته.

که دا غواړې بیا د خپل رب په پرېکړو راضي اوسه او خپل ټول غم دې د رب رضا کړه او عبادتونو کې سستي مه کوه.

نو هر حالت کې هڅه وکړه چې د رب پرېکړو ته تسلیم او صبر وکړې.

ځان ته یادونه وکړه چې هر کړاو او هر نعمت د الله پاک ازموینه ده، همداراز صبر او رضایت د جنت د نعمتونو ته لاره هواروي.

## د صبر ژوندۍ بېلګه

صبر دا نه دی چې لومړی ځان ښه خپه کړې، شور او واویلا وکړې بیا چې ښه ستړی شې او ووایې چې دا به د اللّٰه تعالی پرېکړه وه، په بدل کې یې صبر کوم.

رښتینی صبر دا دی چې د ستونزې یا کړاو د اخته کېدو په لومړي پړاو کې وشي.

کله چې له داسې حالت سره مخامخ کېدې سملاسي وایه: ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾[100]

وروسې د اللّٰه پاک شکر ادا کوه او ووایه الحمدللّٰه؛ ځکه ته نه پوهېږې چې ددې تر شا د رب څه حکمت دی او څه پرېکړه یې ستا په اړه کړې. ښايي تر دې لویه ستونزه دې په دغه اوسني حالت بدله شوې وي، یا دې بدني تاوان په مالي بدل کړای شوی وي.

د فلسطین، افغانستان او ځینو نورو هېوادونو وګړي یې ښې بېلګې دي. په افغانستان څومره سخت حالات تېر شول، خو ډېری هېوادوال په ځانګړي ډول میندې د صبر ښکلې بېلګې ښکاره کوي.

د فلسطین مظلوم خلک، د اولاد جسد یې په غېږ کې وي، خو بیا هم وایي چې الحمدللّٰه، دا د اللّٰه پاک له طرفه پرېکړه ده او موږ ورته تسلیم یو. د هغوی دغه جملې په وروستیو کې ګڼو غربي هېوادونو کې خلک حیران کړل او د الحمدللّٰه ویلو له برکته، ګڼ خلک مسلمانان شوي دي.

---

۱۰۰: سورة البقرة، ۱۵۶ آیت.

## خلک مه پرېږده چې زړه کې دې کینه ډېره کړي

د خالد بن ولید او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهما ترمنځ یوه ورځ کوچنی بحث او جنجال وشو.

بله ورځ، د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په یو مجلس کې یو کس خالد بن ولید بد یاد کړ.

سعد رضي الله عنه ورته وویل: چوپ شه، زما او د خالد ترمنځ جنجال زموږ تر دین نه دی رسیدلی.

د نېکو او درنو خلکو اختلاف هم درونډ وي، عادي اختلافونه په کینه او حسادت نه بدلوي او زړونه پاک ساتي.

ځینې ملګري به دې وي چې تا سره مجلس کې نور ملګري بد یادوي یا غیبت یې کوي، پام دې وي چې همدوی به نورو مجلسونو کې تا بد یادوي؛ ځکه دا د دوی عادت دی.

همېشه چې دې په مخکې د چا غیبت کېده، هڅه کوه چې د مجلس موضوع بدله او ځان له دې لویې ګناه وژغورې.

که چا هڅه کوله چې ستا او د نورو ترمنځ اختلافات ډېر کړي او د هغوی غیبت یې درته کاوه، چوپ کوه یې او اجازه مه ورکوه چې زړه کې دې د کینې او کرکې تخم وکري او اختلافات له اړتیا پرته لوی کړي. داسې خلک د شیطان ملګري دي او له هغه سره مرسته کوي.

درونډ انسان د اختلافاتو په ګډون هر حالت کې خپل درنښت ساتي.

رسول الله ﷺ به همېشه دا دعا کوله: «اللهمَّ رحمتَك أرجو فلا تكِلْني إلى نفسي طَرْفةَ عينٍ أصلِحْ لي شأني كلَّه»[۹۹]
ژباړه: ربه ستا د رحمت طمع او هیله لرم، د سترګو د رپ په اندازه مې یوازې او ځان ته مه پرېږده، زما بشپړ حالت ښه او چارې سمې کړه.
یعنې که زما چارې ماته وسپارې او یوازې مې پرېږدې او زه د ځان په اړه پرېکړه کوم، ځان تباه کوم، خو ته یې چې زما په اړه ښه پرېکړه کوې، ته ښه کار جوړونکی، ښه تدبیر نیونکی او مهربان رب یې.

## د بریا راز

وېره له زړه لرې کړه، له هېچا مه ډارېږه او د راتلونکي په اړه دومره ډېره اندېښنه مه کوه؛ تر هغه چې د الله تعالی پاچاهي ادامه لري.
د روزي، ژوند، اولادونو او د راتلونکي په اړه دومره تشویشونه مه کوه چې له ژونده دې بېزاره کړي. د الله پاک خزانې ډکې دي او تاته د یو څه په درکولو هېڅ پکې کمی نه راځي.
دا په دې مانا نه ده چې هڅې او ستړیا ګالل ودروې، نه په تا حرکت لازمي دی.
ارام مه کینه، خوله تویوه، ستړیا ګاله، بریا ته د رسېدو لپاره خپل سفر ته ادامه ورکړه. اسباب برابروه بیا په الله پاک توکل کوه بریالی انسان به شې ان شاءالله.

۹۹: سنن أبي داود، د حدیث شمېره: ۵۰۹۰. او مسند احمد، د حدیث شمېره: ۲۰۴۳۰.

يوازې غږ پرې وکړه چې يا الله! ستونزې مې حل کړه او د يوې شېبې لپاره مې هم يوازې مه پرېږده.
ددې لپاره تر ټولو مهم شرط صبر او په الله پاک نېک گومان دی.
که دا دوه صفتونه ولرې، هرڅه به ستا په گټه څرخېږي.
که دې دعا يا غوښتنه ځنډېږي، ښايي الله پاک دې ازمويي چې ته صبر کوې او که شکايتونه کوې.
شيطان له دغه موقع په استفاده وسوسه در اچوي، چې الله پاک خو دې دا دعا نه قبلوي.
تل په دې باور لره چې که الله پاک دې دعا وځنډوله خير به دې پکې وي، که داسې نه وي تاته د يو څه په درکولو د الله پاک خزانو کې کموالی راځي؟
تاته به يو شی ښه ښکاري، خو الله پاک پوهېږي، چې هغه به ستا په تاوان وي؛ ځکه ته له غيبو خبر نه يې او الله پاک خو په ناليدلو ښه پوهېږي او د اسمانونو، ځمکې، د پټو، ښکاره او د هرڅه مالک او په هرڅه باندې پوه دی.
کله چې دې ارمان درلود، له الله پاک مرسته غواړه او رجوع ورته کوه.
اسباب برابروه، که دې په خير وي، کېږي؛ که نه وي، صبر کوه او ډاډه اوسه چې خير دې پکې شته. ښايي د وخت په تېرېدو درته ښکاره شي او بيا ووايې شکر چې فلانۍ دعا مې نه ده قبوله شوې.

**د ټولو ستونزو د حل کیلي**

ایا ناهیلی شوی یې؟

اقتصادي یا کورنۍ ستونزې لرې؟

له خلکو په عذاب یې، تشویش او خپګان لرې؟

هر کار ته لاس اچوې، پایله نه لري او نورو ستونزو ستړی کړی یې؟

یو اسانه حل لري، خو که باور پرې وکړې.

هغه چاته مراجعه وکړه چې د دغه ټولو ستونزو د حل کیلي ورسره ده.

دا خو معلومه ده چې هغه څوک دی.

یوازې الله پاک کولای شي چې ستا ستونزې حل کړي.

د ناهیلۍ په دې اوج کې الله پاک درباندې غږ کوي:

الله تعالی فرمایي: ﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾[۹۸]

ژباړه: (اې پیغمبره) هغو بندګانو ته مې ووایه کومو چې پر خپلو ځانونو تېرى کړی دی، چې د الله له رحمت څخه مه ناهیلي کېږئ، په باوري ډول الله ټولې ګناوې بخښي، هغه بخښونکی او مهربان دی.

که الله پاک ونه غواړي، که دا ټوله دنیا یو لاس شي ستا ستونزې نه شي حل کولای، خو که الله پاک وغواړي دا ټول انسانان تاته د ګټې رسونې لپاره تابع کوي. ته یوازې ورته رجوع او بشپړ باور پرې وکړه.

---

۹۸: سورة الزمر، ۵۴ آیت.

## د تشویش زولنې ماتې کړه؟

هغه انسان چې مور او پلار یې ژوندي وي، څومره یې زړه مطمئن وي، څومره په هر کار باندې ډاډه ورځي او داسې احساس کوي چې د غره په شان تکیه لري، خو هغه څوک به ولې تشویش کوي چې په پیاوړي او ټولواک رب یې تکیه وي؟ هغه رب چې تر مور څو اویا ځله مهربان دی او د دنیا او ټولو کایناتو واکمن دی.

رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق رضي الله عنه چې کله په غار ثور کې وو او مشرکینو یې پلټنه کوله، ابوبکر صدیق رضي الله عنه ویرېده چې که یې مشرکین ومومي او ضرر ور ورسوي.

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: «یَا أَبَا بَکْرٍ مَا ظَنُّكَ بِاثْنَیْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا»[٩٦]

ژباړه: اې ابوبکر! د هغو دوو کسانو په هکله څه ګومان لرې، د کومو چې درېیم الله تعالی دی؟

او بیا یې ورته وفرمایل: ﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ۖ﴾[٩٧]

ژباړه: مه خپه کېږه، الله له موږ سره دی.

کله چې ته په رب عزوجل توکل وکړې، ټول امکانات ستا په ګټه څرخوي، نو همېشه پر الله تعالی توکل کوه او د ژوند په چارو کې مرسته ترې غواړه؛ ځکه سوکالي او آرام یوازې د هغه په لاس کې دي. څوک چې پر الله تعالی توکل وکړي، هېڅکله یوازې نه پرېښودل کېږي.

---

٩٦: صحیح البخاري، د حدیث شمېره: ٣٦٥٣.

٩٧: سورة التوبه، ٤٠ آیت.

یوسف علیه السلام دا خبره په زړه وزغمله، خو حقیقت یې هغوی ته څرګند نه کړ. یوازې تر شونډو لاندې یې دومره وویل چې: ډېر زیات بد خلک یئ. تاسې پر ما چې مخامخ کوم تور لګوئ، د هغه پر حقیقت الله ډېر ښه پوهېږي.

په یوسف علیه السلام د غلام په څېر پلورل کېدو، تهمت او زندان په ګډون څومره ناوخوالې تېرې شوې وې، خو په هېڅ یو یې دومره د خواشیني احساس نه و ښکاره کړی، لکه دده په مخکې د ورونو تهمت.

الله پاک په قران کریم کې همدغه شېبه ذکر کړې چې په یوسف علیه السلام څه تېرېدل، خو بیا یې هم صبر وکړ.

داسې ناځوانه او سپین سترګي خلک به ستا چار چاپېر کې هم وي.

له دغه ډول خلکو سره یوسفي تګلاره غوره کوه او چارې دې الله پاک ته سپاره؛ ځکه هغه تر ټولو ښه تدبیر نیوونکی دی.

ورونو د یوسف علیه السلام لپاره څه غوښتل؟

او الله پاک ورته څه برخلیک ټاکلی و؟

که الله پاک وغواړي ته بریالی شې، هېڅوک دې مخه نه شي نیولی.

همېشه له خپل رب سره ښه اړیکه پاله او راضي یې ساته، هېڅوک دې په تهمتونو او منفي تبلیغاتو د پرمختګ مخه نه شي نیولی.

نو په ژوند کې تل په صبر، هوښیارۍ او نېک نیت ګام پورته کوه. له منفي خلکو او تهمتونو وېره مه کوه؛ ځکه بریا د هغه چا برخه ده چې د خپل رب عزوجل په لار کې ثابت قدم وي.

تفسیر کې راځي، چې بنیامین له یوسف علیه‌السلام سره د پاتې کېدو ټینګار وکړ او له همدې امله یوسف علیه‌السلام د بنیامین په څټه یا بار کې، په پټه خپل قېمتي جام کېښود. اوازه خپره شوه چې جام لادرکه شوی دی.

کله چې کاروانونه له ښاره وتل، پیره داران د یوسف علیه‌السلام د ورونو په قافله شکمن شول او لټون یې پیل کړ.

هغوی وویل: موږ خو غله نه یو، تاسې ولې داسې کوئ؟

د دربار خدمتګارانو ترې وپوښتل: که دا جام له تاسې سره پیدا شو، سزا به یې څه وي؟

د یوسف علیه‌السلام ورونو وویل: د هر چا له څټې یا بار چې پیدا شو، همغه ځان سره وساتئ.

له دې شرط سره یوسف علیه السلام پخپله پلټنه پیل کړه او جام یې د خپل ورور بنیامین له بار څخه را بهر کړ.

نورو ورونو چې ددې کار تماشه کوله په سختې سپین سترګۍ او د حقیقت خلاف د خپل ورور مخینه رامخته کړه:

﴿قَالُوا إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَهُ مِنْ قَبْلُ ۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚقَالَ أَنْتُمْ شَرٌّ مَكَانًا ۖ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ﴾[۹۵]

ژباړه: دوی (د یوسف ورونو) وویل: که دی (بنیامین) غلا وکړي، هېڅ د حیرانتیا خبره نه ده؛ ځکه مخکې دده ورور (یوسف) هم غلا کړې وه.

---

۹۵: سورة یوسف، ۷۷ آیت.

ته وايې چې هغه خو پيغمبران وو، خو الله پاک فرمايي چې زه مؤمنان هم همدغسې ژغورم څنګه چې مې پيغمبران ژغورلي.

ته له ځانه کامل مؤمن جوړ کړه، الله پاک به دې همداسې ژغوري لکه څنګه چې يې موسى عليه السلام، رسول الله ﷺ او يونس عليه السلام ژغورلي دي.

شرط دا دی چې کامل ايمان ولرې او په الله پاک هغه شان توکل وکړې او پرې ډاډه اوسې لکه هغوی چې وو.

## مه خپه کېږه

د ګڼو خلکو عادت وي چې د چا په اړه څه خبره واوري، دې ته نه ګوري رښتيا ده که دروغ، خو په خپرولو کې يې تر خپل توان پورې برخه اخلي. ښايي تجربه کړې دې وي، داسې څه درپسې ويل شوي يا د داسې کار تهمت درباندې شوی وي چې ښخي ترې خبر نه يې او په اورېدو يې حيران شې چې دا خبره له کوم ځايه شوه.

ځينې خلک لکه د يوسف عليه السلام د ورونو په څېر سپين سترګي وي. کله چې هغوی د يوسف څنګ ته ورغلل ده وپېژندل، خو ورونو ونه پېژانده.

يوسف عليه السلام خپل کوچنی ورور بنيامين يوازې ور وغوښت او ځان يې ور وپېژند او تسلي يې ورکړه چې د خپلو ورونو په کړنو انديښنه ونه کړي.

د یونس علیه السلام په کیسه کې دې د قران کریم هغه آیت نه دی لوستی چې الله تعالی فرمایي: ﴿وَذَا النُّونِ إِذْ ذَهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَنْ لَنْ نَقْدِرَ عَلَيْهِ﴾[91]

ژباړه: او موږ د کب څښتن هم ونازوه، کله چې هغه په غوسه تللی و او انګېرلې يې وه چې موږ به هغه مواخذه نه کړو.

کله چې لوی کب یونس علیه السلام له ستوني تېر کړ، د لوی ماهي خېټه کې بند پاتې او تیاره کې حصار د الله نبي غږ وکړ:

﴿فَنَادَىٰ فِي الظُّلُمَاتِ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾[92]

ژباړه: په پای کې هغه په تروږمیو کې اواز کړ چې نشته بل خدای مګر ته يې، پاک دی ستا ذات، بېشکه ما لندون وکړ.

وروسته آیت کې الله تعالی فرمایي: ﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ ۚ﴾[93]

ژباړه: هله نو موږ د هغه د عاء قبوله کړه او له غم نه مو هغه وژغوره.

اوس اصلي خبره راځي:

﴿وَكَذَٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ﴾[94]

ژباړه: او په دغه شان موږ مؤمنان ژغورو.

آیت ته دې پام شو؟

---

٩١: سورة الأنبياء، ٨٧ آیت.

٩٢: سورة الأنبياء، ٨٧ آیت.

٩٣: سورة الأنبياء، ٨٨ آیت.

٩٤: سورة الأنبياء، ٨٨ آیت.

خو د الله پاک قدرت بیا ځانگړی دی او موسی علیه السلام پرې پوهېده او ډاډه و؛ ځکه یې خپل قوم ته وویل:
﴿قَالَ كَلَّا ۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ﴾[٨٩]
ژباړه: موسی علیه السلام وویل: هېڅکله نه، له ما سره زما رب دی، هغه به هرو مرو ماته لارښوونه وکړي.
الله تعالی موسی علیه السلام ته بحر کې لار برابره کړه او هغه او قوم یې پرې تېر شول او فرعون له خپل لښکر سره بحر کې غرق شول.
ابوبکر رضي الله عنه له رسول الله ﷺ سره په غار ثور کې و، مشرکینو ټولو ساحه کلابنده کړې وه او د دوی لټون یې کاوه. ابوبکر رضي الله عنه اندېښمن و او رسول الله ﷺ ته ویل چې که د مشرکینو له ډلې یو یې خپلو پښو ته وگوري، موږ به ووینې.
رسول الله ﷺ ډاډ ورکوي ورته فرمايي: ﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ۖ﴾[٩٠]
ژباړه: مه خپه کېږه، الله له موږ سره دی.
ښايي ووايې چې هغوی خو پیغمبران وو او الله پاک ورسره ځانگړی تعامل کاوه او موږ خو عادي انسانان او گنهگاران یو.
دا فکر ناسم دی؛ ځکه الله پاک دغه کیسې قران کریم کې ددې لپاره بیان کړې دي چې موږ ترې درس او عبرت واخلو.

---

٨٩: سورة الشعراء، ٦٢ آيت.

٩٠: سورة التوبة، ۴٠ آيت.

د هر کار تر پیلولو مخکې لومړی له خپل رب مرسته او توفیق غواړه بیا د هغه کار پر طرف ورځه. که ناروغ یې او ډاکټر ته ځې، تر دې مخکې خپل رب ته ووایه چې اې ربه درملنه وسیله ده، رښتینی شفا ورکوونکی ته یې په دغه ناروغي کې ماته روغتیا راپه برخه کړه.
د سفر له پیلولو مخکې له خپل ربه خیر او عافیت غواړه؛ ځکه که د الله پاک مرسته او توفیق نه وي د پیلوټ یا موټر چلوونکي مهارتونه چې څومره زیات وي؛ سر ته دې گواښ پېښولی شي.
موسی علیه السلام له خپل قوم سره د فرعون له ظلم څخه بل ځای ته لاړ، خو فرعون له لښکرو سره ورپسې روان و چې ټول له منځه یوسي.
موسی علیه السلام او قوم یې داسې ځای ته ورسېدل، چې مخته یې بحر او شاته یې فرعون او د هغه لښکرې ور روانې وې.
د موسی علیه السلام قوم فکر کاوه چې له فرعون څخه یې ژغورل ناممکن دي.
په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ﴾[88]
ژباړه: کله چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې، نو د موسی (علیه السلام) ملگرو وویل چې موږ خو ونیول شوو.
عقل او منطق دغسې حالت کې ژغورنه یا تېښته ناممکنه بولي.

---

۸۸: سورة الشعراء، ٦١ آیت.

## غواړې د هر کار پايله دې ښه وي؟

ملګري ته د ژوند مهم رازونه وايې، خو يوه شېبه دا تشويش نه کوې چې بله ورځ دې په مخالف بدلېدای او پټې خبرې دې پر ضد کارولی شي.
مېرمن، خپله ابرو، مال او هرڅه ورته سپارې؛ لرې ترې سفر کوې، يا هره ورځ وظيفې ته ځې او راځې. همداسې خاوند، پرې ډاډه يې چې خيانت درسره نه کوي.

پخپل پلار ځومره ډاډه يې، چې ژوندی وي سرشار ګرځې.

په الوتکه يا موټر کې له ګواښ ځخه ډک سفر پرمهال د چلوونکي په مهارتونو او د سفر په وسايلو ډاډمن يې چې منزل ته دې رسوي.

له مرګ سره لاس او ګريوان ناروغ د ډاکټر په ورتيا ډاډه وي او هر ډول عملياتو ته اجازه ورکوي، سره له دې چې پوهېږي کوچنۍ تېروتنه يې ژوند پای ته رسولی شي.

کله چې په انسانانو دومره ډاډه يې او باور پرې لرې، نو د الله پاک په اړه دې څه ګومان دی؟

﴿فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾[87]

ژباړه: نو د الله رب العلمين په باب ستاسې څه ګومان دی؟

انسان چې پخپله کمزوری مخلوق او له تېروتنو ډک دی، دومره پرې باوري او ډاډه يې، ولې پر خپل رب بشپړه تکيه نه کوې؟

تر هر چا مخکې له خپل رب ځخه مرسته غواړه او توکل پرې کوه.

---

۸۷: سورة الصافات، ۸۷ آيت.

ونیسي او له ډېرې خوشحالۍ څخه داسې ووايي: (اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ) ژباړه: اې الله! ته زما بنده او زه ستا رب یم. (نعوذ بالله). یعنې له ډېرې خوشحالۍ څخه دومره لویه تېروتنه وکړي.»[85]

رسول الله ﷺ فرمايي چې الله پاک تر دغه انسان څخه هم ډېر د خپل بنده په توبه خوشحالېږي. سبحان الله!

دومره مهربان رب لرو، خو زه او ته څومره بې پروا بنده‌ګان یو!

مهربان رب زموږ بخښل او جنت ته تلل څومره اسانه کړي، خو موږ ترې ناهیلي او بې پروا کېږو.

شیطان همدا غواړي چې لومړی دربانديې ګناه وکړي بیا دې له خپل مهربان رب څخه ناهیلی کړي، ته اجازه مه ورکوه چې دغې موخې ته ورسېږي. کله چې ګناه درڅخه کېدله سملاسي توبه کوه او ورپسې نېک کار کوه.

ځکه الله پاک پخپله فرمايلي: ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ۚ﴾[86]

ژباړه: په حقیقت کې نیکي بدۍ له منځه وړي.

کله چې ګناه درڅخه وشوه، ژر صدقه ورکړه یا اودس وکړه، دوه رکعته نفل لمونځ وکړه او الله پاک څخه بخښنه وغواړه.

دا به ستا ګناهونه پاک کړي او له دې سره به د جنت مستحق هم شې ان شاءالله.

---

۸۵: صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ۲۷۴۷.

۸٦: سورة هُود، ۱۱۴ آیت.

له داسې خلکو سره بحث کول نه یوازې دا چې ګټه نه کوي، بلکې بېلابېل ناسم پوهاوي رامنځته کوي او ورسره اړیکې خرابېږي.
دا لوی مهارت زده کړه چې کوم ځای کې چوپ پاتې شې او کوم ځای کې خبرې وکړې. ځینې وخت چوپتیا تر ټولو غوره حل وي.
که خلکو ته داسې ښکاري چې ته نه پوهېږې، تر دې ډېره غوره ده چې بې ځایه بحث او جنجال کوې او خپل شخصیت ته زیان اړوې.

## نا امیدي د شیطان موخه ده

پښه دې ښویېدلې، شیطان درباندې برلاسی شوی او ناهیلی شوی یې؟ له توبې ویستلو شرمېږې؟ شیطان دا وسوسه در اچولې چې ګناهونه دې ډېر شوي ته د بخښلو وړ نه یې؟
دا په بشپړ ډول ناسم احساس دی چې ته یې لرې.
کله چې ته غفور یا بخښونکی رب لرې، چې په توبه دې تر تا ډېر خوشحالېږي، بیا نو ناهیلي د څه لپاره؟
رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «الله تعالی د خپل بنده په توبه، کله چې هغه د الله تعالی په دربار کې توبه وباسي، له هغه کس څخه زیات خوشحاله کېږي، کوم سړي چې په صحراء کې خپله سپرلۍ ورکه کړې وي، هغه یې له لاسه وتلې وي، د څښاک او خوراک توکي یې هم په هغې بار کړي وي. دا سړی د هغې له پیدا کولو څخه ناهیلی شوی وي او د یوې سیورې لرونکې ونې لاندې څملي، په دې وخت کې هغه ورکه شوې سپرلۍ یو ناڅاپه د ده طرف ته راشي او دی یې لګام (مهار)

## ځينې وخت چوپ پاتې شه

کله نا کله اړتيا وي چې انسان چوپ پاتې شي. ځينې وخت بايد خلکو ته داسې ښکاره کړې چې ته نه پوهېږې يا تا هېڅ نه دي اورېدلي.

خليفه مهدي ناست و؛ يوه ورځ يو سړی ورننووت، څپلۍ يې په لاس کې وې او ادعا يې وکړه چې دا د رسول الله ﷺ څپلۍ دي.

هغه ترې واخيستې، ښکل يې کړې او د دربار خادم ته يې امر وکړ چې لس زره درهمه هغه سړي ته ورکړي.

سړی چې لاړ، خليفه مهدي شاوخوا ناستو خلکو ته وويل: زه پوهېږم چې دا د رسول الله ﷺ څپلۍ نه وې، خو که ما له دغه سړي سره بحث کړی او ورته ويلي مې وای چې دا د رسول الله ﷺ څپلۍ نه دي، هغه به تللی و او خلکو ته به يې ويل چې خليفه مهدي د رسول الله ﷺ د څپليو بې احترامي وکړه او خلکو به دا خبره په بېلابېلو ناسمو ډولونو ډنډوره کړې وه او معلومه نه ده چې څه به ترې جوړ و.

کله نا کله انسان بايد دغه ډول حکمت زده کړي، چې تر ټولو کم تاوان په کوم کار کې دی او له کوم کار څخه چې شر جوړېږي، په نطفه کې يې خنثی کړي.

د بېلگې په توگه يو څوک تا سره خبره شريکوي او بې ځايه بحث کوي. داسې استدلال کوي چې ته پوهېږې چې دغه کس ته قناعت ورکول د غره چپه کول دي، بيا څه گټه چې بحث ورسره کوې؟

درته کوي چې تا خو گناه وکړه او له خپل رب څخه لرې شوې، یا دا وسوسه چې ته خو یو گنهگار انسان یې ستا توبه نه قبلېږي، خو پام چې دا د شیطان گوانښوونکې دوکه ده چې غواړي د خپل رب له رحمت څخه دې ناهیلی کړي.
که گناه درڅخه کېدله سملاسي توبه کوه او دا خبره ذهن ته راوله چې الله پاک ولې خپل یو صفت غفور ټاکلی دی؟
ځکه کله چې گناه کوې هغه ته ور وگرځې وکړې او هغه تا وبخښي.
غفور یعنې بخښونکی؛ بخښنه چاته کوي؟
ښکاره خبره ده چې گنهگار ته بخښنه کوي!
څوک چې گناه ونه کړي هغه ته د بخښنې څه اړتیا ده؟
ځکه هغه خو گناه نه ده کړې، خو رب عزوجل انسان داسې مخلوق پیدا کړی، چې له شیطان سره یې تر قیامته دښمني ده.
کله کله دې پښه وښوییږي او شیطان درباندې برلاسی شي او دښمني درڅخه وگټي، خو ته باید بیا راپورته شې، په توبه او له خپل رب څخه د مرستې په غوښتلو ځان بلې جگړې ته اماده کړې، خو پام دې وي ته هغه وخت شیطان ته دښمني په بشپړه توگه بایلې چې تسلیم شې او هغه څوک تسلیمېږي چې توبه پرېږدې او له خپل رب ناهیلی شې.
تر هغې چې ته له خپلو گناهونو توبه کوې او د خپل رب له رحمت څخه ناهیلی شوی نه یې، ته لا هم له شیطان سره د دښمنۍ توان لرې او جنت گټلی شې؛ ځکه ته یو غفور، مهربان او بخښونکی رب لرې چې په توبه دې تر تا ډېر خوشحالېږي.

همغه خبره ذهن ته راوله چې د یاسر کورنۍ ته یې کړې وه: صبر ولرئ، ستاسې بدله جنت دی!

جنت داسې بدله ده چې کله یې ترلاسه کړې، بیا به وایې چې ددې نعمت لاسته راوړلو لپاره که میلیونونه ځلې تر دغو دنیایي سختیو زیاتو سختیو باندې اخته شوی وای هم پروا به مې نه وه. کله چې ور دننه شې او د دنیا د سخیتو پوښتنه درڅخه وشي، د دنیا تر ټولو لوی کړاوونه به درته هېڅ ښکاره شي.

که د الله پاک مهرباني نه وي آن پیغمبران یې هم پخپلو عملونو نه شي ترلاسه کولای، خو دغه ازمویني او سختۍ موږ د جنت جوګه کوي.

کله چې ته ځان د صابرانو ډله کې راولې، الهي ملاتړ ترلاسه کوې.

الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾[٨٤]

ژباړه: الله د زغم لرونکو ملګری دی.

نو د خپګانونو، سختیو او ستونزو پر وخت صبر کوه، په بدل کې به یې جنت ترلاسه کړې ان شاءالله.

## مه ناهیلی کېږه

تر هرڅه ډېر ددې کوښښ کوه چې ګناه درڅخه ونه شي، خو دا چې انسان په طبیعي ډول کمزوری مخلوق دی، کله پرې نفس یا شیطان غالب شي او ګناه ترې وشي، خو بدترین حالت بیا دا دی چې له ګناه وروسته دې شیطان د خپل رب له رحمته ناهیلی کړي. داسې وسوسه

٨٤:سورة البقرة، ١٥٣ آیت.

## غمونو او کړاوونو سترړی کړی یې؟

د سختۍ او زړه بوږنوونکې پېښې پرمهال رسول الله ﷺ تېرېږي او آل یاسر کورنۍ ویني چې د مسلمانېدو له امله یې لوی ظالم ابوجهل شکنجه کوي.

په داسې حال کې چې اسلام تازه را ښکاره شوی و او پلویان یې د ګوتو په شمېر وو، د الله نبي ﷺ ورته د زغم یا صبر سپارښتنه او زېری ورکوي.

«صَبْرًا آلَ يَاسِرٍ فَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ ٱلْجَنَّةُ»[83]

ژباړه: صبر وکړئ اې د یاسر کورنۍ، ستاسې بدله او وعده جنت دی.

رسول الله ﷺ په داسې سخت حالت کې نه ناهیلی کېږي او د خپلو لارویانو د درد کمولو لپاره د هغوی پام د دنیا له تکلیفه د اخرت لوېې بدلې ته اړوي چې په اورېدو یې درد هېرېږي او زړه د سکون ساه اخلي.

زموږ په ژوند کې هم کله کله حالات سخت او انسان سترړی کړي.

څا درته ویلي چې دنیا د بدلې ځای دی او چې عبادتونه او نېک عملونه کوې، سختۍ درباندې نه راځي یا د نېکو عملونو بدله دنیا کې درکول کېږي، دنیا خو د ابتلاء او ازمایښتونو ځای دی، نېک انسانان پکې په سختیو او ناخوالو ازمویل کېږي، پیغمبران یې ښې بېلګې دي.

ستا ژوند کې هم ګڼې ناخوالې او سختۍ شته چې ناهیلی کېدو ته یې نږدې او له ژونده سترړی کړی یې. په داسې حالت کې د رسول الله ﷺ

---

83: المعجم الطبراني في الأوسط، د حدیث شمېره: ۱۵۰۸.

## له دې لوی فرصته ګټه واخله

که دې مور او پلار دربانديې غوسه شي، خامخا به يو ځای ته پناه وړې يا به له چا مرسته غواړې، خو که بلاتشبيه، الله تعالی دربانديې غوسه شي، چاته پناه وړې او له چا به مرسته غواړې؟

که دې ګناه کړې وي، تېروتنه درڅخه شوې وي يا دې پر ځان ظلم کړی وي، بله لار نشته، راځه الله تعالی ته ورستون شه، هغه ډېر بخښونکی او مهربان دی؛ ځکه چې ژمنه يې کړې:

﴿وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَحِيمًا﴾[۸۲]

ژباړه: که څوک بد عمل وکړي يا په ځان ظلم وکړي او له هغه وروسته له الله څخه بخښنه وغواړي، نو الله به بخښونکی او رحيم ومومي.

الله تعالی تر هغې مهلت درکوي، چې ساه دې په ستوني کې وي، کله چې ساه د ستوني وروستۍ برخې ته ورسېده، بيا نو موقع نشته.

ډېر انسانان به مو ليدلي وي چې د نورو په حق کې يې ظلم کړی وي، خو ناڅاپه يې مرګ ونيسي او ژوند يې پای ته ورسېږي.

په داسې حالت کې بيا د تېښتې لار نه وي.

مخکې له دې چې مجبور کړای شې، پخپله الله تعالی ته ورستون شه.

که نه، حالات به دې مجبور کړي، بله لار به درته نه وي او الله تعالی ته به ورستنېږې.

---

۸۲: سورة النساء، ۱۱۰ آيت.

## د تنبلي پایله زحمت دی

په هر عمر کې چې یې که اوس راحت طلبي او تنبلي کوې او زیار نه باسې، وروسته به دوه برابره ستړیا ګالې او ضایع شوی وخت به جبرانوې، خو که اوس ستړیا وګالې او خوله تویوې، راتلونکي کې به یې له امله ارام او خوښ یې.

ابن القیم رحمه اللّٰه ویلي: «مَنْ آثَرَ الرَّاحَةَ، فَاتَتْهُ الرَّاحَةُ»[81]

ژباړه: چا چې راحت یا تنبلي غوره کړه، راحت یې له لاسه ورکړ.

نعمت په نعمت نه ترلاسه کېږي.

عمر بن عبدالعزیز رحمه اللّٰه ویلي: «لَوْ أَنَّ النَّاسَ كُلَّمَا اسْتَصْعَبُوا أَمْرًا تَرَكُوهُ، مَا قَامَ لِلنَّاسِ دُنْيَا وَلَا دِينٌ»

ژباړه: کله چې کار سختېږي او انسان یې پرېږدي، نه به دوی ته دنیا او نه دین پاتې شي.

یعنې که انسان د سختیو پرمهال له کار څخه ځان ساتي، دا ډول تنبلي او راحت طلبي هېڅ پایله نه لري.

په درس کې څوک کامیابېږي؟

هغوی چې ستړیا ګالي، که هغوی چې وخت بې ځایه تېروي؟

که اوس ارام غواړې، راتلونکي کې به دې عمر لوړ وي او ستړیا به ګالې، خو که اوس ځان ستړی کوې راتلونکي کې به ارام یې.

۸۱: مفتاح دار السعادة، جلد: ۲، پاڼه: ۱۵.

الله پاک موسی علیه السلام په ټولو ګران کړی و، آن په فرعون هم، خو څه وخت د فرعون له پامه بد او دښمن یې شو، هغه وخت چې کله یې خپل اصول او قواعد اعلان کړل.

امام مالک رحمه الله له یو چا پوښتنه وکړه چې خلک زما په اړه څه وایي؟ هغه ویل ټول خلک دې ستاینه کوي.

امام مالک سملاسي وویل: زما په اړه د ټولو خلکو ستاینې او د هغوی د ژبې له اتفاق څخه الله پاک ته پناه وړم؛ ځکه هغه ځان ښه پېژانده.

الله تعالی فرمایي: ﴿بَلِ الْإِنْسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ﴾[79]

ژباړه: بلکې انسان پخپله خپل ځان ښه پېژني.

﴿فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ﴾[80]

ژباړه: نو د خپل نفس د پاکۍ دعوې مه کوئ، همغه ډېر ښه پوهېږي چې رېښتینی پرهېزګار څوک دی.

دا په دې مانا نه ده چې له ټولو بې پروا شې او ملګري او نور خلک ناحقه له ځانه خپه کړې او ډېری کسان په مخالفینو بدل کړې. که داسې وکړې خنډونه دې پرمخ ډېرېږي، د ژوند دایره دې تنګېږي او سرخوږي او بې ځایه تشویشونه او ستونزې درته پیدا کېږي.

له هېچا سره کینه مه ساته؛ ځکه په زړه کې کینه لکه زهر وي، که یې را بهر کړې نورو ته زیان اړوي او که یې ساتې تاته زیان رسوي.

---

۷۹: سورة القيامة، ۱۴ آیت.

۸۰: سورة النجم، ۳۲ آیت.

## د خلکو له منفي خبرو سترې يې؟

ستا په اړه د خلکو ستاينه او هڅونکي خبرې يا منفي نظرونه او غيبت تاته څه ګټه يا تاوان نه شي رسولی. که څوک له تا کرکه کوي او که د چا خوښيږې دواړو سره يو شان چلند کوه، ډېر جدي يې مه نيسه او له امله يې بريالیتوب ته د رسېدو لپاره خپل مسير مه بدلوه.

ته چې څومره نېک انسان شې بيا به هم مخالفين لرې.

دا قاعده په ياد لره، څوک چې مخالفين نه لري، هغه پخپل ژوند کې اصول او قواعد نه لري.

که ته د هر چا خيال ساتې، د خوشحاله ساتلو هڅه يې کوې او په طبيعت يې چلېږې، اړ يې چې خپل اصول تر پښو لاندې کړې، خو که د خپلو ارزښتونو له مخې چلند کوې، طبيعي ده چې مخالفين به لرې.

اللّٰه تعالی فرمايي: ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِينَ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا﴾[78]

ژباړه: موږ د هر پيغمبر لپاره د مجرمانو له ډلې دښمنان ګرځولي، خو د لارښود او ملاتړي په توګه دې اللّٰه کافي دی.

پيغمبران خو د اخلاقو او صبر بېلګې دي او تر ټولو مهمه دا چې اللّٰه پاک غوره کړي دي، آن داسې انسانانو هم دښمنان يا مخالفين لرل.

---

۷۸: سورة الفرقان، ۳۱ آيت.

## په دې پوښتنه غور وکړه

که پوښتنه وکړم چې څه شی درته ډېر ارزښتمن او لومړیتوب لري؟
خامخا به وایې چې لومړی الله پاک، بیا مور او پلار، کورنۍ، اولاد، صحت، تعلیم او نور شیان.

که ددې ځرګندونو د حقیقت معلومولو لپاره بیا پوښتنه وکړم، چې په ځلورویشت ساعتونو کې د خپل وخت ډېره برخه په څه شي تېروې؟
یا شپه او ورځ په څه شي ډېر فکر او لګښت کوې؟
فکر پرې وکړه او ځواب راکړه.

چې ځواب دې هرڅه وي، همدغه شیان دې لومړیتوبونه او درته ارزښت لري. ستا په ژوند کې لومړیتوبونه په حقیقت کې هغه دي چې ډېر وخت ورکوې، ډېر فکر پرې کوې او ډېر مال پرې لګوې.

اوس په ورځني مهالوېش فکر وکړه او لومړیتوبونه دې له سره ترتیب کړه. که د وخت ډېر برخه دې په ټولنیزو رسنیو، بې ځایه خبرو، بې ګټې مجلسونو، چکرونو او خوبونو تېروې، تاته همدغه شیان ارزښت لري او ژوند پرې ضایع کوې.

نو د ژوند هره شېبه یو قیمتي فرصت دی چې د خپل رب رضا، د کورنۍ نېکمرغۍ، خپل ځان روزنې او د ټولنې ګټې لپاره وکاروې.

که وخت په سم ډول تنظیم کړې او لومړیتوبونه په حقیقتي ارزښتونو برابر کړې، ژوند به دې نه ضایع کېږي، بلکې هره ورځ به دې د پرمختګ، سکون او کامیابۍ سبب شي.

که دې د کوم کار اراده کوله، د استخارې لمونځ کوه او له الله پاک څخه مرسته غواړه، بیا پرې ډاډه اوسه.
اللّٰه پاک به درته لار اسانه او اسباب برابر کړي؛ که نه، ستا په خیر یې تمامومي او تا به پرې راضي کوي ان شاءاللّٰه.

## دوه لارې او یو انتخاب

یوه لار خالي او ډېر کم خلک پرې ځي، خو په پای کې یې خزانه ده.
دویمه لار کې ېېروبار دی او ګڼ خلک پرې روان وي، رنګارنګي پکې زیاته ده، خو په اخر کې یې یو موټی خاورې دي.
ته کومه یوه غوره کوې؟
لومړۍ د اخرت او دویمه د دنیا لار ده. هوښیار انسان د دنیا په لیونۍ مینه مست نه وي؛ بلکې د اخرت لاره غوره او د اخرت مینه د دنیا په مینه مخکې کوي.
که ته د اللّٰه پاک په لار روان یې، متدین یا دیندار یې. په دې ویاړه او د ډاډ احساس کوه، اللّٰه پاک په دومره انسانانو کې ته ځانګړی انسان غوره کړی یې او د دغه لار د غوره کولو توفیق یې درکړی دی.
دا ستا نېکمرغي ده او ته بختور یې چې اللّٰه پاک خپلو ځانګړو بندګانو کې شامل کړی یې.
تر ما او تا ډېر په اندام پیاوړي خلک شته، خو شپه او ورځ په ګناهونو کې غرق دي او له خپل رب بې پروا شوي دي.
اللّٰه مه کړه که زه او ته هم د هغوی په ډله کې وای بیا به مو څه کول؟

چې ډېر کارونه درځخه پاتې شي. له رښتيني حالت څخه به وتلی يې او نمايشي کارونه به کوې.
ته به کمال غواړې، خو کمال يوازې د الله پاک صفت دی. انسان خو کمزوری او له تېروتنو ډک دی.
بيا ولې د نيوکو له وېرې او د کمال په طمع کارونه پرېږدې؟
همدا اوس ښايي د همدې له کبله دې ډېر کارونه پرې ايښي وي.
له تېروتنو زده کړه او دوامداره هڅه کوه او مه ودرېږه.
په قصدي ډول تېروتنه مه کوه، خو که بيا هم درڅخه کېده، مسووليت منه، درس ترې زده کوه او راتلونکي لپاره ورته بېلابېلې تګلارې ټاکه.
د ژوند په لار کې به خامخا غورځېږې؛ ځکه په ژوند کې لوړې او ژورې شته، خو بېرته بايد را پورته شې، که بيا هم وغورځېدې، بيا را پورته شه؛ ځکه چې ژوند سيالي ده، تر هغې هڅه کوه چې د الله پاک په مرسته خپلو موخو ته ورسېږې.
که له تا څوک د کمال طمع لري دا د هغوی ستونزه ده، چې د انسان په سترګه نه بلکې د ملايکې په سترګه درته ګوري. له انسان د تېروتنې طمع کېږي، خو يوه تېروتنه څو ځله مه تکراروه.
هغوی چې تا د يوې تېروتنې له امله نه بخښي، دوی خپله سلګونه تېروتنې کوي؛ ځکه انسانان دي.
الله پاک خپل بنده تر هر چا ښه پېژني، چې کمزوری پيدا شوی دی.
چې الله پاک درڅخه کمال نه غواړي، بيا يې انسانان ولې طمع لري؟
له نېکو ملګرو او پوه خلکو سره سلا کوه، پښېماني يې کمه وي.

## له تېروتنو مه ډارېږه

له تېروتنو وېره او ورسره حساسيت دې ناکامۍ او استعداد دې وژني.
هغوی چې همېشه د خلکو د نيوکو او تا ويلو ما ويلو له ډاره يو کار ته زړه نه ښه کوي، يا يې له ترسره کولو ډډه کوي، حقيقت کې ذره بيني عينکې په سترگو کوي چې عادي شيان ورته لوی ښکاري.
دوی کوچنۍ خبرې دومره ځان ته لويوي چې ژوند يې ورسره تريخ شي.
د خلکو نيوکو او سختې خبرې بايد وزغمې؛ ځکه که ورسره حساسيت پيدا کړې او ترې وويرېدې، د پرمختگ مخه دې نيول کېږي او خلک به پر تا خپل طبيعت په زور مني، چې له امله به يې هغه بې گټې کارونه کوې چې وجدان دې يې نه مني، خو د خلکو د خوشحاله ساتلو له امله به ترې ډډه نه شې کولای.
د الله پاک رضا به دې پرې ايښې وي او د خلکو رضا پسې به گرځې او په پای کې به يوازې پښېماني در پاتې وي.
د خوښې خلاف به دې خلک پخپلو کوډونو پروگرام کړي، د هغوی له امله د فوق العاده کارونو هڅه به کوې او د الله تعالی رضا به پاتې وي.
خلک له تا د فوق العاده کارونو ترسره کولو طمع لري، خو دا ناممکنه ده؛ ځکه يو کار په پيل کې فوق العاده نه وي. د يو کار پيل ډېری وخت کمزوری وي، خو په کراره يا تدريجي ډول قوي يا پياوړی کېږي.
که ته هر کار له دې امله فوق العاده پيلوې، چې خلک درباندې نيوکه ونه کړي او د هر کار پيل په لوړه سطحه غواړې، همدا به لامل شي

د ذلیخا هغه خبره ځان ته د قاعدې په توګه وټاکه او تل یې ذهن ته راوله، چې کله یې یوسف علیه السلام ولید ویې ویل: «الحَمدُ لِلّهِ الَّذي جَعَلَ العَبِيدَ مُلُوكًا بِطَاعَتِهِ»[77]
ژباړه: پاکي ده هغه رب لره چې پخپل اطاعت له غلامانو مالکان جوړوي.

## څنګه ټول خلک خوشحاله کړم؟

د ټولو خلکو راضي کول هغه موخه ده چې هېڅ انسان نه دی ترلاسه کړی او نه به یې ترلاسه کړي.
الله پاک درته امر نه دی کړی چې ټول انسانان له ځانه راضي ساته.
مجبور نه یې د چا د خپګان له ډاره په هر قېمت د خلکو غیر اصولي غوښتنې ومنې.
په ژوند کې هېڅ انسان ته اجازه مه ورکوه چې ستا وخت ضایع کړي.
تر ټولو لومړی باید خپل رب راضي کړې، ددې په برکت د انسانانو زړونو کې ستا لپاره مینه پیدا کېږي. د خپلې کورنۍ خیال ساته، د هغوی په شان مه کېږه چې نور پالي، خو خپله کورنۍ ترې هېره وي.
خپلوانو او ملګرو سره ښې اړیکې پاله، خو په هر صورت او له اندازې زیات د هغوی راضي ساتل خپله موخه مه ټاکه.
د چا په حق کې ظلم مه کوه، طبیعي اړیکې پاله همدا کفایت کوي.

۷۷: الدرر المنثور. لیکوال: جلال الدین عبد الرحمن بن أبي بکر السیوطي. جلد: ۸. پاڼه: ۲۸۰.

که په ژوند کې هر ډول سختي او کړاوونه درباندې راتلل، د یوسف علیه السلام کیسه ذهن ته راوله او په دې فکر کوه چې اللّٰه پاک له څومره سختو ازموینو او کړاوونو هغه وژغوره او په پای کې یې کوم مقام ورکړ.
په دې ځان ډاډه کوه چې ستونزې انسان پخوي او بریالی کوي یې.
له دې وروسته داسې فکر مه کوه چې ستونزې همېشه ناوړې پایلې لري، د یوسف علیه السلام په کیسه کې دې ولیدل چې د ځینو سختیو پایله ښه وي.
د اللّٰه پاک تدابیر ډېر پراخ دي، زه او ته محدود انسانان یو د تصویر یوې نقطې ته ګورو، خو اللّٰه پاک ټول تصویر ویني.
اللّٰه پاک ستا په راتلونکي، په ګټه او په هرڅه باندې پوهېږي.
دا دنیا د ازموینې ځای دی، دغه ټولې ازموینې ددې لامل کېږي چې ته یې په پایله کې پوخ شې او بریا ته ورسېږې.
ستونزې او کړاوونه دې باید ناهیلی او په ملا مات نه کړي، بلکې د هرې ستونزې تر شا باید د یوسف علیه السلام په شان انګېزنه ولرې؛ ځکه د هغه ژوند زموږ لپاره الګو دی.
قران کریم کې د پیغمبرانو کیسې ددې لپاره نه دي روایت شوې چې یوازې یې د کیسو په توګه ولولو، بلکې ددې لپاره دي چې زده کړه او په ژوند کې ترې عملي ګټه واخلو.

ژباړه: هغوی (د یوسف علیه السلام وروڼو) وویل: په الله قسم چې تاته الله پر موږ فضیلت در بخښلی او په رښتیا چې موږ خطا کاران وو.
تاته چې الله پاک صبر او لوړ منزلت درکړی دوی بخښې او له تېروتنو یې تېرېږي. الله پاک دي د هغه پلار سترګې ببرته بینا کوي، چې ستا په غم کې ړندې شوې وې او ټوله کورنۍ درسره یو ځای کوي.
اوس ډېره ووهه او لږ فکر وکړه، څومره سختۍ درباندې راغلې او الله پاک له هرې یوې څنګه بریالی بهر کړې!
د وروڼو د دښمنۍ له امله څاه ته دې غورځېدل، د ذلیخا د فتنې له کبله بدنام او زندان کې اوږدمهاله پاتې کېدل، له کورنۍ جدایي او ورته نورو ناخوالو څخه الله پاک په څومره ښه تدبیر وژغورلې.
پام دې شو چې یوسف علیه السلام په ټول جریان کې کوم کمال درلود؟
﴿قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِي ۖ قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ﴾[٧٦]
ژباړه: (کله چې د یوسف وروڼو هغه وپېژانده ټکان یې وخوړ او ویې ویل ایا ته یوسف یې؟) هغه ورته وویل: هو، زه یوسف یم او دا زما ورور دی. الله پر موږ احسان وکړ. حقیقت دا دی، که څوک له پرهېزګارۍ او صبر څخه کار واخلي، نو الله پاک د دغسې نېکو خلکو بدله نه ضایع کوي.
د یوسف علیه السلام له څرګندونو ښکاره ده چې تقوا او صبر د ستونزو پر وړاندې د بریالي کېدو اساسي لاملونه دي.

---

٧٦: سورة یوسف، ٩٠ آیت.

ایا دا تمه به دې نه وي چې کیسه دلته پای ته ورسېده او نور دې ابدي ځای زندان شو، خو د الله پاک تدبیر ګوره.

د مصر واکمن خوب ويني چې اووه ډنګرې غواوې اووه نورې چاغې غواګانې خوري او اووه شنه وږي او اووه نور وچ وږي په خوب کې ويني.

له درباریانو د دغه خوب د تعبیر پوښتنه کوي، خو هغوی يې په مطلب نه پوهېږي او ګډوډ خوبونه يې بولي.

الله پاک په زندان کې د یوسف یوه ملګري ته چې دغه وخت ازاد شوی وي، په ذهن کې ور اچوي چې د خوبونو تعبیر خو تر هر چا یوسف ښه کولای شي، نو زندان ته درځي او له تا د خوب تعبیر پوښتنه کوي.

ته ورته د قحطي د راتلو خبر ورکوې او سپارښتنه کوې چې غله دې ذخیره کړي. ددې ځواب په اورېدو د مصر واکمن دې ورغواړي، هغه ته ثابتېږي چې ته خاین نه يې او له زندانه دې ازادوي.

نه یوازې له بنده دې خلاصوي بلکې له امانتدارۍ دې ډاډمنېږي او د ټولو خزانو د سپارلو غوښتنه دې هم مني، چې ورسره ستا د حاکمیت لپاره لار هوارېږي.

پر دې سربېره الله پاک همغه وروڼه درته تابع کوي، چې ځاه ته يې غورځولی وې، هغوی چې کله خبرېږي چې ته یوسف يې او الله پاک د دوی د پلان خلاف دومره لوی مقام درکړی، پخپله اقرار کوي:

﴿قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ ءَاثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ﴾[٧٥]

---

٧٥: سورة یوسف، ٩١ آیت.

د اوبو راخیستلو پر وخت یې پام تاته اړوي او پام کېږي یې چې ښکلی تنکی ځوان کوهي کې دی. د کاروان غړي زېری ورکوي چې د پلور لپاره یې غلام پیدا کړ، قافله دې له ځان سره مصر ته بیایي او په کم قیمت دې د هغه ځای په عزیز پلوري.
په دې ځای کې یوه دمه او فکر وکړه چې په څاه کې ناهیلی وې، څومره به دې اندېښنه وه چې ښایي له منځه لاړ شې.
ایا دا انګېرنه دې کولای شوه چې الله پاک به داسې لار برابروي، چې د مصر د عزیز تر کوره ورسېږې هغه دې د غلام په توګه وپېري، خو الله پاک یې زړه دومره نرم کړي چې خپلې ښځې زلیخا ته سپارښتنه کوي، چې له تا سره د مریي په شان سلوک ونه کړي؛ ځکه ښایي له لوېېدو سره دې په زوی توب ونیسي.
له لومړۍ سختې را تېر شوې او د مصر د عزیز په کور کې الله پاک تر ځوانۍ ورسولې او په ټولو یې ګران کړې.
ناڅاپه یوه بله لویه او سخته ازموینه دې مخته راځي. په هغه کور کې له کومې مېرمنې سره چې ته لوی شوی یې، په تا زړه بایلي او سخته مینه یې درسره پیدا کېږي، له تا ناروا غوښتنه او هڅه کوي چې ستا په لمن تور داغ ولګوي.
سره له دې چې ستا بې ګناهي او پاک لمني ثابتېږي، خو د هغې مکر او تهمت زندان ته د تلو او اوږدې مودې لپاره د پاتې کېدو لامل کېږي.
په زندان کې به ستا فکر څه وي؟

## له دې وروسته به په اسانۍ تشویش ونه کړې

ستونزو، کړاوونو، تشویشونو، سخیتو او نورو ناوړه حالاتو ستړی او له ژونده بېزاره کړی یې؟

راځه په یو خیالي سفر راسره لاړ شه، ډاډه یم چې له راستنېدو سره به دې زړه مطمئن او ذهن ارام شي او تر دې وروسته به دې ناخوالې په اسانۍ نه شي ځپلی.

د یوې شپې لپاره ځان د یوسف علیه السلام پر ځای وانګېره، داسې فکر وکړه چې ته یوسف یې. په پلار ډېر ګران یې او هغه هم له تا سره زیاته مینه لري، دغه مینه ددې لامل کېږي چې ورونه درسره کینه یا حسادت وکړي.

دوی پلار دوکه کوي او تا ترې یوې دښتې ته بیایي، یو ورور دې د وژلو مشوره ورکوي، بل کې لږ رحم وي څاه ته دې د غورځولو وړاندیز کوي او پر همدې کار سلا کېږي.

په بې رحمۍ دې کوهي ته وغورځوي او په تروږمۍ کې دې پرېږدي.

دوی ستانه شي پلار ته بهانه وکړي چې لېوه وخوړې او له منځه لاړې.

د څاه په تل دغه تپه تیاره کې څه احساس لرې؟

خامخا به دې دغه دښته او یوازېتوب کې له مرستې طمع پرې او د مرګ اندېښنه درسره وي، خو د الله پاک تدبیر ګوره، له مدین څخه مصر ته پر لار کاروان ته د اوبو اړتیا پیښوي تر تا یې در رسوي.

که غواړې د خلکو منځ کې عزتمن او درونډ شخصیت ولرې او په هر کار کې خپل مسوولیت په سم ډول ادا کړې، په خلکو خپله تعالي یا لویوالی مه تپه. هغه مسوولیت چې ستا اړوند وي د هغې بار په خلکو مه اچوه او پخپل موقف ځان تر نورو لوړ مه ګڼه.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا﴾[٧٣]

ژباړه: په ځمکه کې ویاړلی (په تکبر سره) مه ځه، ته نه ځمکه څیرولی شې، نه د غرونو هسکوالي ته رسیدلی شې.

یعنې په ځمکه داسې مه ګرځه لکه هرڅه چې ته کوې او په ځان دومره مه غره کېږه چې نورو انسانانو ته ټیټ ګورې. پر لار تګ پرمهال هم عاجزي کوه او چې څنګه انسان یې همغه شان اوسه، ځان ښودنه، تکبر، بې ځایه غرور ستا شخصیت زیانمنوي.

شکسته او درونډ انسان واوسه، په هر چا به ګران یې. ښه اخلاق کوه؛ ځکه الله پاک ښه اخلاق خوښوي.

رسول الله ﷺ فرمايي: «د قیامت په ورځ د مؤمن په تله کې تر ټولو درونډ شی، ښه اخلاق دي.»[٧٤]

نو په حقیقت کې د انسان لویوالی په منصب، شتمنۍ او مقام کې نه دی، بلکې په عاجزۍ، ښه اخلاقو او د خلکو سره په همکارۍ کې دی.

---

٧٣: سورة الاسراء، ٣٧ آیت.

٧٤: سنن الترمذي، د حدیث شمېره: ٢٠٠٢.

## ځان تر خلکو لوړ مه ګڼه

رسول الله ﷺ به پخپله خپلې څپلۍ او جامې ګنډلې او په نورو به يې ډېره تکيه نه کوله، دا کار به يې پر خپلې کورنۍ د مهربانۍ له مخې هم ترسره کاوه، هغه مبارک د خپلې کورنۍ پر غړو ډېر مهربان و.

صحابه وو رضي الله عنهم له عائشې رضي الله عنها پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ به په کور کې کوم کارونه ترسره کول، هغې وفرمايل: «كان يَخيطُ ثوبَه ويخصِفُ نعلَه»[٧٢]

ژباړه: (رسول الله ﷺ) به خپل کالي ګنډل او خپلې څپلۍ به يې ګنډلې.

د الله حبيب ﷺ يوه ورځ له صحابه رضي الله عنهم سره په سفر و. د خوراک لپاره د پسه حلالولو پرېکړه وشوه، چا ويل زه به يې حلال کړم، نورو د اور بلولو مسووليت واخيست. رسول الله ﷺ وويل: زه به لرګي را ټول کړم. صحابه کرامو په حيرانۍ وويل چې نه، دا کار هم موږ کوو. رسول الله ﷺ وويل: الله پاک دا نه خوښوي چې يو انسان له خپلو نورو ملګرو څخه ځان پورته وګڼي، پخپله ښغمه وي او په نورو امر کوي.

دا د مشرۍ يا رهبري يوه غوره ځانګړنه ده چې له خپلې ډلې سره پخپله هم کار کوې. رهبر دې ته وايي چې هغه کار کوي او بل ته يې د يوې ښې بېلګې په توګه ښودنه کوي چې دا کار به داسې کوې.

له بده مرغه ډېرى کسان چې د يو کار مشري کوي، په دې فکر وي چې څنګه ځان ارامه کړي او د کار بار په نورو واچوي.

---

٧٢: صحيح البخاري، د حديث شمېره: ٦٧٦.

رب دې موږ له داسې حالته وساتي چې د جنت په څو قدمۍ کې مفلس شو او له دغه لوی نعمته محروم شو.

که دنیا کې د انسانانو حقونه نه ورکوې، نو مه هېروه چې په قیامت کې به یې الله پاک له تا اخلي او مستحق ته به یې ورکوي.

دا څومره لوی تاوان دی! دنیا کې په نېکو عملونو ستړی یې او فکر کوې جنت ګټې، خو د خلکو د حق ضایع کولو او غیبت له امله دې ټوله خواري سیند ته وغورځول شي.

خلیفه عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه یوه ورځ له خپلو ملګرو سره ناست و او له خلکو یې پوښتنه وکړه چې ناپوه انسان څوک دی؟

یوه وویل: ناپوه انسان هغه دی چې د دنیا لپاره اخرت له لاسه ورکوي.

عمر وویل: تر دې هم ډېر ناپوه هغه انسان دی چې د نورو د دنیایي ګټې لپاره خپل اخرت خرابوي.

د بېلګې په توګه، یو څوک د نورو لپاره د ګناه اسباب برابروي او د هغوی د ګناه لامل ګرځي. د بل چا د ګټې لپاره دروغ وایي، د ملګرو د خوشحالۍ لپاره ګناه ترسره کوي، هغوی بدو کارونو ته هڅوي، د دې لپاره چې ساعت یې تېر شي. خوند به هغوی اخلي، خو اخرت کې به دی مخ توری وي.

نو هر مسلمان ته پکار ده چې د خپلو نېکو عملونو ساتنه وکړي، تر څو قیامت کې د خپلو عملونو له ضایع کېدو او مفلسۍ وژغورل شي.

## دا کار نېک عملونه له منځه وړي

په روایتونو کې راځي چې د قیامت په ورځ به یو انسان ته عملنامه ورکړل شي. دی به ګوري چې حساب کتاب به یې له ترسره کړو عملونو سره توپیر لري او ډېر نېک عملونه به پکې نه وي لیکل شوي.
شکایت به وکړي چې دا عملنامه ښایي د کوم بل کس وي؛ ځکه ما خو ډېر عبادتونه کړي وو، نېک عملونه مې کړي وو، لمونځونه مې کړي وو او صدقې مې ورکړې وې. زما هغه عملونه خو نه دي لیکل شوي.
ورته به وویل شي: ستا نېک عملونه چاته ورکړل شوي.
ستا نېک عملونه هغه کسانو ته ورکړل شوي چې تا یې دنیا کې غیبت کړی و، بهتانونه دې پرې لګولي وو او د هغوی حق دې خوړلی و.
په نورو روایتونو کې هم راځي چې قیامت کې به ځینې خلک مخکې له دې چې جنت ته لاړ شي، دوی به ودرول شي او امر به ورته وشي چې خپلو منځونو کې حساب کتاب وکړئ او د یو بل حق ورکړئ.
خلک به د یو بل حق ضایع کېدو په بدل کې نېکي ورکړي تر دې چې مفلس به شي.
که د خلکو حق دې خوړلی وي، د چا غیبت دې کړی وي، یا دې کوم بل زیاتی له چا سره کړی وي، یا نورو ستا حق ضایع کړی وي، ټول به یو بل ته د حق په بدل کې خپلې نېکۍ ورکوو.
افسوس د هغه چا په حال چې په پای کې ورته هېڅ نېکي پاتې نه شي.

## دې خبرې ته جدي پام کوه

صحت، مال، علم او نور نعمتونه د اللّٰه پاک د ازموينو اسباب دي، که په ګټوره لار يې ونه کاروې، بېرته يې درڅخه اخيستلی شي.

دغه نعمتونه درسره د اللّٰه پاک امانت دی، که په داسې څه کې ترې استفاده کوې چې اللّٰه پاک پرې خپه کېږي، خيانت کوې چې له امله يې بدبخته کېدای شې.

زما او ستا وطن کې ځومره کونډې، يتميان او بې وزله خلک دي چې شپه په وږې ګېډه ويده کېږي او سهار حيران وي چې اولاد به يې څه خوري. ددې پر ځای چې د داسې خلکو په مرسته جنت وګټې، برعکس مال او نور امکانات په داسې لارو لګوې چې په دنيا دې هم بدبخته کوي او اخرت دې هم بربادوي.

د هرې پيسې او د هرې ثانيې په بې ځايه کارولو د اللّٰه پاک پر وړاندې مسوول يې او ځواب به يې ورکوې.

موږ فکر کوو چې په صدقه او د خلکو په لاسنيوي مال کمېږي، برعکس په نېکو کارونو کې د مال او وخت لګولو سره دغه نعمتونه برکتي کېږي. که ته صدقه نه کوې ښايي مال په خپلې يا د اولاد په ناروغۍ ولګوې. دري کې متل دی وايي صدقه رد بلا است، دا پخه خبره ده.

نو له همدې امله، د اللّٰه پاک لخوا درکړل شويو نعمتونه شکر ادا کړه او هڅه وکړه چې د خير په کارونو کې ترې استفاده وکړې.

داسې ملګري باید وټاکې چې له هغوی سره په مجلس دې ایمان تازه او خپل رب ته نږدې شې.
هغوی چې له الله پاک سره ښه اړیکه لري، د نوملړ سر ته یې راوله.
لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي له هغوی سره تلپاتې ملګرتیا کوه او زړه ترې مه بدوه.
د ګټې، خوشحالۍ او ټوکو ملګري هم ساته، خو ځای یې تر هغو ملګرو وروسته کړه چې د الله پاک د دین خیال ساتي او لومړیتوب هغو ته ورکړه، چې په مجلس یې ته الله پاک ته نږدې کېږې.

## رښتینې څېره

امام احمد ابن حنبل رحمه الله د خپل وخت مشهوره عالم یوه ورځ د بغداد بازار کې یو پېټی پر اوږه روان و. سیمه کې خلکو او هټیوالو خپل کارونه پرېښودل، امام ته ورغلل او غوښتنه یې ترې وکړه چې بار یې دوی ته وسپاري چې تر کوره یې ورسره یوسي. له دې غوښتنې سره د امام احمد ابن حنبل رحمه الله رنګ بدل شو او شاوخوا را ټول شویو کسانو ته یې وویل: موږ مسکینان یو او که الله پاک زموږ پرده ونه کړي، رسوا کېږو. یعنې دا د الله پاک رحمت دی چې زموږ پرده یې کړې او خلکو ته ښه ښکارو، که زموږ پټې او حقیقي څېرې خلکو ته ښکاره شي، ښایي خلک خپلې لارې جلا کړي.
رښتینې څېره د خلکو ظاهري بڼې له مخې نه پېژندل کېږي؛ بلکې د زړه له اخلاص او تقوا څخه د انسان رښتینې څېره پېژندل کېږي.

ملګرتیا دوامداره پاله څوک چې له الله سره اړیکه پالي). ایا ته د دنیا ښکلا خوښوې؟ د یو داسې چا اطاعت مه کوه چې هغه خپل زړه زموږ له یاد څخه غافل کړی دی او د خپل نفس پیروي کوي او د هغه کړنلاره په افراط او تفریط ولاړه ده.

د ملګرتیا لپاره څومره پیاوړی او ګټور معیار!

الله پاک له هغو سره د ملګرتیا پاللو سپارښتنه کړې، چې د خپل رب عبادت کې هڅانده وي یا سهار او ماښام عبادت کوي او همېشه د الله پاک رضا ترلاسه کولو هڅه کوي.

الله پاک امر کوي چې له داسې خلکو سترګې مه اړوه یعنې ملګرتیا ورسره ټینګه پاله.

په دې مبارک آیت کې الله پاک موږ د هغوی له ملګرتیا منع کوي، چې له خپل رب او د هغه له عبادت څخه بې پروا وي او د خپلو خواهشاتو او نفسي غوښتنو غلامي کوي او په هر کار کې افراط او تفریط کوي.

ملګرو کې دې وګوره او ارزونه وکړه چې څوک د الله په دین مینان دي او عبادت کې زیات کوښښ کوي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «المَرْءُ على دِينِ خَليلِه، فَلْينظُرْ أحَدُكم مَن يُخالِلْ.»[٧١]

ژباړه: یو کس د خپل نږدې ملګري دین تعقیبوي، نو پام کوئ چې چا سره ملګرتیا کوئ.

٧١: مسند أحمد، د حدیث شمېره: ٨٤١٧. سنن الترمذي، د حدیث شمېره: ٢٣٧٨.

## ښه ملګري وټاکم

په ملګرو کې دې هر یو بېلابېل ارزښت درته لري.
ځینې ستا په زړه راج چلوي او د نورو په زړونو کې ته ځانګړی ځای لرې.
یو شمېر درته مهم دي او غواړې همېشه دې تر څنګ وي، خو داسې دوستان هم لرې چې له مخې پناه کېدو ته یې په طمع یې.
پوښتنه دا ده چې په کومو معیارونو دې ملګري ټاکلي؟
ښایي مادي ګټې، خوشحاله وخت تېرول، په بده ورځ لاسنیوی او نور د ملګرتیا د ټینګوالي لاملونه وي.
په هر معیار چې دې ملګري ټاکلي وي، کومه بده خبره نه ده؛ ځکه دا د انسانانو لخوا ټاکل شوې او هر څوک بېلابېل معیارونه لري، خو پوهېږې چې د ملګرتیا لپاره الله پاک موږ ته کوم معیار ټاکلی دی؟
د رسول الله ﷺ شاوخوا ډېر خلک ور ټول وو، خو الله پاک ورته د ملګرو ټاکلو لپاره دا معیار ټاکلی:
الله تعالی فرمایي: ﴿وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ ۖ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا﴾[۷۰]
ژباړه: او خپل زړه د هغو خلکو په ملګرتیا ډاډه کړه چې سهار او ماښام خپل رب ته بلنه ورکوي (عبادت کوي) او د هغه د رضا یا خوښې غوښتونکي دي او له هغو نه هېڅکله سترګې مه اړوه (داسې خلکو سره

۷۰: سورة کهف، ۲۸ آیت.

﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾[٦٩]

ژباړه: پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې د پروردګار د بخښنې او د هغه جنت خواته تللې ده چې لکه د اسمانونو او ځمکې په شان پراخ دی او هغه (جنت) پرهېزګارانو لپاره تیار کړای شوی دی.

## ځان پخپله ارزښتمن کړه

که خلک دې په ښه والي سترګې پټوي او په ارزښت دې نه پوهېږي، دا دې تا هېڅ خپه نه کړي؛ ځکه د دوی ارزښت ورکول یا نه ورکول ستا د نېکیو تله کې هېڅ اغېز نه لري.

موږ نوح علیه السلام پېژنو، میلیاردونه انسانان د قران کریم په تلاوت کې د هغه نوم یادوي، خو دا د هغه نېکیو په تله کې څه ګټه ورته لري؟

پیغمبرانو پسې خلک منفي خبرې کوي، ایا دا د هغوی د نېکیو په تله کې څه ګټه یا تاوان ورسولی شي؟ نه! هېڅکله نه.

مهمه دا ده چې ته الله پاک سره ښه اړیکه ولرې.

ډېر داسې انسانان شته چې په دنیا کې یې څوک نه پېژني یا سپک نظر ورته کوي، خو الله پاک ته دومره نږدې او ارزښتمن دي چې که په رب قسم یا دعا وکړي، الله پاک به یې قبوله کړي.

یوازې د مال، دارایي او دنیا له امله باید یو څوک درته ارزښتمن نه شي. ډېر پام په معنویاتو ساته؛ ځکه د انسان رښتینی جوهر معنوي وي.

---

٦٩: سورة آل عمران، ١٣٣ آیت.

## دا فرصت له لاسه مه ورکوه

له شنبې ورځې لمونځ پیلوم، سبا توبه کوم، بله ورځ به صدقه ورکړم.

په همدې طمع ورځ تر بلې نېک کارونه ځنډوې، خو دې ته دې پام نشته چې سبا به راشي، ته به نه یې.

ډېرو کسانو همدغه شان د سبا په طمع فرصتونه له لاسه ورکول، خو سبا ته پاتې نه شول.

د عبدالرحمن بن عسیلة الصنابحي رحمة الله علیه په نوم تابعي ویلي: له یمن څخه مدینې ته مو د رسول الله ﷺ ملاقات لپاره سفر وکړ، چې ورسېدو خبر شو چې د الله نبي زموږ تر رسېدو پنځه ورځې مخکې وفات شوی دی.

ده به افسوس کاوه چې کاشکې دغه سفر مو مخکې کړی وای؛ ځکه لږ ځنډ د صحابي کېدو له لوی نعمته محروم کړ.

ځینې وخت څو ثانیو یا دقیقو کې فرصت له لاسه وځي او انسان ترې بې برخې کېږي.

عبادتونه، توبه او نور نېک کارونه مه ځنډوه، یوه شېبه بې پروایي دې له جنت څخه محرومولی او په ناوړه برخلیک اخته کولی شي.

ښایي په توبه دې الله پاک ګناهونه وبخښي، خو که ته یې ځنډوې، الله مه کړه اجل دې پوره وي او ځان محروم کړې، برخلیک به دې څه وي؟

په ژوند کې تر ټولو زیات کوښښ کوه، چې له الله پاک سره دې حساب پاک وي.

دغه وخت ته جوف الیل وایي، الله پاک دغه وخت او په سجده کې دعا نه ردوي. دا د عبادت او دعا لپاره دومره ګټور وخت دی چې تصور یې نه شي کېدای.

الله عزوجل، د ټولو کایناتو خالق له دومره لوی عظمت او قدرت سره غږ کوي چې څوک بخښنه او څه غواړي چې ور یې کړم.

ته چې دغه وخت کې دعا کوې او څه غواړې، ډاډه اوسه چې خامخا به پوره کېږي، که د الله تعالی خوښه وي او ستا پکې خیر وي.

دا دې اوږدمهاله عادت کړه چې د شپې په تروږمیو کې را پاڅېږې، د خوب خوږه بستره پرېږدې او د خپل مهربان رب په حضور کې ناست یې، بخښنه ترې غواړې، زارۍ ورته کوې او د خپلې اړتیا غوښتنه ترې کوې. په توبه ایستلو دې الله پاک تر تا ډېر خوشحالېږي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: په تاسو کې یو څوک په دښته او بیابان کې چې د ورک شوي اوښ په پیدا کولو څومره خوشحاله کېږي، له دې څخه زیات الله تعالی د خپل بنده په توبه باندې خوشحاله کېږي.[٦٨]

په توبه کولو ته ځانګړی او د الله پاک مخلص بنده جوړېږې؛ ځکه هر څوک نیمه شپه د خوب له خوږې بسترې د را پاڅېدو توفیق نه لري.

دغه لمونځ، دغه وخت کې عبادت، دغه وخت کې زاریو او دعاګانو زما په ګډون د ګڼو خلکو ژوند خوندور او له سکون څخه ډک کړی دی، نو ډاډه اوسه چې ستا ژوند هم بدلولی شي ان شاءالله.

٦٨: صحیح البخاري، د حدیث شمېره: ٦٣٠٩. و صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ٢٧٤٧.

دا د اللّٰه پاک سره حقيقت کې بې ادبي ده.
په اللّٰه پاک نېک ګومان کوه صبر کوه او چارې دې اللّٰه پاک ته وسپاره، کله يې چې مناسب وخت راشي، دعا دې قبلوي ان شاءاللّٰه.
د دعا شرايط او سمه طريقه زده کړه او چې دعا دې کوله نور يې اللّٰه پاک ته پرېږده او په اړه يې تشويش مه کوه. که تشويش دې زيات و، بيا دعا کوه تر هغې چې پايله يې ترلاسه کړې.

## د حاجت د پوره کېدو تجربه شوې طريقه

د شپې ناوخته تپه تياره کې چې ټول خلک ويده وي، را پورته شه او د خپل رب عزوجل عبادت ته کېنه.
وغواړه چې هرڅه ترې غواړې په ژړا او زاريو يې ترې وغواړه. چې هره غوښتنه لرې خپل رب ته ووايه چې له تا پرته بل څوک واکمن نشته، يوازې ته کولای شې زما دا ستونزه حل کړې او غوښتنه مې پوره کړې.
دا د شپې هغه برخه ده چې د رسول اللّٰه ﷺ د حديث له مخې په دغه وخت کې اللّٰه پاک غږ کوي: ايا څوک شته چې څه وغواړي، ور يې کړم؟ آيا څوک شته چې بخښنه وغواړي، زه ورته بخښنه وکړم؟
ته په دغه وخت کې غږ کوې چې يا اللّٰه زه بخښنه غواړم، يا اللّٰه زما دا غوښتنه پوره کړه. ايا اللّٰه پاک به ستا دا غږ نه اوري؟
ته د مهربان او رحيم رب په حضور کې ناست يې او يو څه ترې غواړې. ايا هغه به يې ردوي او تا به ناهيلی پرېږدي؟ نه هېڅکله نه!

ووايي او پر ما ايمان راوړي ته دا خبره هغوی ته واوروه، کېدای شي چې هغوی سمه لاره ومومي.

موږ په دې نه پوهېږو چې الله پاک راته څومره ښه تدابير نيولي. ته چې کوم تدبير د ځان لپاره نيسي ډاډه اوسه چې الله پاک ميليونونه ځله تر هغې ښه تدبير درته نيسي او په چارو دې تر تا ښه پوهېږي، خو ته ناست يې خلکو ته له خپل مهربان رب څخه ګيلې کوې او پرې بدګومانه يې.

ته که ډېر مال او دولت غواړې، څه معلومه ده چې ستا د سر ګواښ پکې وي او د همدې لپاره الله پاک ستا دغه دعا ځنډوي.

ايا اماده يې چې ميلياردر شې، خو ورسره دې سر ته ګواښ پېښ شي؟ يا ته کوم بل څه غواړې چې ښايي تاته پکې بېلابېلې ستونزې او کړاوونه پيدا شي. ناروغ شې، لالهانده شې، ذهني ستومان شې يا کوم بل تکليف درته ورسېږي، نو دغه ډول ژوند خوښوې او که مطمئن زړه او خوشحاله ژوند؟ تاته صحت ارزښتمن دی که مال؟

الله پاک نه دي ويلي چې نه يې درکوم، بلکې کله چې ترې يو څه غواړې او مناسب وخت يې راشي، خامخا يې درکوي که يې خوښه شي.

﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾[٦٧]

ژباړه: او موږ د هغه له شاهرګ نه هم زيات هغه ته نږدې يو.

نو بيا ته ولې تشويش لرې؟

ولې دا فکر کوې چې الله پاک زما دعا نه قبلوي؟

---

٦٧: سورة ق، ١٦ آيت.

## د دعا قبلېدو مهم شرط

کله په ناپامۍ کې له موږ څخه الله پاک سره بې ادبي کېږي، له خپل مهربان رب څخه یو غوښتنه کوو یا دعا کوو او سملاسي یې د قبلېدو طمع لرو، خو که لږ وخت مو پایله ونه لیده سملاسي په الله پاک بدګومانه کېږو او خلکو ته شکایتونه پیلوو. کله خو ان د دعا پرمهال شک کوو چې ښایي قبوله نه شي، حال دا چې ممکن د دعا طریقه مو په بشپړ ډول ناسمه وي. یا ښایي د هغې دعا په قبلېدو کې مو خیر نه وي؛ ځکه انسان ډېر محدود فکر لري او په غیبو نه پوهېږي.

برعکس، الله پاک بشپړ علم لري او له هرڅه خبر دی. که د دعا پایله ستا په ګټه وي او ته یې له خپل رب څخه غواړې، ولې یې باید الله پاک قبوله نه کړي؟ ځکه د الله پاک خزانې ډکې دي او تاته د یو څه په درکولو هېڅ بدلون پکې نه راځي، نو ته بیا ولې په دې ځان نه ډاډه کوې چې الله پاک ستا لپاره هره پرېکړه چې کوي، په هغې کې دې خیر وي. الله پاک ځومره واضح فرمایلي: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾[٦٦]

ژباړه: او اې پیغمبره! زما بندګان که له تا نه زما په باب پوښتنه وکړي؛ هغوی ته ووایه چې زه ورته ډېر نږدې یم، بلونکی چې کله ما وبلي، زه د هغه بلنه اورم او ځواب ورکوم، نو هغوی ته ښایي چې زما بلنې ته لبیک

---

٦٦: سورة البقرة، ١٨٦ آیت.

همېشه تمه ساته چې له واده وروسته ژوند کې د مېږه او ښځې ترمنځ عادي اختلافات شته وي.
صبر او د يو بل له تېروتنو تېرېدل يا سترګې پرې پټول او يو بل ته نېک نيت او ښه ګومان د ګډ ژوند د بريالیتوب لاملونه دي.

## په دې دوه کارونو ځان نېکمرغه کړه

الله پاک د لورينې له مخې انسان لپاره هره ورځ پنځه داسې ځانګړي وختونه ټاکلي، چې پکې خپل رب سره ملاقات وکړي او روحي سکون او معنوي انرژي ترلاسه کړي.
د لمانځه په هر رکعت کې موږ وايو: ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [٦٥]
ژباړه: موږ همدا ستا عبادت کوو او يوازې له تا څخه مرسته غواړو.
د لمونځ په واسطه دې له خپل رب سره اړيکه پياوړې کېږي. دا ځانګړی وخت دی چې ته پکې مرسته او توفيق غواړې.
بل ځانګړی وخت چې ته له خپل رب سره پياوړې اړيکې جوړولی شې، هغه وخت دی چې ته پکې قران کريم لولې.
ددې عظيم کتاب په تلاوت سره د الله پاک په سپارښتنو پوهېږې، هدايت درته کېږي او ژوند دې برکتي کېږي.
دغه دواړه يعنې لمونځ او د قران کريم تلاوت د خوشحالۍ، د ښه ژوند او سعادت سرچينې دي، نو که غواړې چې نېکمرغه انسان اوسې، لمونځ او د قران کريم تلاوت هېڅکله مه پرېږده.

---

٦٥: سورة الفاتحه، ٥ آيت.

په ګډ ژوند کې دا ستونزې وي، دا طبيعي دي او دا د الله تعالی له لوري ازموينې وي.

تا هسې د عادي اختلافونو له کبله په تشويش خپل ژوند بې خونده کړی.

د خير شعال په نوم د ګډ ژوند يو ماهر چې د شرعي علومو دوکتور او د غاښونو ډاکټر هم دی وايي: په ګډ (د ښځې او مېړه) ژوند کې هره ورځ درې اختلافونه طبيعي دي. يعنې هره ورځ په طبيعي ډول درې ځله د مېړه او ښځې ترمنځ اختلافات او جنجالونه را پيدا کېږي، چې په کال کې دا شاوخوا ۱۰۰۰ اختلافونو ته رسېږي. دا معمول او طبيعي دي.

که تر دې زياتېږي، بيا بايد غور پرې وشي؛ ځکه ژوند کې ستونزه شته او ډېر کار غواړي چې عادي حالت ته ستون کړای شي.

دوه متفاوت انسانان يو ځای سره ژوند کوي، ستونزې به پکې نه وي؟

که ګډ ژوند کې دې سراسر خوشحالي او هېڅ ستونزه نه غواړې، بيا خو جنتي ژوند غواړې چې دنيا کې ناممکن دی.

د واده ژوند د تفاهم ژوند دی. دا داسې يو نازک تار دی چې که مېرمن يې يو طرف ته کش کړي، خاوند يې بايد ور پرېږدي؛ که خاوند يې کشوي، مېرمنه به يې ور پرېږدي. په همدې ډول ژوند ادامه کوي، خو که دواړه يې د خپل ځان په لوري د کش کولو کوښښ کوي او يو بل ته يې نه پرېږدي، تار غوڅېږي يا ګډ ژوند له منځه ځي.

کله چې ته غوسه وې، هغه دې صبر کوي او کله چې هغه غوسه وه، ته صبر کوه.

## له واده وروسته لاهم خوشحالي نه لرې؟

واده دې کړی، خو ژوند دې له ناخوالو، کړاوونو، تشویشونو او جنجالونو ډک دی.

ایا پوهېږې ولې؟

ځکه چې طمع دې لوړه ده او دنیا کې جنتي ژوند غواړې.

واده د دوو بېلابېل فکر او خوی لرونکو انسانانو ګډ ژوند دی؛ په دغه ګډو ژوند کې اختلافات او سختۍ طبیعي دي.

رسول الله ﷺ زموږ مور بي بي عایشې رضي الله عنها ته ویل: اې عایشې، په غوسه دې هم پوهېږم او چې له ما راضي یې هم پوهېږم.

هغې وویل: څنګه، اې د الله رسوله؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: کله چې ته غوسه یې، د ابراهیم علیه السلام رب په نوم قسم کوې او کله چې خوشحاله یې، زما رب په نوم قسم کوې. یعنې د غوسې حالت کې زما نوم نه اخلې.

د مؤمنانو مور دا خبره تایید کړه او ویې ویل: اې د الله رسوله! له دې وروسته به غوسه کې هم ستا نوم نه بدلوم.

د ایوب علیه السلام مېرمن نافرمانه وه چې ژوند یې ور تریخ کړی و.

د فرعون مېرمن ښه انسانه وه، خو مېړه یې بې لارې، سرکش، تر ټولو ډېر ګنهګار او کافر و.

د لوط علیه السلام مېرمن بې لارې وه. همداسې د نورو پیغمبرانو، د چا مېرمن بې لارې وه، د چا اولاد بې لارې و.

هغه وروڼه او خویندې چې اولاد نه لري، کله چې مو د بل چا اولاد لیده د زکریا علیه السلام په شان په لمانځه دربېږئ، دوه رکعته نفل کوئ او سجده کې له خپل رب څخه اولاد غواړئ، یا کومه بله اړتیا که لرئ هغه ترې غواړئ. اللّٰه پاک ته زارۍ کوئ چې یا اللّٰه! زه هم ستا بنده یم، فلاني بنده ته دې دا نعمت ورکړی دی، ما هم پرې ونازوه.

همغه شان چې زکریا علیه السلام له خپل ربه دعا غوښتې وه.

له دعا وروسته ډاډه اوسئ چې اللّٰه پاک مو اړتیاوې پوره کوي او پخپل مهربان رب نېک گومان ساتئ.

## ناځوانه ملگري

ځینې خلک چالاکي، دوکه او ناځواني کوي، خو ددې له پاسه دا بد گومان کوي چې ته د هغوی په دغه ناوړه چلند نه پوهېږې او فکر کوي چې ته یې غولولی یې، یا ځان ته د هوښیار فکر کوي.

پخوا وخت کې چالاکي یوه وړتیا وه او هر چا به چالاکي او غولول نه شو کولای، خو په اوسني زمانه کې دا عیب دی؛ ځکه اوس ډېری خلک چالاکه دي.

ډېره مهمه ده چې داسې خلک وپوهول شي چې ته د دوی په چالاکي پوهېږې، خو لحاظ او درناوی یې کوې.

تر دې بله لویه ناځواني د دوی دا ده چې تاته د فرصت او د گټې د وسیلې په سترگه گوري، خو چې کله دې گټه نه ور رسېږي لار جلا کړي. له داسې خلکو سره ملگرتیا پالل د وخت ضایع کول دي.

ژباړه: په خوب کې پرښتو ورته غږ وکړ او هغه په دې وخت کې په خپله خانه کې په لمانځه ولاړ و، چې الله تاته د یحیی زېری درکوي هغه به د الله له لوري د یو فرمان د رینښتنیوونکي په توګه راشي، په هغه کې به د سرداری او لویې نښه وي پر خپل نفس به په بشپړه توله مانا حاکم وي، په پېغمبرۍ به سر لوړی وي او په ښو کسانو کې به وشمېرلی شي.

زکریا علیه السلام حیران شو؛ دده عمر ډېر زیات و او د خپلې مېرمنې په شنډوالي باندې چې اوږده موده د دوی اولاد نه و، دا ورته ډېره حیرانوونکې وه چې الله پاک څنګه دا زېری راکوي!

﴿قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَأَتِي عَاقِرٌ ۖ﴾[٦٣]

ژباړه: زکریا ووېل زما ربه یا پالونکیه! زما به زوی له کومه شي، زه خو ډېر زیات سپین ږیری شوی یم او زما ښځه شنډه ده؟

﴿قَالَ كَذَٰلِكَ اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ﴾[٦٤]

ژباړه: (الله پاک ورته) وفرمایل، همداسې به وشي، د الله چې څه خوښه وي همغسې کوي.

اوس دې قرآني مبارکه کیسه کې زموږ لپاره څه درس او ګټه ده؟

کله چې دې یو څوک لیده چې یو نعمت الله پاک ورکړی دی، د کینې او حسادت پر ځای خوشحالېږه او سملاسي الله پاک ته دعا کوه چې رب تاته هم نعمتونه درکړي او اړتیاوې دې پوره کړي.

---

٦٣: سورة آل عمران، ٤٠ آیت.

٦٤: سورة آل عمران، ٤٠ آیت.

﴿هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ ۖ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ﴾[٦١]

ژباړه: ددې حال په لیدلو زکریا خپل رب ته دعا وکړه او ویې ویل زما پروردګاره! پخپل قدرت ماته ښه اولاد په برخه کړه همدا ته د دعا اورېدونکی یې.

ځینو تفسیرونو کې راغلي چې دغه وخت زکریا علیه السلام شاوخوا (۱۲۰) کلن او مېرمن یې (۱۰۰) کلنه وه.

په دې عمر کې د اولاد زېږول ناممکن کار بلل کېږي، خو د زکریا علیه السلام پام شو چې مریم سره الله پاک ځانګړی تعامل کوي، نو د هغه دعا به هم نه ردوي او ورسره به ناممکن کار ممکن کېږي.

الله پاک چې کله وغواړي خپل ټاکل شوی قانون هم بدلوي.

زکریا علیه السلام په لمونځ ولاړ و. کله چې له سجدې راپورته شو، الله پاک یې سملاسي دعا قبوله کړه، ملایکې یې ورته را ولېږلې او زېری یې ورکړ چې ستاسې به اولاد کېږي او نوم به یې یحیی وي.

یعنې دومره ژر یې دعا قبوله شوه!

په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًا كَلِمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ﴾[٦٢]

---

٦١: سورة آل عمران، ٣٨ آیت.

٦٢: سورة آل عمران، ٣٩ آیت.

کله چې به کور ته ستنېدو زکریا علیه السلام به د مریم علیها السلام عبادتځي کې بېلابېل نا اشنا خواړه لیدل چې ورسره به حیران شو.

په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۖ﴾[58]

ژباړه: زکریا به چې هر وخت محراب ته ورته، نو له هغې (مریم) سره به يې رزق مونده.

زکریا علیه السلام به ترې پوښتنه کوله:

﴿قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا ۖ﴾[59]

ژباړه: ویل يې (پوښتنه به يې کوله) اې مریم! دا تاته له کومه راځي؟

مریم علیها السلام به ورته وویل: ﴿قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۖ﴾[60]

ژباړه: هغې به ځواب ورکاوه، د الله له لوري راغلي دي، د الله چې چاته خوښه شي بې حسابه روزي ورکوي.

زکریا علیه السلام دغه ظرافت ته پام شو چې له مریم علیها السلام سره الله پاک ځانګړی تعامل کوي او له جنت څخه ورته ځانګړي خواړه استوي یا ځانګړي خواړه يې په محراب کې پراته وي. ددې حالت په لیدو زکریا علیه السلام سملاسي په لمانځه ودرېد او دا دعا يې پیل کړه:

---

۵۸: سورة آل عمران، ۳۷ آیت.

۵۹: سورة آل عمران، ۳۷ آیت.

۶۰: سورة آل عمران، ۳۷ آیت.

## د داسې حالت په لیدو ژر دعا کوه

که اولاد نه لرې، ژوند دې له بېلابېلو کړاوونو ډک دی، دعا کوې، خو نه قبلېږي یا کوم بل څه دې ځوروي او غواړې چې حل شي، یوه قرآني طریقه در ښیم عمل پرې کوه اړتیاوې به دې پوره شي ان شاءالله.

دا د زکریا علیه السلام د دعا غوښتلو طریقه ده چې قران کریم یې یادونه کړې چې موږ ترې د دعا غوښتلو طریقه زده کوو.

کله چې الله پاک د عمران په کور کې مریم علیها السلام پیدا کړه او مور یې هغه د رب عزوجل په لار کې نذرانه کړه، الله پاک یې نذر ومانه.

بیا د خلکو ترمنځ د مریم علیها السلام د کفالت پر سر جنجال شو چې څوک به یې پالنه یا کفالت وکړي.

درې ځله سر په سر د پچې اچونې په پایله کې یې پالنه زکریا علیه السلام ته ورکړل شوه.

په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا﴾[57]

ژباړه: او زکریا یې د هغې پالونکی وګرځاوه.

په هغه وخت کې داسې دود و چې خلکو به خپل نارینه اولادونه د عبادت ځایونو خدمت ته ځانګړي کول.

مریم علیه السلام چې کله نجلۍ پیدا شوه، خلکو ورسره ځانګړی تعامل وکړ او هغه یې د بیت المقدس خدمتګاره انتخاب کړه.

هر ځل به چې د عبادت ځای خدمت څخه فارغېدله، کور ته به تلله.

---

۵۷: سورة آل عمران، ۳۷ آیت.

بیا لګیا وي مال لګوي، چې خپل صحت بېرته ترلاسه کړي، خو وخت پرې تېر وي او د ژوند خواږه وختونه او فرصتونه یې له لاسه ورکړي وي.

## د ذهني سکون راز

ځان درته تر ګېڼو خلکو په مادي او دنیوي پلوه کم ښکاري او ارمان لرې، چې د فلاني په شان ژوند دې لرلی، د هغوی امکانات او مؤقف چې وینې ځورېږې.

که ته د هغه فلاني د ژوند په راز پوه شې او هغه څه درته ښکاره شي چې د پردې تر شا دي، پوهېږې سملاسي به ووایې الحمدللّٰه چې زه د هغه په شان نه یم.

ډېری انسانان ښکاره، په ځانګړي ډول ټولنیزو رسنیو کې چې کله د چا داسې عکسونه وګوري چې خپل مال، موټر، کور یا کوم بل قیمتی شی پکې ښکاره کوي، د لیدونکي طبیعت ورته خراب شي او سملاسي ارمان کوي چې کاشکې داسې ژوند زما وای، خو که حقیقت ورته څرګند شي دوی به تر هغوی څو ځله غوره وي.

له خلکو سره د ځان پرتله کولو او په دې اړه د تشویش کولو پر ځای د اللّٰه پاک په درکړل شویو نعمتونو راضي اوسه، صبر او شکر کوه، ددې په بدل کې به اللّٰه پاک اجر درکړي او د صبر کوونکو په ډله کې به دې حساب کړي ان شاءاللّٰه.

شکر او رضایت د آرامښت او روحي سکون راز دی؛ هره ورځ یې په یاد ساته او د خپلو نعمتونو قدر وکړه.

## دا ځان ته قاعده وټاکه

کله چې ژوند درباندې سخت شو، زړه دې تنګ و، ځان درته وروسته پاتې ښکارېده او حالاتو ستړی کړې، د قران کریم دا آیت ذهن ته راوله او ځان ته یې د قاعدې په توګه وټاکه:

﴿وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ﴾[٥٦]

ژباړه: که تاسې د الله د نعمتونو شمېرل وغواړئ نو نه یې شئ شمېرلی، حقیقت دا دی چې هغه ډېر بخښونکی او مهربان دی.

هغه کور چې ته یې لرې، د ډېرو بې کوره او بې سرپناه خلکو ارمان دی.

کوم صحت یا روغتیایي حالت چې ته لرې، د ډېرو ناروغانو او معیوبانو هیله ده چې ستا په شان روغ صحت او غړي ولري.

هغه خندا چې ته یې کوې، د ډېرو هغو ارمان دی چې له اوږدې مودې راهیسې خپه دي او په شونډو یې موسکا نه ده راغلې.

ستا کاروبار د ډېرو بې کاره او بې دندو خلکو ارمان دی.

او بالاخره هر هغه حالت چې همدا اوس یې ته لرې، د شکر وړ دی.

ته په داسې حالت ناشکري کوې چې د ډېرو خلکو ارمان دی.

د هغه چا په شان مه اوسه چې ټول عمر په دې وېره تېروي، چې له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ نه شي. ټول عمر هڅه کوي چې د نورو په څېر شي او پخپل اوسني حالت قناعت نه کوي، د خلکو په څېر کېدو له امله یې خپل ژوند سخت کړی او صحت بایللی وي.

---

٥٦: سورة النحل، ١٨ آیت.

ژباړه: یو شی تاسې ته بد ښکاري او همغه ستاسې لپاره ډېر غوره وي او کېدای شي چې تاسې یو شی خوښوئ او همغه ستاسې لپاره بد وي.
نو تل په یاد ولره چې د اسبابو پر ځای په مسبب یا د اسبابو په مالک توکل یا تکیه وکړې. که ته یې تل د راضي ساتلو کوښښ کوې، هغه به ټول امکانات ستا په ګټه څرخوي او دغه اسباب به دې د خوشحالۍ او سعادت لامل شي، نه د بدبختۍ، خو که ته له خپل ربه بې پروا کېږې او په ځان غره یې، پخپلو امکاناتو دې بدبخته کولای شي.

## کینه ناک انسان کې خیر نشته

مسلمان د مینې او انسانیت بېلګه ده او په هغه انسان کې خیر نشته چې له کرکې او کینې څخه ډک وي.
مسلمان ته لازمه ده چې خوش اخلاق او مینه ناک وي.
د محبت پیلامه موسکا ده. له هر مسلمان ورور سره مخامخ کېدو پرمهال موسکا کوه؛ ځکه یوازې دغه کوچنی کار هم صدقه کې حسابېږي.
رسول الله ﷺ فرمایلي: «تبسُّمُكَ في وجْهِ أخيكَ لَكَ صدقةٌ»[٥٤]
ژباړه: مسلمان ورور ته دې موسکا ستا لپاره صدقه ده.
تر ټولو مهمه دا چې رسول الله ﷺ فرمایي: د قیامت په ورځ د مؤمن په تله کې تر ټولو درونده شی ښه اخلاق دي.[٥٥]

---

٥٤: سنن الترمذي، حدیث شمېره: ١٩٥٦.

٥٥: سنن الترمذي، د حدیث شمېر: ٢٠٠٢.

پلار چې کله خپل نوی زېږېدلی ماشوم غېږ کې ونیسې ورته خاندي او خوښ وي، خو کله چې دغه ماشوم لوی شي ښايي پر خپل پلار لاس پورته کړي یا داسې کار وکړي چې له ژونده یې بېزاره کړي.
دا فکر مه کوه چې الله پاک به دې د خوشحالۍ لپاره یو ډول او د خپه کولو لپاره دې نور اسباب کاروي.
په هغه اسبابو چې الله پاک تا خوشحاله کولای شي په همغو دې ژړولی هم شي؛ ځکه دا ټول اسباب او امکانات د هغه په واک او اختیار کې دي. که وغواړي تا پرې خوشحالوي او یا هم ژړوي.
الله پاک په دې ښه برلاسی دی چې ستا جنتي ژوند په بدبختۍ او بې خونده ژوند دې له خوشحالۍ او سکون ډک کړي. قران کریم یې ښه بېلگه یاده کړې ده.
الله پاک د موسی علیه السلام مور ته امر وکړ چې خپل زوی سیند یا ویاله کې خوشی کړي. ته که ورته له انساني عقله وگورې د یوې مور لپاره دا څومره سخت کار دی، خو د الله پاک پرېکړه بل ډول وه. سره له دې چې فرعون نوي زېږېدلي هلکان وژل، الله پاک یې په کور کې موسی علیه السلام لوی کړ او د هغه د پاچاهۍ د ړنگېدو لامل شو.
الله تعالی فرمايي: ﴿وَعَسَىٰ أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ ۗ﴾[٥٣]

---

٥٣: سورة البقرة، ٢١٦ آیت.

هغه موټر چې تا ور پورې خوندورې شېبې تېرلې وې، ګرځول یې دربانډې درووند شول.
له داسې حالتونو سره درته پوښتنه پیدا شي چې د دومره زحمتونو په ګاللو دا هرڅه ما د خوشحالي لپاره ترلاسه کړي وو، برعکس هرڅه ولې بې خونده شوو؟
دغه مادي شیان او امکانات چې تا ورپورې خپله خوشحالي او د ژوند خوندونه تړلي او د نېکمرغۍ لامل یې ګڼې، په حقیقت کې د قدرتمند رب په واک کې اسباب دي، چې د انسانانو په ګټه یا د هغوی پر ضد یې څرخوي.
کله چې انسانان خپل محدود اسباب په بېلابېلو بڼو کاروي. د بېلګې په توګه، په هغه ګیلاس کې چې اوبه څښي، شراب هم پکې څښلی شي.
هغه چاړه چې میوه پرې غوڅوي، د یو چا ژوند هم پرې اخیستلی شي.
هغه لاسپیکر چې موټر کې پرې سندرې اوري، قران کریم تلاوت هم پرې اورېدلی شي، نو کله چې انسان محدود قدرتونه لري او دغه امکانات په بېلابېلو بڼو کارولی شي، نو د الله پاک په اړه دې بیا څه ګومان دی؟
﴿وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ﴾[٥٢]
ژباړه: او همغه (رب عزوجل) وخندول او همغه وژړول.

٥٢ : سورة النجم، ٤٣ آیت.

## د خوشحالي اسباب

ارمان یا موخه لرې، هغه پوره شي، ذهن دې بل څه پسې لالهانده شي. خپلو هیلو پوره کېدو لپاره کوښښ کوې، کله چې یوه پوره کېږي ذهن دې بلې پسې بوخت شي.

د دنیا په مال او متاع پسې ستړی یې او په همدې لالهاندۍ کې کلونه تېرېږي. ژوند له لوړو ژورو سره روان دی، ناڅاپه داسې وخت راشي چې سترګې دې خلاصې شي، خو وخت تېر او لوبه برعکس شوې وي.

هغه دنده او ښکلی دفتر چې تا پکې د کار کولو ارمان درلود، په یو زندان بدل شي. د دوو دیوالونو په منځ کې را ګیر او د تېښتې لار دې ورکه شي، د همکارانو چلند دې ځوروونکی وي، کار درباندې دروند او پرمختتګ درته ناممکن ښکاري.

هغه مېرمن یا هغه مېړه چې تا ورسره د ګډ ژوند ارمان درلود او په ډېره مینه دې ورسره واده وکړ، ناڅاپه په هغه انسان بدل شي چې د خوشحالۍ پر ځای غم او خپګان درکوي. ستا هیله دا وه چې له هغې سره به ستا ژوند له خوشحالیو ډک شي.

ډېری هغه څه چې تا فکر کړی و خوشحالي به دې څو برابره کړي او هغه خوبونه چې تا لیدلي و، ټول خاورې ایرې شول.

هغه کور چې تا یې د اخیستو لپاره ټول عمر خواري کړې وه، په داسې ځای بدل شو چې ورتګ ته دې زړه نه کېږي او د باندې خوښ یې.

ستا توان پورې اړه لري چې هر یو څومره ویلی شې، خو د استغفار په اړه احادیثو کې راځي چې رسول الله ﷺ به هره ورځ لږ تر لږه سل ځله استغفار لوستلو. دا ذکر که ډیر نه شې کولای هر یو لږ تر لږه سل ځله د ذکر یا تسبیح په شان وایه.

لومړی ذکر: لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ ولَهُ الحَمْدُ وهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَديرٌ.

ژباړه: نشته لایق د عبادت مگر یوازې الله، هغه شریک نه لري، هم ده ته پاچاهي ده، هم ده ته ثنا ده او هغه په هرڅه قادر دی.

دویم ذکر: ربِّ اغفِرْ لي وتُبْ عليَّ.

ژباړه: ربه! ماته بخښنه وکړه او زما توبه قبوله کړه.

دریيم ذکر: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمُ.

ژباړه: هیڅ حرکت او هیڅ قوت نشته، مگر د الله پاک په مرسته او توفیق چې هغه د لوړې مرتبې خاوند او عظیم دی.

څلورم ذکر، ابراهیمي درود: اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

ددې مبارکو ذکرونو یا تسبیح لپاره مهالویش جوړ کړه. د بېلگې په توگه، د سهار څخه تر ماښامه وخت څلور تقسیمه کړه او هر وخت کې یې یو ذکر هر څومره چې کولای شې وایه.

درکوم، په داسې حال کې چې وخت او انرژي پکې د همغه عادي کار په اندازه مصرفېږي، نو هوښيار انسان به کوم يو غوره کوي؟
داسې څوک به وي چې د ۲۷۰۰۰ پر ځای، ۱۰۰۰ افغانۍ غوره کړي؟
دا خو پيسې يا ماديات دي، معنويات او اجر خو تر دې هم ډېر ارزښتمن او د اخرت سرمايه ده.
د جماعت لمونځونو سره به دې د حسناتو ذخيره له اجرونو ډکېږي. په هر لمونځ سره به د ۲۷ لمونځونو ثواب ګټې ان شاءاللّٰه.

## د غم او تشويشونو لرې کوونکي ذکرونه

څلور ذکرونه يا دعاګانې دي چې که په دوامداره ډول وويل شي غمونه، تشويشونه او ناهيلي دې له زړه کډه کوي.
دا يوازې زما خبره او تجربه نه ده، بلکې د ځينو تکړه علماوو تجربه شوې خبره ده. هغوی هم دا خبره له ځانه نه ده کړې، ددې دعاګانو فضيلت په احاديثو مبارکو کې راغلی دی.
د تجربې په توګه د يوې مياشتې لپاره دا دعاګانې يا اذکار په پوره باور دوامداره ووايه، د خوشحالۍ او سکون احساس به دې بېرته را ژوندی او ژوند به دې ورسره خوندور شي ان شاءاللّٰه.
ډاډه اوسه چې دا ذکرونه د ې غمونه او بې ځايه فکرونه او سرګردانۍ له منځه وړي.
پوښتنه به دې دا وي چې دا ذکرونه هره ورځ څو ځله وويل شي؟

## ورته کار خو ۲۷ چنده اضافه ثواب

که خلک پوهېدای چې د جماعت په لومړي صف کې په وخت حاضرېدل او لمونځ کولو کې څومره ثواب دی، که دې ته په ورتګ له قرعه کشۍ پرته بله لار نه وای، خامخا به دوی قرعه کشي کړې وه.

که د شپې یا ماسخوتن د لمونځ په فضیلت او اجر څوک پوهېدای په ورتګ به یې ټولو سیالي کوله.

په یو حدیث مبارک کې راځي:«ولو يَعْلَمُونَ ما في العَتَمَةِ وَالصُّبْحِ لأَتَوْهُما ولو حَبْوًا»[۵۰]

ژباړه: که خلک پوهېدای چې د سهار او ماسخوتن په جماعت لمونځونو کې څومره فضیلت دی، که ضرورت وای په خاپوړو به ورغلي وو.

پنځه وخته لمونځ له جماعت سره کوه.

په حدیث شریف کې راځي چې له جماعت سره لمونځ، د انفرادي یا عادي لمونځ په پرتله ۲۷ درجې زیات اجر لري.[۵۱] په نورو حدیثونو کې دا شمېره ۲۵ درجې یاده شوې.

که چاته ووایې چې فلانی کار وکړه ۱۰۰۰ افغانۍ درکوم، خو که دې په ځانګړو شرایطو یا لږ زحمت سره وکړ، په بدل کې یې ۲۷۰۰۰ افغانۍ

---

۵۰: صحیح البخاري، د حدیث شمېره: ۲٦۸۹.

۵۱: «عن ابنِ عُمرَ رَضِيَ اللّٰهُ عنهما، قال: قال رسولُ اللّٰهِ صلَّى اللّٰهُ عليه وسلَّم: صلاةُ الجماعةِ تَفضُلُ على صلاةِ الفذِّ بسَبعٍ وعِشرينَ دَرجةً» (صحیح البخاري، د حدیث شمېره: ٦۴۵. و صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ٦۵۰).

سبحان اللّٰه!

اوس نو فکر وکړه چې اللّٰه تعالی څومره بې شمېره نعمتونه ورېا درکړي دي، ددغو نعمتونو په ارزښت پوه شه او د اللّٰه تعالی شکر اداء کړه.

## د داسې خلکو قدر کوه

په ژوند کې دې ځینې انسانان شته چې ستا لپاره الهي نعمتونه دي.

مرګ مه پرېږده چې د هغوی ارزښت در وښایي. په ژوند یې قدر وکړه.

کله چې مرګ راشي او هغوی واخلي، بیا به پوه شې چې ارزښت یې څومره و او ارمان به کوې چې ولې د هغوی په ارزښت نه پوهېدې.

له مرګ وروسته خپګان، شعرونه ویل، ژړا او افسوس هېڅ ګټه نه لري.

داسې ډېر انسانان شته چې په تللو یې نېمګړی کېږې؛ وګوره چارچاپېر دې څوک دي چې په ژوند کې دې ډېره ونډه لري.

ډېری انسانان د بې پروایۍ له امله د نعمتونو په ارزښت هغه وخت پوهېږي چې له لاسه یې ووځي، خو وروسته افسوس کول په درد نه خوري او هسې ځان ځپل دي.

هغه خوږه خبره چې ته یې اوس ورته کوې ډېر ارزښت لري، تر مرګ وروسته یې که زرګونه ستاینې وکړې ګټه یې نشته.

د ژوند په هره شېبه کې د خپلو شاوخوا خلکو مینه او ارزښت په عمل کې ښکاره کوه. قدر کول یوازې په زړه کې نه، بلکې په عمل او خبرو کې ښکاره کېږي.

بیا ولې د الله پاک شکر نه ادا کوو چې وړیا یې دا ټول نعمتونه درکړي؟
ایا الله پاک زموږ لخوا د شپې او ورځې د شکر کولو مستحق نه دی؟
که د زړه ټکان دې ودروي، یا بدن کې دې یو مهم غړی له کاره وغورځوي، په یوه بې روحه جسد بدلېږې او ژوند دې پای ته رسېږي؟
یوه ملګري مې کیسه کوله چې امریکا کې یو مسلمان سړی و، ناڅاپه پرې د ساه لنډۍ ناروغي راغله. دې اندازې پورې یې ناروغي زیاته شوه چې د روغتون بېړنۍ یا عاجلې برخې ته یې ولېږدوه.
ډاکټرانو ورته مصنوعي اکسیجن ولګاوه او د یوې اونۍ لپاره بستر شو.
الله پاک شفا ورکړه او د رخصتېدو پرمهال نرسانو رسید ورکړ، چې لس زره ډالر لګښت پرې راغلی و. ناروغ د لګښت پاڼې په لیدو سخت وژړل.
روغتیاپالانو خپل مسوول په دې نیت ور وغوښت ګوندې د لګښت په برخه کې ورسره مراعت وکړي.
د روغتون مسوول فکر کاوه ناروغ یې د زیات لګښت له امله خپه شوی، وړاندیز یې ورته وکړ چې د شفاخانې خیریه برخې ته د لاسنیوي لپاره مراجعه وکړي.
ناروغ ځواب ورکړ: نه، د لګښت د لوړوالي له امله مې نه دي ژړلي، زه میلیونر یم او روغتون ته څرخي الوتکه کې لېږدول شوی یم.
ژړا مې له دې امله ده چې زما عمر اویا کاله دی، روغتون کې یوه اونۍ د اکسیجن له امله لس زره ډالر لګښت راغلی، خو ما ټول عمر په وړیا ډول اکسیجن تنفس کړی او له دې کبله مې یو ځل هم د خپل رب شکر نه دی ادا کړی.

## مه پرېږده ډېر ناوخته شي

کلونه وړاندې د روغتون په دهليز کې د کورنۍ له ځينو غړو سره په انتظار ناست وم. هر ځل چې به ډاکټر له بستر خونې راووت، موږ به د ښه زېري په طمع ور پورته شو، خو هغه به د دعا کولو بيا ځلي ټينګار کاوه. دېوال ته مې ډډه وهلې وه او فکر مې کاوه؛ که زما ناروغ پلار جان په دنيايي اسبابو ژغورل کېدای او ما يې د ژوند پور ادا کولای شوای، له هېڅ شي به مې دريغ نه وای کړی. آن که د دنيا تر ټولو مالداره وای او زما په مال د هغه ژوند ژغورل کېدای، ځان به مې تر ټولو فقير کړی و، آن که يوازې لس ورځې نور يې ژوند غځېدلی.

خو داسې نه شو کېدای؛ ځکه د الله پاک پرېکړه چې کله وشي، هېڅوک يې مخه نشي نيولی، که د دنيا ماهر ډاکټران مرستې ته راشي. الله پاک انسانانو ته ډېر نعمتونه وړيا ورکړي دي، خو بېغوره انسان يې په ارزښت نه پوهېږي.

موږ هغه وخت د نعمت په ارزښت پوهېږو، چې کله يې له لاسه ورکړو. د بېلګې په توګه: که څوک دې دوه سترګې د لس ميليونه پيسو په بدل کې وغواړي، ورکوې يې؟

که د پيسو اندازه لس او سل برابره شي، بيا هم اماده يې؟

هغه نړۍ او مال به څه کړې چې نه يې وينې؟

که همداسې د اولاد او نورو نعمتونو په بدل کې درته د مال وړانديز وشي، ښکاره ده چې نه يې منې.

يعنې کله چې يو انسان خپله ګوته بحر کې دننه کړي او بيا يې را پورته کړي، څومره اوبه ترې راخيستی شي؟ يو څاڅکی، دوه څاڅکي هغه هم بېرته غورځېږي، د همدې مثال د دنيا او د بحر مثال د اخرت دی.
سبحان الله! تر دې بل واضح دليل او مثال غواړې؟
دومره توپير لري، يو څاڅکی او سمندر! هوښيار انسان کوم غوره کوي؟
په هر کار کې د اخرت ګټې ته لومړيتوب ورکوه. هرڅه کې ځان سره دا حساب کوه چې ددې کار په دنيا کې ګټه ډېره ده که اخرت کې.
په داسې پروژو او کارونو پانګونه کوه او وخت پرې تېروه چې اخرت لپاره يې ګټه ډېره وي خير که د دنيا ګټه يې لږه وي.
هلته د رسول الله ﷺ مبارک ګاونډيتوب دی او هلته تر ټولو لوی نعمت، د الله تعالی ديدار دی.
په قيامت کې چې کله ټول نېک مسلمانان جنت ته ځي او الله مه کړه ته د ټولو انسانانو او مخلوقاتو په مخ کې خجالت او دوزخ ته روان يې، ايا دغه برخليک او دغه حالت زغملی شې؟
اوس پرېکړه ستا ده چې اخرت ته لومړيتوب ورکوې او که يوازې دا لنډ دنيايي ژوند ته، چې نيم يې په خوب، يوه برخه يې په کړاوونو او غمونو، بله برخه يې په ناروغيو او نورو جنجالونو تېرېږي.
ددې پر ځای هغه ژوند غوره کړه چې نه پکې غم شته، نه کړاو، نه ناروغي، نه خپګان او نه فقر؛ بلکې هلته تلپاتې خوشبختي، سعادت، د الله پاک ديدار او د مدني جانان رسول الله ﷺ ګاونډيتوب دی.

## تلپاتې خوشحالي

مورږ فکر کوو چې مرگ د هرڅه پای دی؟ نه!

ناسم پوه شوي یو؛ ځکه مرگ د هرڅه پیل دی.

له مرگ سره انسان خپل تلپاتې ژوند ته ځي؛ یا تلپاتې خوشبختي یا هم تلپاتې بدبختي. مرگ چې راشي، له شتمن څخه ټوله شتمني اخلي، له غریب څخه غربت، له ناروغ څخه ناروغي اخلي او په دنیا کې هرڅه له انسانه اخلي، خو ورسره یو نوی او تلپاتې ژوند پیلېږي.

له قبر څخه د نېک انسان خوشبختي، سعادت او نېکمرغي پیلېږي او له همدغه ځایه د بد یا کافر انسان تلپاتې کړاو او تباهي پیلېږي.

ایا کله دې په دې فکر کړی؟

د څو سوه یا څو زره کلونو لپاره نه، بلکې د تل لپاره!

نه ختمېدونکي ژوند به وي؛ په جنت یا هم دوزخ کې.

ښه بېلگه یې رسول الله ﷺ ښودلې ده.

رسول الله ﷺ فرمايي: «واللَّهِ ما الدُّنْيا في الآخِرَةِ إلَّا مِثْلُ ما يَجْعَلُ أحَدُكُمْ إصْبَعَهُ هذِه -وأَشارَ يَحْيَى بالسَّبَّابَةِ- في اليَمِّ، فَلْيَنْظُرْ بمَ تَرْجِعُ؟»[٤٩]

ژباړه: په اللّٰه قسم دنیا د آخرت په پرتله څه ده مگر دا چې له تاسې څخه یو کس خپله گوته (-اشاره یې د شهادت گوتې ته وه-) په بحر کې دننه کړي، نو ودې گوري چې څه راخلي؟

٤٩: صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ٢٨٥٨.

هغه ناروغ چې د الله پاک په تقدير باور لري او تکيه پرې کوي، تر هغه ناروغ ډېر د ډاډ او سعادت احساس لري چې ناروغ وي، خو د الله پاک پرېکړو باندې يې تکيه نه وي.

د الله پاک تقدير ته تسليمېدل او قناعت کول، په هر حال راضي اوسېدل، هره پرېکړه چې الله پاک ستا لپاره کړې وي او ته ورته تسليم يې؛ دا ستا ژوند ته سکون او خوشحالي راوړي، خو دلته يوه باريکي شته، هغه دا چې ته بايد لومړی الله پاک راضي کړې.

الله تعالی فرمايي: ﴿رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾[48]

ژباړه: الله له هغو راضي شو او هغوی له الله خوښ شول.

يعنې لومړی بايد ته الله پاک راضي کړې، بيا الله پاک تا راضي کوي.

دا د صحابه کرامو په اړه د قران کريم اشاره ده. هغوی ټول له الله پاک راضي وو او الله پاک هم له هغوی څخه راضي و.

کله چې ته الله پاک راضي کړې دا ټول نظام او ټول اسباب چې د الله پاک په واک کې دي، ستا په ګټه څرخوي.

د الله پاک رضايت لوی نعمت دی چې انسان پرې نازول کېږي.

الله پاک راضي کړه، الله پاک به تا راضي کوي او د هغو کسانو په ډله کې دې راولي چې الله پاک ترې راضي دی.

کله چې داسې وشي دا ټول نظام به ستا په ګټه چلېږي. کله چې ته الله پاک راضي کړې ورسره به بهترين او د سکون څخه ډک ژوند ولرې.

---

٤٨: سورة المائدة، ١١٩ آيت.

ګڼ داسې خپلوان، دوستان او ملګري دي چې ته به پورې زړه وتړې، تکیه به پرې وکړې، خو وروسته پوهېږې، دوی د خپلو ګټو لپاره بوخت وو، تا سره همکاري او ملګرتیا یې موخه نه وه. ښایي دا ډول تجربه به دې ډېره کړې وي.
که له بې ځایه جنجالونو او سرخوږیو خوندیتوب غواړې، له خلکو دې طمع محدوده او کمه ساته.

## د ګڼو ستونزو د حل کیلي

یو لوی نعمت دی چې ګڼ انسانان ترې بې پروا دي.
دا داسې یو نعمت دی چې که انسان یې ترلاسه کړي، د ژوند ټولې ستونزې، کړاوونه، خپګانونه، کینې او ورته نورې ستونزې ورسره له زړه کډه کوي او ستونزې کمېږي.
نږدې هر انسان یې په لټه کې دی، خو ډېر خلک ترې بې پروا دي چې که دغه نعمت ترلاسه کړای شي؛ ژوند یې ورسره خوندور کېږي.
پوهېږې دا څه شی دی؟ د الله پاک تقدیر ته تسلیمېدل یا قناعت کول.
کله چې ته د الله پاک پرېکړو او تقدیر ته تسلیم شې، لویې ستونزې او کړاوونه تا ځپلی نه شي.
هغه فقیر چې د الله پاک پرېکړو او تقدیر ته تسلیم وي، تر هغه غني او مالداره ډېر د هوساینې احساس لري چې مالداره وي، خو د الله پاک په پرېکړو راضي نه وي.

﴿وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ﴾[٤٧]
ژباړه: زما په بندګانو کې ښځي لږ شکر ويستونکي دي.
دغه قرآني قاعده ځان ته په ژوند کې وټاکه او له خلکو سره په تعامل او چلند کې تل پرې غور کوه، ډېرى ستونزې به دې حل شي.
کله چې په ډېرو انسانانو کې لږ خلک د الله پاک شکر کوونکي وي، نو ته هم بايد په دې پوه شې چې له خلکو څخه دې طمع محدوده ساته.
هر چاته داسې فکر مه کوه چې ټول به يو شان وي.
لږ خلک دي چې ښه کيفيت لري، منندوى وي، مرسته کوونکي وي، په بده ورځ پکاريږي او نور هغه ميعارونه پکې وي چې طمع ترې کېږي.
يو عالم له يو حکيمه پوښتنه وکړه چې له خلکو څخه څنګه ځان خوندي وساتم او په امان اوسم، له خلکو سره په جنجالونو اخته نه يم، د خلکو تا ويلو ما ويلو او ورته نورو شيانو څخه انسان په تکليف کې نه وي؟
حکيم ورته وويل، خلکو ته خپل هغه څه چې لرې، ورکوه يې، خو له هغوى يې مه غواړه. يعنې هغه چې په تا د خلکو حقوق دي، ورکوه يې، خو له نورو يې طمع مه کوه.
هغه ورته وويل چې دا خو سخته ده، حکيم ورته وويل ته څه فکر کوې، چې اسانه ده؟ بيا خو له خلکو څخه سلامتي نشته.
موخه يې دا ده، چې له خلکو دې طمع را ښکته کړه؛ ځکه ته چې له خلکو څومره ډېره طمع کوې، همغومره به ځوريږې.

---

٤٧: سورة سبا، ١٣ آيت.

## داسې حالت کې ژر خپل رب ته ستون شه

کله چې دې خلک په دنیا بوخت ولیدل او یوازې په دنیا پسې ستومانه وو، ته خپل رب ته ورستون شه او د هغه په دین ځان بوخت کړه.

کله چې دې خلک ولیدل چې یوازې په خلکو تکیه کوي او له هغوی سره خپله خوشحالي لټوي، ته د خپلې خوشحالۍ لپاره خپل رب ته ورشه او له هغه څخه خوشحالي وغواړه.

که دې خلک ولیدل چې چارواکو ته ور روان دي او هغوی ته طمع لري، ته دې طمع له خلکو پرې کړه او الله پاک ته ستون شه او پر خپل رب تکیه کوه او له هغه طمع ساته.

## له خلکو ډېره طمع مه کوه

کله کله انسان ته ګیله ودرېږي چې هر چا سره ښه کوم، هر چا سره مننه تړه کوم او بد وخت کې یې پکارېږم، خو کله چې بیا زما خلک په کار شي، هېڅوک نه وي او ټول راڅخه مخ واړوي.

ډېری انسانان خپلو ګټو پسې ګرځي او زما د ګټې فکر چا سره نه وي.

په همدې موضوع مې غور کاوه چې د قران کریم آیت را په یاد شو او دا موضوع یې راته حل کړه.

الله تعالی چې کله د ډېرو خلکو یادونه کوي، فرمایي: لَا يَعْقِلُونَ، لَا يَشْكُرُونَ، لَا يَعْلَمُونَ. یعنې ډېر خلک دي چې د عقل څخه کار نه اخلي، ډېر خلک دي چې شکر کوونکي نه دي، ډېر خلک دي چې ناپوهه دي یا نه پوهېږي.

ښه مال وګټه، ځان ښه مالداره کړه، هرڅه ولره، خو الله پاک راضي ساته او اخرت د خپلو کارونو، چارو او ګټو نوملړ په سر کې ولره. همېشه اخرت پر هرڅه لومړی کوه.

## مینه الهي ډالۍ ده

ځومره انسانان دي چې ترمنځ یې غرونه غرونه فاصلې دي، خو پر یو بل له زړه ګران وي او یو بل ته له خپل سر څخه تېر وي، خو څومره د ژوند شریکان دي چې پر یوه بالښت سر ږدي، مګر د زړونو ترمنځ یې اوږد واټن وي.

داسې ښکاري چې مینه یوه الهي ډالۍ ده.

ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۚ﴾[٤٦]

ژباړه: که تا د ځمکې د مخ ټولې خزانې لګولې هم وای، نو ددې خلکو په زړونو کې دې خپلمنځي مینه نه شوای اچولی، خو الله دی چې د دوی زړونه یې سره ولګول.

که غواړې په انسانانو ګران او قدرمن شې، ځان په الله پاک ګران کړه؛ ځکه کله چې په هغه ګران شې رب عزوجل به دې د خلکو په زړونو کې مینه زیاته کړي.

---

٤٦: سورة الأ نفال، ٦٣ آیت.

## دا ورځ له یاده مه باسه

د سلیمان القانوني په نوم یو پاچا د مرګ په بستر پروت و، له خلکو یې وغوښتل چې کله مړ شوم، لاس مې له تابوت څخه را بهر کړئ او همغه شان یې پرېږدئ، ددې لپاره چې خلک پوه شي ان پاچاه هم له دنیا خالي او تش لاس لاړ.

له دنیا موږ ټول تش لاس ځو. ښایسته کور جوړ کړه، خو قبر له یاده مه باسه. ښکلی ژوند، قېمتي موټر، ډېر مال او متاع د دنیا ولره او ځان ته ښه ژوند جوړ کړه، خو اخرت ورسره مه هېروه.

څکه الله تعالی فرمايي: ﴿وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا﴾[٤٥]

ژباړه: ټول به د قیامت په ورځ یو یو د هغه په وړاندې حاضر وي.

نه بارډیګارډان، نه د دنیا مال او متاع، هېڅ شی له ځان سره څوک اخرت ته نه شي وړلی.

الله پاک ته مخامخ به یوازې له خپلو عملونو سره درېږې. هغه پیسې ستا نېک عملونو کې شمېرل کېږي، چې تا د ثواب په نیت د الله په لار کې لګولې وي یا دې په غریبانو صدقه کړې وي.

د نعمتونو په بدل کې د رب شکر کول هم په نېکو عملونو کې حسابېږي.

خپل مال او امکانات د الله پاک د راضي کولو لپاره مصرف کړه، په دنیا کې به غوره انسان یې او اخرت کې به هم خوشبخت شې.

دنیا د ازمویني ځای دی؛ ځان پکې په اسبابو بریالی کړه.

---

٤٥: سورة مریم، ٩٥ آیت.

څومره چې دې ایمان پیاوړی کېږي، همدومره دې ژوند کې لاسته راوړنې ډېرېږي. ورسره به خوشحاله او ارام ژوند لرې او په هرڅه کې به بریالی وې. داسې یو انسان به شې چې لاس پورته کړې، دعا به دې قبلېږي او هرڅه چې غواړې الله پاک به یې درکوي ان شاءالله.

## دومره مینه مه کوه

په انسانانو پورې له اندازې زیات زړه مه تړه؛ ځکه زړونه او حالات بدلېږي. په کرکه کې هم زیاتوالی مه کوه او د سولې لپاره یوه لار پرېږده چې بیا پښېمان نه شې؛ ځکه انسانان تل په یوه حالت نه پاتې کېږي. د چا په لار کې ازغي مه شینده چې سبا ښایي پخپله همدغه لاره تګ ته مجبور شې.

رحمان بابا څومره ښه وایي:

کـر د ګلو کـړه چـې سیمه دې ګلزار شي
ازغي مه کره په پښو کې به دې خار شي
تـه چې بـل پـه غشو ولـې هسې پـوه شه
چې هم دا غشی به ستا په لور ګوزار شي
کـوهـي مـه کنه د بـل سـړي پـه لار کـې
چیرې ستا به د کـوهـي پـه غـاړه لار شي

د ملګرتیا او اړیکو ټول پلونه مه نړوه، سبا به اړ یې چې خلک درته راشي، خو تا به ټولې لارې له منځه وړې وي.
په مینه او کرکه کې همېشه منځلاري غوره کوه.

## غواړې دعا دې قبوله شي؟

خلک پرېږده، ته او خلک ډېر توپیر سره لرئ.

که ته پنځه وخته یا تر خپلې وسې جماعت سره لمونځ کوې، نور عبادتونه چې الله پاک پرې موږ مکلف کړي یو ترسره کوې، که له خلکو سره نېکي او ښه چلند کوې، صدقه ورکوې او یو ښه انسان یې، پوهېږې په دې کارونو الله پاک سره ستا اړیکه ډېره پیاوړې کېږي.

کله چې خپل رب ته نږدې شې او ورسره پیاوړې اړیکه ولرې، ستا هېڅ هغه غوښتنه به رد نه کړي چې ستا په خیر وي، ان شاءالله!

ته کله ګیله کوې چې هرڅه غواړم، خو الله پاک یې نه راکوي. پوهېږې تر کومې اندازې چې ستا ایمان پیاوړی وي، په همغه اندازه به ستا غږ الله پاک اوري، په دې مانا چې ستا لاسته راوړنې ستا د ایمان پیاوړتیا پورې تړلې دي.

کله چې ته خپل ایمان پیاوړی کړې، الله پاک به ستا غږ نېغ په نېغه اوري. ښه بېلګه یې د الله پاک اولیاء یا دوستان دي، دوی هغه کسان وي چې دعا وکړي، ډېری وخت یې دعا نه ردېږي او چې څه وغواړي الله پاک یې ورکوي.

الله پاک سره اړیکه ښه پیاوړې کړه، ټول فرضي، سنت او نفلي عبادتونه ښه په لوالتیا او اخلاص ترسره کوه او یو ښه دینداره انسان له ځانه جوړ کړه، ډاډه اوسه چې الله پاک به درسره ځانګړی تعامل کوي او ځانګړی مسلمان به شې.

یوه مشوره درته لرم عمل پرې وکړه، ګنې ستونزې به دې حل شي او یو بريالی او خوشبخت انسان به شې ان شاءاللّٰه.
هغه دا چې پنځه وخته لمونځ په جماعت کوه.
لمونځ د اللّٰه پاک سره ستا اړیکه ډېره نږدې کوي؛ ځکه تر کليمې وروسته لومړی فریضه لمونځ دی. لمونځ دومره ضرور دی چې آن که د ناروغۍ په بستر پروت يې او د پورته کېدو وس نه لرې، د سترګو په اشاره به لمونځ کوې او اجازه نشته چې قضا يې کړې.
هغوی چې لمونځ نه کوي د الهي توفيق او مرستې دروازې يې پر مخ بندېږي، نو که غواړې د خوشبختۍ او سعادت دروازې دې پرمخ پرانيستل شي، لمونځ کوه. يوازينۍ لاره يې همدغه ده.
مور، سره همېشه دا پوښتنه وي چې پخواني انسانان څنګه بريالي وو؟
سلګونه جلده کتابونه يې ليکلي، ځينې علماوو داسې کتابونه هم ليکلي دي چې د دوی په ژوند يې وويشې کړې، ناممکنه ده ترڅو اټکل وکړای شې، چې دا به هغوی ليکلي وي.
دا توفيق څنګه و او څنګه دوی د تاريخ ځلاند ستوري شوي دي؟
ځکه چې دوی به د جماعت لومړي صف کې ولاړ وو او لمونځ به يې په جماعت سره ادا کولو. تکبير أولی يا د جماعت لومړی رکعت له هغوی څخه نه قضاء کېده.
که غواړې يو بريالی او خوشبخته انسان واوسې، ترڅو دنيا او اخرت وګټې، لمونځ کوه. هېڅکله او په هېڅ حالت کې يې مه پرېږده.

د بېلګې په ډول، په يو سمندر کې ګوته دننه او بېرته يې را پورته کړه، څومره اوبه ترې را اخيستلای شې؟
رسول الله ﷺ همدغه د دنيا او پاتې د سمندر اوبه د اخرت د ژوند اندازه ښودلې ده.
نو هوښيار انسان د هېڅ ټاکنه کوي او که د بحر د اوبو په اندازه لايتناهي ژوند؟ دا معنويات دي ښايي زموږ زړه ته دغه حقيقت لار ونه کړي، خو موږ هغه وخت په دې حقيقت پوهېږو او سترګې مو خلاصېږي، چې کله د الله تعالی پر وړاندې ودرېږو او بيا ارمان کوو او وايو: ﴿يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي﴾[٤٤]
ژباړه: هغه (دوزخي يا ګنهګار) به ووايي چې کاشکې ما د خپل دغه ژوند لپاره مخکې څه توښه برابره کړې وای.
اوس هم فرصت لرې؛ خوښه ستا په لاس کې ده چې سمندر اوبو په اندازه لايتناهي ژوند غوره کوې او که تش د يوه څاڅکي څخه کم ژوند غوره کوې!

## د سعادت کيلي

دا پوښتنه درسره خامخا شته، چې څنګه بريالی او خوشبخت انسان شم؟
هر طرف ته چې ځم دروازې مې پر مخ خلاصې شي، هر کار ته چې لاس اچوم ګټوره پايله ولري او ورسره خوندور ژوند ولرم.

٤٤: سورة الفجر، ۲۴ آيت.

## که داسې ونه کړې، غرقیږې

په سمندر کې یو انسان چې کله د غرقېدو په حال کې وي، د ژغورل کېدو لپاره څومره هڅه کوي او څومره اړمن وي؟

یو ناروغ چې کله د مرگ په بستر پروت وي، څومره اړمن وي چې ژوندی پاتې شي؟ که ډاکټر ورته زهر هم ورکړي په دې نوم باندې چې ژوند دې ژغورل کېږي، دی به یې خوړلو کې دریغ ونه کړي.

خو ایا پوهیږې چې په عادي ژوند کې موږ او تاسې تر دغه دوو پورته یادو شویو انسانانو د الله پاک مرستې ته ډېر اړمن یو؟

که الله پاک له موږ او تاسې سره مرسته ونه وکړي، ډاډه اوسه چې همداسې غرق کېږو لکه څنگه چې یو انسان په سمندر کې پرته له مرستې غرق کېږي. یا لکه همغه ناروغ چې که ډاکټر دوا ورنه کړي، ژوند یې پای ته رسېدلای شي.

موږ یوه شېبه هم د الله پاک له مرستې پرته، په خوشحالۍ، بریالیتوب او سم ډول ژوند نه شو کولای. که فکر مو دا وي چې د الله پاک له مرستې پرته دا هرڅه ممکن دي، هسې ځان دوکه کوو؛ ځکه دغه ډول ژوند تش په نوم ژوند دی. داسې انسانان چې له خپل رب سره یې اړیکه ښه نه وي، ژوندي گرځي، خو په حقیقت کې دوی مړه دي؛ ځکه چې رښتینی ژوند هغه نه دی چې موږ او تاسې ورته فکر کوو.

رښتینی ژوند هغه دی چې موږ او تاسې ترې استفاده وکړو او په په بدل کې یې د اخرت تلپاتې او نه ختمېدونکی ژوند وگټو.

«ولو اجتَمَعوا على أن يضرُّوكَ بشَيءٍ لم يَضرُّوكَ إلاَّ بشيءٍ قد كتبَهُ اللَّهُ عليكَ»
ژباړه: او که ټول خلک را ټول شي چې تاوان درته ورسوي، هېڅ تاوان به ونه شي رسولای، مگر دا چې الله تعالی درته ليکلي وي.
دا پورته نصيحتونه د ترمذي په يوه حديث کې روايت شوي، چې رسول الله ﷺ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته کول او د حديث په پای کې يې ورته فرمايلي: «رُفِعَتِ الأقلامُ وجفَّتِ الصُّحفُ»[٤٣]
ژباړه: قلمونه پورته کړای شوي او پاڼې را ټولې شوې دي.
يعنې، تقدير ليکل شوی دی او دا هرڅه الله پاک ټاکلي دي.
دا د کاڼي کرښې او طلايي قاعدې دي. ولې به نه وي؛ ځکه د رسول الله ﷺ نصيحتونه دي.
ټول تاريخ ولوله، داسې گټور نصيحتونه به ونه مومې.
کله چې خلکو ته سوال نه کوې، د خلکو پر ځای دې طمع الله پاک ته او بشپړه تکيه دې په الله پاک وي، باور دې وي چې گټه او تاوان د الله پاک له لوري دي، همدا دې زړه مطمئن کوي او د مرستې دروازې دې پرمخ پرانېزي او ټول اسباب دې په گټه کاروي.
که الله پاک ونه غواړي، اسباب او تدابير به دې په گټه هېڅ کار نه شي کولای. همېشه اسباب برابروه ورسره د الله پاک څخه مرسته غواړه.
دغه قاعدې په ژوند کې عملي کړه يو خوندور ژوند به ولرې ان شاءالله.

---

٤٣ : سنن الترمذي، د حديث شمېره: ٢٥١٦.

يعنې کله چې سوال کوې، اړتیاوې لرې، دعا کوې، شکایت او نورې ستونزې لرې او غواړې حل شي، له الله پاک پرته له هېچا څخه يې مه غواړه، یوازې له الله پاک څخه د ستونزو حل غواړه.

«وإذا استعَنتَ فاستَعِن باللَّهِ»

ژباړه: او که مرسته غواړې، نو له الله تعالی څخه يې غواړه.

يعنې کله چې مرستې ته اړ يې، له الله پاک څخه مرسته وغواړه.

کله چې الله پاک تاته د مرستې اراده وکړي، انسانان به درته مُسخر يا تابع کړي او په پوره لېوالتيا به ستا مرستې ته خلک را منډې وهي او د مرستې اسباب به درته برابر کړي، تر دې پورې چې دښمن به دې ګټه در رسوي، که الله پاک وغواړي.

درېیم: «واعلَم أنَّ الأمَّةَ لو اجتَمعت علَى أن ينفَعوكَ بشَيءٍ لم يَنفعوكَ إلَّا بشيءٍ قد كتبَهُ اللَّهُ لَكَ»

ژباړه: پوه شه، که دا ټول امت را ټول شي چې تاته څه ګټه ورسوي، نه شي درته ګټه رسولای مګر هغه څه چې الله تعالی ستا لپاه لیکلي وي.

يعنې که دا ټول څه باندې اته میلیارده انسانان را ټول شي، چې ستا مرسته وکړي، دوی به ستا هېڅ مرسته ونه کړای شي، مګر دا چې الله پاک ستا په تقدير کې لیکلي وي.

که الله پاک وغواړي ټول انسانان به ستا مرسته وکړي، خو که رب عزوجل ونه غواړي، که څه باندې اته میلیارده انسانان ستا مرستې لپاره راټول شي، مرسته به دې ونه کړای شي.

## د تاریخ تر ټولو ګټور نصیحت

ډاډه یم چې ددې څو خبرو په زده کولو او پرې عمل کولو سره به داسې ژوند ولرې چې غواړې یې.

دا طلایي قاعدې دي چې د سرو زرو په اوبو باید ولیکل شي. داسې ځای کې یې ولیکه چې همېشه یې وینې او دریادېږي.

دا زما نه بلکې د الله پاک د محبوب پیغمبر ﷺ خبرې دي.

لومړی: «إحفَظِ اللَّهَ یحفَظكَ»

ژباړه: د الله تعالی خیال وساته (پروا یې کوه)، الله به ستا خیال وساتي.

یعنې د الله پاک شریعت بشپړ په ځان عملي کوه، امرونه یې منه او له هغه څه ډډه کوه چې ترې منع کړای شوی یې، الله پاک به دې له ګڼو ستونزو او ناخوالو، ګناه، فحشا، شر، ضرر او له هر هغه څه وساتي چې ځوروي دې او ژوند یې در تریخ کړي.

«إحفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تجاهَكَ»

ژباړه: د الله تعالی خیال وساته، هر ځای به یې ومومې.

یعنې الله پاک راضي ساته او په ګناه ترسره کولو ترې ډارېږه هر ځای چې ورته محتاج یې، الله پاک به ومومې. هر ځای چې مرستې ته اړمن شې هلته به د الله پاک مرسته در رسېږي.

دویم: «إذا سأَلتَ فاسألِ اللَّهَ»

ژباړه: که څه غواړې، له الله تعالی یې وغواړه.

که ابلیس الله پاک د عبادت لایق بللی او په همدې باور وای، تعصب او غرور یې ښایي نه وي کړی او ذلیل شوی نه وي.
یوازې ابلیس ته دغه امر نه و شوی چې آدم علیه السلام ته سجده وکړي؛ بلکې ملایکو چې د الله پاک عبادت یې ددې لپاره کاوه چې هغه یې لایق او وړ دی، دغه امر ومانه او تسلیم شول.
شیطان چې د کوم کار له امله بدبخته شوی، د همغه کارونو ترسره کولو ته انسان هم هڅوي؛ لکه کبر، کینه، حسادت او تعصب.
هغه په الله پاک نېک گومان نه درلود او د خپل مقام او گټې لپاره عبادت کاوه، خو کله چې د ازموینې ځای راغی، خباثت یې څرګند شو.
ځینې انسانان هم چې کله عبادت کوي او له الله پاک د مادیاتو ترلاسه کول غواړي، خو هغه ترلاسه نه کړي، نو سملاسي له خپل رب نه شکایتونه پیل کړي او ټینګار کوي چې زه خو ډېر عبادت کوم، خو الله پاک مې اړتیاوې نه پوره کوي.
په داسې ډول شکایت کوي لکه نعوذ بالله په الله پاک چې نیوکه او احسان کوي.
موږ باید ځان په دې وپوهوو چې د شیطان په شان مطلب اشنا ونه اوسو او عبادت د دنیوي یا مادي گټې لپاره ونه کړو، بلکې په دې بشپړ باور ولرو چې الله پاک د عبادت او اطاعت لایق و او دی؛ په همدې نیت عبادت کوه، آن که څه دې په بدل کې نه ترلاسه کول، په قیامت کې لویه بدله درته په طمع ده چې هغه جنت دی.

لمونځ د ټولو کايناتو خالق الله تعالی سره، د يو کمزوري مخلوق د اړيکې پياوړې وسيله ده. لمونځ ستا د هدايت او له فحشا څخه د وتلو يا د مخنيوي يوه وسيله ده، نو که غواړې خوشبخته اوسې او الله پاک درته هدايت وکړي، نو لمونځ کوه، که لمونځ نه کوې همدا اوس پياوړې اراده وکړه او پاڅېږه لمونځ پيل کړه، که نه نو بدبخته کېږې.

## شيطاني عبادت

ځينې مسلمانان چې کله عبادت کوي، داسې احساس ورسره وي لکه نعوذ بالله په الله پاک چې احسان کوي.

له دې ناوړه احساس او عادت څخه بايد الله پاک ته پناه يوسو؛ ځکه شيطان هم د الله پاک عبادت کاوه، خو ښکاري هغه عبادت ددې لپاره نه کاوه چې الله پاک يې مستحق او لايق دی، بلکې په مشروطه ډول يې عبادت کاوه، ترڅو خپل مقام پرې لوړ کړي او ځان يې د لوړ مقام مستحق باله.

بله ستونزه يې تکبر او تعصب و.

الله پاک امر ورته وکړ چې آدم عليه السلام ته سجده وکړي، متعصب شيطان ته ځان کم ښکاره شو او استدلال يې پيل کړ چې زه ولې انسان ته سجده وکړم، حال دا چې هغه له ختې يا خاورو او زه له اور پيدا يم؟ څومره ذليل غرور!

د برترۍ په دغه احساس يې د الله پاک له امر څخه سرغړونه وکړه.

یعنې بنده ته په سجدې نه کولو باندې شیطان له خپل مقامه ښکته کړای شو، ورټل شو او تر قیامته پورې بدبخته دی او ته خپل رب ته سجده نه کوې؟ ایا بدبخته کېدای نه شې؟ بدبختي دې لازمي نه ده؟ که ته لمونځ نه کوې او ژوند دې له بدبختۍ ډک دی، یو عمده لامل یې همدغه کار دی چې تا پرې ایښی.

زموږ رب پر موږ څومره مهربان دی! شیطان یې امر ونه منلو حالت یې څه ډول شو او موږ یې هره ورځ له امر څخه سرغړونه کوو، بیا هم پر موږ مهربان دی او له ګناهونو او سرغړونو مو تېرېږي.

ښایي ته ووایې چې زه خو لمونځ کوم بیا هم بدبخته یم، نه ته سم لمونځ نه کوې، لمونځ کوې خو حسابي پکې کوې، لمونځ کوې په دې بېړه کې یې چې څه وخت یې ژر خلاص کړم؛ ځکه چې درباندې بوج دی، په حقیقت کې لمونځ راحت کوونکی دی، خو موږ ته بوج ښکاري.

رسول الله ﷺ به بلال رضي الله عنه ته ویل: «أَقِمِ الصَّلاَةَ يَا بِلاَلُ أَرِحْنَا بِهَا»[٤٢]

ژباړه: اې بلاله! لمونځ قایم کړه، موږ ته پرې راحت راکړه.

یعنې کله چې به رسول الله ﷺ ډېر نا ارامه و لمونځ به یې کاوه؛ ځکه چې لمونځ انسان ته ارام، سکون او خوشحالي ورکوي، خو زه او ته فکر کوو چې لمونځ بوج دی. داسې یې ترسره کوو چې یو مسوولیت دی بس خلاص یې کړو، خوند ترې نه اخلو، سکون پکې نه ترلاسه کوو.

---

٤٢ : مشکاة المصابیح، د حدیث شمېره: ١٢٥٣.

## تباه کېږې، که دا کار نه کوې

که لمونځ نه کوې دا یوه خبره مې په یاد ولره، ښایي لمونځ ورسره پیل کړې، پخپل حال رحم وکړې او له دغه غفلت څخه راویښ شې.

پوهېږې الله پاک شیطان ولې ورټلو او ویې شاړه؟

ځکه چې د الله پاک امر یې پر ځای نه کړ او د هغه بنده ته یې سجده ونه کړه. الله پاک ورته امر کړی و چې ادم علیه السلام ته سجده وکړي، خو شیطان له امر څخه سرغړونه وکړه او له همدې کبله الله پاک له خپل مقام څخه وشړلو.

شیطان د الله پاک امر څخه سرغړونه وکړه او سجده یې ونه کړه، چې په بدل کې یې د تل لپاره بدبخته شو.

که زه او ته لمونځ نه کوو، دا هم د الله پاک له امر څخه سرغړونه ده او سجده نه کول هم لویه گناه ده، نو ددې لپاره چې بدبخته نه شې، پخپل حال رحم وکړه او د الله پاک امر پر ځای او لمونځ کوه.

ایا پوهېږې د لمونځ په پرېښودو څومره لویه گناه کوې؟

شیطان د الله تعالی بنده ته سجده ونه کړه، دا یې حال شو او ته پخپله الله پاک ته سجده نه کوې! دا درته ډېره لویه گناه نه ښکاري؟

الله پاک درته امر کړی دی چې ماته سجده کوه، پنځه وخته لمونځ کوه. د هغه پیغمبر رسول الله ﷺ درته ویلي دي. په قران کریم کې هم وار وار درته ویل شوي، خو ته ترې مخ گرځوې.

ایا پام شوی دې نه دی چې لویه گناه کوې؟

ته چې څومره تواضع یا عاجزي کوې، همغومره دې الله پاک د خلکو په منځ کې مقام او عزت لوړوي. برعکس څومره چې متکبره کېږې، الله پاک دې همغومره مقام را ښکته کوي.

## د اولاد تربیه کې د کتابونو نچوړ

فقیر ته صدقه د خپل اولاد په لاس ورکوه؛ چې لوی شي مهربان او سخي انسان به شي.

جومات ته دې اولاد هم له ځان سره بیایه، که غواړې په ځوانۍ کې پخپله خوښه او علاقه جومات کې لمونځ وکړي.

ورته نور ښه کارونه دې د اولادونو په لاس کوه؛ ځکه دوی چې کله په ماشومتوب کې یو کار کوي، په ځوانۍ کې یې ورسره طبیعي علاقه وي.

چې څنګه خپل اولاد غواړې، ته باید همغه شان و اوسې؛ ځکه ماشومان تر ډېره په سترګو زده کړه یا هغه څه کوي چې ویني یې.

که نه غواړې چې اولادونه دې ځینې کارونه وکړي، لومړی باید ته له هغه کار څخه ډډه وکړې، د ماشوم لپاره غوره الګو مور او پلار دي، دوی چې کوم کارونه کوي اولادونه یې همغه کاپي کوي.

ځینې کسان خپل اولاد ته نصیحت کوي چې سیګرټ مه څکوه، خو پخپله دا کار کوي، ماشوم خو تاته ګوري او له ځان سره په دې قانع کېږي چې که دا ښه کار نه دی، نو پلار یې ولې کوي؟

که غواړې چې اولاد دې ښه انسان وي، نو ته باید انسان له ځان څخه جوړ کړې.

## عزت په عاجزۍ کې دی

که د خپل مال او شتمني له امله پر نورو ځان لوړ ګڼې، کبر کوې او خلک کم ګڼې، په حقیقت کې ته فقیر یې؛ ځکه مال لرې، خو احساس دې غني شوی نه دی.

که پخپل علم نورو ته د جاهلانو ګومان یا خطاب کوې، په حقیقت کې ته د علم په لار نه یې تللی؛ ځکه علم انسان کې عاجزي یا تواضع پیدا کوي.

علم، مالداري او دا ورته نور نعمتونه د الهي ازموینو اسباب دي. په دې باندې د الله پاک رضا وګټه او د خلکو خدمت پرې کوه.

که یې سم ونه کاروې او د غرور لامل شي او ناوړه استفاده ترې وکړې، تر ګټې یې تاوان ډېر دی.

الله پاک امر کړی چې له خلکو سره چلند کې ځان لوی ونه ګڼو.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ﴾[41]

ژباړه: او له خلکو سره په مخ اړولو خبرې مه کوه.

یعنې له خلکو څخه مخ مه اړوه، خلکو سره سپک چلند مه کوه، خلکو ته په کمه سترګه مه ګوره، داسې چلند مه کوه چې څوک درته خبره کوي، ته ځان بلې خوا ته بوخت کړې او ارزښت نه ورکوې.

---

۴۱: سورة القمان، ۱۸ آیت.

له اللّٰه پاک څخه هرڅه وغواړه، ان دا چې که د څپلۍ بند دې هم شلېدلی وي، حدیث کې راځي چې دا هم له اللّٰه پاک څخه غواړه.[٤٠] په ډوډۍ کې دې مالګه نه وي، دا هم د اللّٰه پاک څخه غواړه، پاتې خو لا نورې ستونزې یا نور شیان چې ستا ژوند یې تریخ کړی.

## دا کار دې عزتمن کوي

که له خپل رب سره دې اړیکه ښه وي، نور تشویش مه کوه.

که اللّٰه پاک تا لوړ کړي، هېڅوک دې ښکته کولای نه شي، خو که ته یوازې انسانانو سره د اړیکو په جوړولو اخته یې او تکیه پرې کوې، رب به دې خلکو ته پرېږدي.

که ته خلکو ته پاتې شوې، له رب پرته هېڅوک تا لوړولی نه شي، آن که ټوله دنیا یو ځای شي تا به را پورته نه شي کړای، خو که اللّٰه پاک ستا مقام لوړوي، څوک به دې را ښکته کړي او څوک به دې مقام را ټیټ کړي؟

چاته چې اللّٰه پاک عزت ورکړي، هېڅوک یې په عزت داغ نه شي لګولی او که اللّٰه پاک له چا عزت اخلي، څوک یې عزتمن کولای نه شي.

همېشه له خپل رب سره اړیکه پیاوړې ساته او توکل پرې کوه، د نورو شیانو تشویش مه کوه او ډاډه ژوند کوه.

---

٤٠: د حدیث عربي متن: «لیسألَ أحدُکمْ ربَّه حاجتَهُ، حتی یسألَهُ الملحُ، و حتی یسألَهُ شسعَهُ» (خلاصة حکم المحدث: مرسل. المصدر: الجامع الصغیر الصفحة أو الرقم: ٧٥٣٥).

د دعا په طریقه، د دعا په لار او حکمت ځان پوه کړه، ته چې له پیل نه په اللّٰه پاک بد ګوماني وکړې، اللّٰه پاک ستا څه پروا لري؟

راځه، همدا نن شپه دا کار وکړه، همدا اوس پرېکړه وکړه او د شپې له یوې بجې وروسته د سهار تر لمانځه د وخت له داخلېدو یو ساعت مخکې د موبایل الارم یا زنګ فعال کړه، چې نیمه شپه دې راویښ کړي او دغه پورتنی کار عملي کړه.

دغه ناوړه حالت چې لرې لوی بدلون به پکې راشي، ورسره ډاډه اوسه چې هره دعا په دغه وخت کې وکړې، اللّٰه پاک یې قبلوي او هره ستونزه او مشکل چې لرې درته حل کوي یې ان شاءاللّٰه.

اللّٰه پاک به دې ولې دعا نه قبلوي، چې کله تاته د یو څه په درکولو یا د دعا په قبلولو دې د هغه په ډکو خزانو کې هېڅ کمی نه راځي.

ته هرڅه ته د یو انسان له لیدلوري ګورې، خو اللّٰه پاک ته بیا د غیب یا راتلونکې په ګډون هرڅه معلوم دي، خو ستا ذهن محدود دی.

پخپل رب باندې مه بد ګومانه کېږه، خپل رب سره ډېره نږدې اړیکه جوړه کړه.

ځینې کسان وایي، چې سجده کې پخپله ژبه دعا کول جواز نه لري، خو نه، ډېری علماوو ددې جواز ورکړی چې په سجده کې، په ځانګړي ډول نفلي لمونځونو کې حتی پخپله ژبه باندې دعا غوښتلی شې.

ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي: «بنده د سجدې په حالت کې تر ټولو ډېر الله پاک ته نږدې کېږي، نو په دې حالت کې ډېرې دعاوې کوئ.»[39]
يعنې الله پاک دې مخامخ ګيله او شکايت اوري، نو له هر غم، خپګان، ستونزې، کړاو، ناخوالې او هرڅه نه چې ګيله لرې، زړه تش کړه.
کله چې دې لمونځ خلاص شو، په پای کې دا دعا وکړه: يا الله! ما ددې جوګه کړه چې هره شپه همدغه وخت کې راشم او تا سره راز و نياز وکړم.
دا تګلاره عملي کړه، ډاډه اوسه، چې په ژوند کې به دې ډېر بدلونونه راشي او ددې تر څنګ له سکون څخه ډک ژوند به ولرې.
ته چې کله په الله پاک مين شې، غم، خپګان، ستونزې، کړاوونه او ناخوالې به دې له ژوند څخه کډه وکړي ان شاءالله.
ته چې د خوب خوږه بستره پرېږدې او خپل رب سره راز او نياز کوې، دا عادي خبره ده؟
نه، دا عادي حالت نه دی؛ ځکه دا کار يوازې د الله پاک ځانګړي بندګان کولای شي.
ته هم له ځان څخه ځانګړی انسان جوړ او الله پاک ته ځان نږدې کړه، دومره نږدې چې هره دعا وکړې، الله پاک يې قبوله کړي.
پام چې پخپل رب بد ګوماني ونه کړې، دا مه وايه چې زه هر وخت دعا کوم، خو نه قبلېږي.

---

۳۹: صحيح مسلم، د حديث شمېره: ۴۸۹.

## په دې اسانه کار دې ژوند بدل کړه

صبر وکړه چې ټول ویده شي، شپه ښه پخه شي او په نیمه شپه کې د خوب له بسترې څخه را پورته شه.

یو ګیلاس اوبه په بسم الله وڅښه او په پای کې یې الحمدلله ووایه.

وروسته ښکلی اودس وکړه او داسې یوې کوټې یا خونې ته دننه شه چې نور څوک پکې نه وي.

دروازه بنده، جای نماز هوار او د دوه رکعته نفل لمونځ نیت وکړه، ښه په ارامه لمونځ پیل کړه او په سجده کې الله پاک ته له غمونو، ستونزو او کړاوونو ګیله وکړه.

په داسې ډول له الله پاک د مرستې غوښتنه کوه لکه بالاتشبیه ماشوم چې له مور نه یو څه غواړي، په ژړا او په زارۍ ته هم له خپل رب څخه هرڅه چې غواړې، ویې غواړه او خپل مهربان رب ته له حالاتو او ستونزو شکایتونه وکړه.

هر ډول غم، خپګان، ستونزې، کړاوونه، ناخوالې یا کومه غوښتنه چې لرې او له اوږدې مودې راهیسې ورسره ځورېږې، تر هغې خپل رب ته ګیله وکړه او اوښکې توی کړه، چې د زړه بار دې سپک شوی نه وي.

د شرمندګۍ احساس مه کوه؛ ځکه هغه ستا رب دی او ستا د اواز په اورېدو خوشحالېږي. دا عیب نه دی چې ته د خپل رب په مقابل کې ځان کوچنی کړې او لکه د ماشوم احساس ولرې. له دې سره به دې ژوند کې خوند او بدلون پیدا شي.

## د خوندور ژوند لپاره اسانه کار

داسې ژوند غواړې چې ستونزې او کړاوونه پکې کم وي، زړه دې مطمئن او سکون پکې وي او بالاخره خوندور ژوند ولرې.

ذکر کول او د الله تعالی په یاد ژبه بوخت ساتل خپل عادت کړه.

که دې سفر کاوه، که له ملګرو سره چېرته روان وې او موقع دې پیدا کړه، که چاته انتظار وې، که یوازې او فارغ وې یا بل کوم حالت کې چې ژبه دې په بل څه بوخته نه وي، تسبیح او اذکار وایه.

هر ذکر چې دې زده وي، هغه کوه. که نور دې زده نه وي، همدا وایه چې: (لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، اللَّهُ أَكْبَرْ ، سُبْحَانَ اللَّهِ).

که دومره اسان کار نه کوې، بیا نو د بې خونده ژوند له امله ملامت ته خپله یې؛ ځکه ته الله پاک یاد کړه چې هغه تا یاد کړي.

ته چې له خپل رب څخه بې پروا شې، هغه خو غني ذات دی. ته په دې کار له ځان سره ظلم کوې.

اذکار او تسبیحات ویل خپله ورځنۍ بوختیا کړه او ژبه دې تل پرې لنده ساته؛ ځکه ذکر انسان الله پاک ته ډېر نږدې کوي.

کله چې ته رب ته نږدې شې، هغه به ټول کاینات ستا په ګټه څرخوي. ستا د زړه حالت به هم ښه شي؛ ځکه ستا زړه هم د الله پاک په واک کې دی که وغواړي، غم خوا ته یې اړوي او که وغواړي خوشحالي طرف ته یې بدلوي، نو د غمونو او کړاوونو څخه ډک حالت بدلولو لپاره دې ژبه په ذکر بوخته ساته.

کله کله الله پاک تا په دغه حالتونو باندې اخته کوي، چې ځان ته دې اړمند او ور ستون کړي.
کله کله فکر کوې چې دا سخت حالت بدبختي ده، الله پاک درباندې غوسه شوی دی، ته بدبخته یې، تا ګناهونه کړي؛ ځکه داسې یو حالت درباندې راغلی دی. ځینې وخت دا د ګناه له امله هم وي، خو کله داسې هم کیږي چې الله پاک خپل نیک بندګان په ازموینو ځان ته ستنوي.
خو له ګناهونو سره هم ځینې وخت الله پاک غواړي چې ستا غږ واوري او وواېې چې یا الله! ما وبخښه، اې زما ربه، زما مرستندوی شه.
دغه حالت باندې الله پاک ډېر زیات خوشحالیږي.
رسول الله ﷺ فرمایي: «لَلَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ سَقَطَ عَلَى بَعِيرِهِ وَقَدْ أَضَلَّهُ فِي أَرْضِ فَلَاةٍ.»[٣٨]
ژباړه: په تاسو کې یو څوک په دښته کې چې د ورک شوي اوښ په پیدا کولو څومره خوشحالیږي، له دې څخه زیات الله پاک د خپل بنده په توبه خوشحالیږي.
نو له خجالتۍ څخه راووځه او ډاډه اوسه چې الله پاک تاته لا ډېر خوشحاله کیږي، چې ته توبه وکړې او له ګناه څخه بېزاري وښیې.
لاس پورته کړه او خپل مهربان رب ته دعا وکړه، چې ګناهونه دې وبخښي، مرسته درسره وکړي چې راتلونکي کې نیک کارونه وکړې او جنت دې په برخه شي.

٣٨: صحیح البخاري، د حدیث شمېره: ٦٣٠٩.

په ماضي کې ژوند کوه او له حال څخه خوند مه اخله، تل دا وایه چې کاشکې مې داسې کړي وای، داسې به شوي وای یا کاشکې داسې نه وای شوي. ټول ژوند په کاشکې، کاشکې او افسوس باندې تېر کړه.
ښه، اوس دا هرڅه نه غواړې؟
ښکاره خبره ده چې نه یې غواړې؛ ځکه بریا غواړې؟
چې بریا غواړې دغه پورته یاد شوي کارونه سرچپه یا برعکس کړه.
منظم خوب کوه، د خوب او کار لپاره خپل مهالوېش ولره.
ورزش کوه، خوارک دې منظم کوه، د خپل خوارک خیال ساته. د خپلې هرې ورځې لپاره مهالوېش ولره او د ژوند لپاره یوه ښه موخه وټاکه.
خپل دین زده کړه، هره ورځ قران کریم لوله، پنځه وخته لمونځ په جماعت کوه او هره ورځ ژبه په ذکر باندې جاري ساته.
د اخرت خیال ساته، د دنیا او اخرت په منځ کې تعادل ساته، خو اخرت په دنیا باندې مخکې کوه. په ماضي کې ژوند مه کوه، له حال څخه خوند واخله او د راتلونکي په اړه ډېر تشویش مه کوه.
دغه کارونه ترسره کوه، همدا دې بریالی کولای شي ان شاءاللّٰه.

## ولې دومره ستونزې لرم؟

کله کله په سختۍ او ستونزو اخته شې او فکر کوې چې دا بد او ډېر ناوړه حالت دی.
زړه دې تنګ شي، پخپل حال باندې ډېر غوسه یې او فکر کوې چې بدبخته انسان یې، خو نه، داسې نه ده.

## بریا دې حتمي ده خو که دا کار وکړې

ایا غواړې خپل ژوند پخپل لاس برباد کړې؟
یو وروسته پاتې انسان و اوسې، بې خونده او ناکامه ژوند ولرې او له سیالۍ شاته پاتې وې؟
زه يې درته طریقه در ښیم چې څنګه داسې کولای شې، خو اصلي خبره به درته ددې مطلب په پای کې وکړم.
که غواړې یو ناکام او وروسته پاتې انسان واوسې، هر وخت چې دې زړه وي ویده کېږه او هر وخت چې دې زړه وي را پورته کېږه، عبادت ته پاملرنه مه کوه او په ببړه يې ترسره کوه، د خوب لپاره منظم وخت مه لره، هر وخت چې دې هرڅه خوښه وه، کوه يې او ورزش مه کوه.
خپل خوراک او څښاک مه منظم کوه، چې هرڅه په مخه درتلل خوره يې، بازاري خوراکونه کوه او طبیعي خوراکونه او غذایي رژیم ته هېڅ پام مه کوه.
مه د ورځې لپاره مهالوېش جوړوه او مه د خپل ژوند لپاره منظمې موخې ټاکه؛ بلکې ګډوډ ژوند کوه، څه چې په مخه درتلل، کوه يې او په کیسه کې يې مه کېږه. دوه ورځې ژوند دی، مزې کوه.
خپل دین مه زده کوه، قران کریم مه تلاوت کوه، پنځه وخته لمونځ په جماعت باندې مه کوه او د ورځې ذکرونه هېڅ مه کوه.
د اخرت خیال مه ساته، یوازې په دنیا کې غرق اوسه، دنیا دې لوی تشویش کړه او د اخرت پروا مه ساته.

هغه په ځواب کې وویل نه، د کبر احساس مې وکړ او ومې غوښتل چې په دې کار سره د کبر اور مړ کړم.
ایا داسې زړونه به کله ناروغ او د کبر په ستونزې اخته شي؟

## رېښتينې سيالي

د دنيا لاسته راوړلو لپاره څومره سترې يو او هر کار ته لاس اچوو چې له نورو شاته پاتې نشو، خو له دې بې پروا يو چې رښتينې سيالي کومه ده. الله تعالى فرمايي: ﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾[۳۷]

ژباړه: پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې د پروردګار د بخښنې او د هغه جنت خواته تللې ده چې هغه لکه د اسمانونو او ځمکې په شان پراخ دی او هغه له رب وېرېدونکو خلکو له پاره تيار کړای شوی دی.
د الله پاک راضي ساتلو او توبې کولو کې سيالي کوه. که ته الله پاک څخه بخښنه وغواړې او توبه وکړې، ددې په بدل کې الله پاک دومره لوی نعمت درکوي چې بل هېڅ نعمت ورسره پرتله کېدای نه شي. جنت! تر دې بله لويه بدله يا نعمت پېژنې؟
د ګټلو لپاره يې سيالي وکړه. نېک عملونه او عبادتونه مه ځنډوه؛ سر له اوسه نه ورته جدي شه، پيل وکړه او له هر فرصت څخه پوره ګټه اخله؛ ځکه ته چې د سبا په طمع يې، ښايي سبا رانه شي او پښېمانه له دنيا لاړ شې.

---

۳۷: سورة آل عمران، ۱۳۳ آيت.

## د زړه لویه ناورغي

زړه هم د بدن په څېر ناروغېږي، خو د زړه درملنه بیا د بدن تر درملنې مهمه او سخته ده.

د بدني ناروغۍ لپاره به درمل وکاروې، خو د زړه درملنې سره څه کوې؟

د زړه تر ټولو ناوړه ناورغي چې ژوند بې خونده کوي، کبر دی. کبر پخپله د زړه سخته ناروغي ده او ناروغیو ته هم لار هواروي.

کبر نورو ته په سپکه کتل او ځان تر نورو غوره بلل دي؛ پخپل علم، وظیفه، مال او نورو شیانو تر نورو ځان پورته ګڼل او نورو ته په ټیټه کتل کبر دی.

ددې برعکس، تواضع بیا دا ده چې ته هر مسلمان تر ځان غوره وبولې.

تواضع یا عاجزي د زړه درملنه او د کبر مخنیوي کې مرسته کوي.

کله چې دې د کبر احساس کاوه، ژر داسې کار کوه چې عاجزي ته دې مجبوروي. ښه بېلګه یې د عمر رضي الله عنه عمل دی.

نوموړي یو ځل منبر ته د پورته کېدو پرمهال وویل: ما به یو وخت چوپاني کوله. خلکو ورته وویل د همدې لپاره دې را ټول کړي یو؟

هغه ویل نه، نفس مې راته وویل چې زه عمر امیرالمؤمنین یم، د همدې لپاره مې وغوښتل تاسې ته ووایم چې زه عمیر یا کوچنی عمر یم.

عبدالله بن السلام رضي الله عنه یوه ورځ په بازار کې چا ولید چې د لرګیو پېټی یې په شا و. ورته وویل شول چې ته خو ډېر مال لرې، هغه کفایت نه کوي چې دومره ډېر کار کوې؟

چې په دومره اندېښنه نه ارزېدلې. نو اوسنیو او راتلونکو ستونزو ته هم په همدغه نظر ګوره.

ډېری وخت بیا داسې ستونزو ته له اندازې زیات اندېښمن یو چې ښایي هېڅ پېښې نه شي، خو له امله یې ما او تا خپل ژوند تریخ کړی وي.

دا هم سمه نه ده چې بې پروا شې، خو هرڅه ته همغومره ارزښت ورکوه چې اړتیا یې وي. په لوی لاس کوچنۍ ستونزې مه لویوه.

درېیم درس: لږ کار خو دوامداره یې کوه

رسول الله ﷺ فرمايي: «وأنَّ أحبَّ الأعمالِ إلى اللهِ أدومُها وإن قَلَّ.»[٣٦]

ژباړه: الله پاک ته تر ټولو زیات د خوښې وړ دوامداره عملونه دي که لږ هم وي.

استقامت تر لنډمهالې جذبې سل برابره غوره دی؛ یا په بله مانا، له لنډمهاله چټک کار څخه اوږدمهاله ورو کار غوره دی.

د بریالیو انسانانو تاریخ مطالعه کړئ، دا خامخا مومئ چې دوامداره هڅې او استقامت د هغوی د بریا تر شا مهم راز دی.

ناکامه انسانان لنډمهالې جذبه لري. هر کار په ډېره انرژۍ او هیجان پیلوي، خو لنډ وخت وروسته ستړي او ناهیلي شي.

ډېری کارونه په کراره پایله ورکوي؛ بریالي انسانان ورته صبر کوي، خو ناکامه انسانان بیا ژر ناهیلي کېږي او چټکه پایله غواړي.

دوامداره هڅې که لږې هم وي، د بریالیتوب پر طرف ضروري سفر دی.

---

٣٦: صحیح البخاري، د حدیث شمېره: ٦۴٦۴.

## د ښه ژوند لپاره درې ګټور درسونه

ژوند پخپله د انسان لپاره تر ټولو غوره ښوونکی او روزونکی دی.
بېلابېلې ناکامۍ او تجربې انسان روزي. هره ناخواله او تکلیف انسان راتلونکي سخت حالت ته اماده کوي او په همدغه بهیر کې انسان زده کړه کوي او روزل کېږي.

دا درسونه درسره مرسته کوي چې په حالاتو برلاسی شې.

لومړی درس: بریا تر لاسه کړه

په الله پاک توکل، اسباب برابرول او تر هغې وروسته دوامداره هڅې او سترېیا ګالل او استقامت، تا په حالاتو برلاسی کوي او له تا کامیاب انسان جوړوي، خو راحت طلبي او خپل نفس او خواهشاتو ته غاړه کېښودل دې ژوند ضایع کوي، په دنیا کې دې ناکامي یقیني او اخرت کې دې بریا نامعلومه ده.

ښایي دا عادت ولرې چې ډېر کارونه په جذبه او مینه پیلوې، خو څو ورځې وروسته ستړی شې او لاس ترې واخلې. بریا لپاره تر ټولو ارزښتمن عنصر استقامت دی، لږ کار کوه، خو تل یې کوه.

دویم درس: ستونزو ته تر اندازې ډېر ارزښت مه ورکوه

ځینې ستونزې ډېرې کوچنۍ وي، خو موږ په ذهنونو کې ډېرې لویې کړې وي او له اندازې زیاته اندېښنه ورته کوو.

خپلو پخوانیو تجربو ته پام وکړه، څومره داسې ستونزې وې چې تا ورته له اندازې زیات تشویش کاوه، خو هغه دې تجربه کړې او ودې لیدې

## د غم او کړاو پر وخت دا قاعده ذهن ته راوله

که دې وظيفه له لاسه ورکړه، يو څه خپه کړې، د يو چا سره څه وينې ځوريږې، د کورنۍ نږدې غړی دې له لاسه ورکړل، کوم ملګري په نيمه لار کې يوازې پرېښودې يا کوم بل غم او تشويش لرې؛ په دې قاعده خپل خپګان، تشويش، حسرت، پښېمانۍ، کينه، ځورېدل او نور ناوړه حالت بدل او زړه دې مطمئن کړه.

﴿عَسَىٰ رَبُّنَا أَنْ يُبْدِلَنَا خَيْرًا مِنْهَا إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا رَاغِبُونَ﴾[٣٥]

ژباړه: کېدای شي چې زموږ پروردګار موږ ته په بدل کې له دې نه لا ښه بڼ را په برخه کړي، مونږ د خپل رب خوا ته ورګرځو.

هرڅه چې دې له لاسه وتل يا دې په ژوند کې کوم ناخواله رامنځته کېده چې ورسره ځوريږې، کړيږې، يا په تشويش يې؛ همدغه قرآني قاعده ځان ته يادوه؛ ځکه په يو حديث کې راځي: الله پاک چې هر شی له انسان څخه اخلي، تر هغې ښه بدله ورکوي.

د صبر بدله جنت دی، ايا تر دې بله غوره بدله شته؟

که الله پاک له تا څخه مال واخلي او ته صبر وکړې، په بدل کې يې اجر درکوي. که الله پاک له تا څخه اولاد واخلي او ته صبر وکړې، په بدل کې يې جنت درکوي.

په مسلمان چې هر ډول حالت راځي، که غم او خوشحالي وي دده پکې ګټه ده، په دې شرط چې په الله پاک بدګومان نه وي او صبر وکړي.

---

٣٥: سورة القلم، ٣٢ آيت.

خپلو اولادونو ته دا ور زده کړه چې تل شکر کوونکي وي.
که سخت حالت سره مخامخ وې، د الله تعالی څخه خلکو ته ګیلې او شکایت مه کوه. د خلکو په ځای دې ګیله الله پاک ته وکړه.
د قران کریم هر ځای کې چې د انسان کلمه راغلې، ورسره یو منفي صفت یاد شوی، د بېلګې په ډول الله پاک فرمایي: چې انسان ناشکره دی، انسان له ما مخ اړوي، انسان ناپوه دی او ورته نور.
الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ﴾[٣٤]
ژباړه: اې انسانه څه شي ته د خپل مهربان رب له لوري په غولونه کې واچولې.
یعني ته څه شي د خپل مهربانه رب په مقابل کې غره کړی یې، یا ته څه شي دومره بې پروا کړی یې چې خپل رب ته نه ورستنېږې؟
کوچني نعمتونه دې چې ترلاسه کول یا یې لرې، په اړه یې د الله تعالی شکر ادا کوه، الله پاک به دې نعمتونه لا زیات او دوامداره کړي. هغوی ډېر ناځوانه دي چې د خپل رب شکر نه ادا کوي.
ددې تر څنګ له انسانانو هم د نېکي او مرستې په بدل کې مننه کوه.
په حدیث مبارک کې راځي: څوک چې د انسانانو مننه نه کوي، هغه د الله تعالی څخه هم مننه نه کوي.
شکر کول دې عادت کړه، ورسره به وګورې چې ژوند دې څومره خوندور او په نعمتونو نازول کیږي.

---

٣٤: سورة الانفطار، ٦ آیت.

دنیا د ازموینې ځای دی، انسان په هغه څه کې ازمویل کېږي چې زړه یې پورې تړلی وي.
له یو څه چې ته بې پروا یې په هغه کې ازموینه څه مانا لري؟
ته په هغه څه کې ازمویل کېږې چې زړه دې ورسره تړلی وي.
د اولاد، کورنۍ غړي او کوم عزیز له لاسه ورکول، یا کوم مالي تاوان په انسان دروند تمامېږي، خو همدغه د اللّٰه پاک ازموینې دي او د هرڅه په درکولو یا بېرته اخیستلو تا ازمویي، خو که ته په دې ازموینه کې بریالی شوې، اللّٰه پاک درته زېری درکړی دی: ﴿إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾[۳۳]
ژباړه: بېشکه له تنگسیا سره پراختیا هم ده.
یعنې له هرې سختۍ سره اساني شته ده، نو د ستونزو او مشکلاتو پر وړاندې صبر کوه، ترڅو یو خوشحاله او ارامه ژوند ولرې.

## شکر کول دې عادت کړه

د زړه له هر ټکان سره باید د اللّٰه تعالی شکر ادا او په دې فکر وکړې چې که دغه ټکان اللّٰه پاک ودروي، ژوند دې له منځه ځي. د ژبې ذائقه که له لاسه ورکړې، له هېڅ شي به خوند نه شې اخیستلی، نو ځکه باید همېشه د اللّٰه تعالی شکر کوونکی اوسې. اللّٰه پاک تر دې ډېر مستحق دی چې شپه او ورځ یې شکر ادا کړو. د سترگو رپېدل دې که په یو حالت ودرېږي، څومره به ورسره په تکلیف یې؟
که اللّٰه پاک درڅخه گڼ نعمتونه واخلي، ژوند به دې څه حالت کې شي؟

---

۳۳: سورة الشرح، ٦ آیت.

پر موږ ټولو سخت حالات ځي راځي او داسې هېڅ انسان نشته چې له سختۍ سره مخ شوی نه وي، خو دا د الله پاک ازموینې دي چې خپل مخلص او نا مخلص بندګان پرې جلا کوي.
داسې حالاتو کې د الله پاک طرف ته ستنېږه او مرسته ترې غواړه، الله تعالی ګوري چې په سخت حالت کې ته څه کوې.
ایا د پېغمبرانو عادت کوې چې صبر دی او صبر غوره عبادت دی، که واویلا کوې، بېزاره کېږې او له خپل رب څخه انسانانو ته شکایت کوې.
کله چې په یو غم او کړاو کې اخته وې، همېشه ځان ته دا وایه چې دا د الله تعالی له لوري ازموینه ده او په طمع اوسه چې الله پاک درته له هغه ستونزې د وتلو لار برابره کړي.
ستا دغه ناوړه حالت خامخا بدلېږي، ډاډه اوسه؛ ځکه څوک چې په الله پاک توکل وکړي، همدا ورته کفایت کوي.
دا ټول نظام د الله پاک د امر تابع دی، چې وغواړي هرڅه ستا په ګټه څرخوي.
خلکو ته نه، بلکې د خپلو ستونزو او مشکلاتو په اړه الله پاک ته شکایت وکړه، چې ټولې ستونزې او مشکلات دې حل شي.
هغه ناروغي چې ته پرې اخته یې، هغه ناخوالې چې ته یې ژوند کې لرې، هغه وظیفه چې تا له لاسه ورکړه، هغه کار چې تا غوښتلو خو ونه شو، هغه دعا چې دې کوله، خو قبوله نه شوه او ورته نور ناوړه حالتونه چې تا تجربه کړي یا راتلونکي کې درباندې راځي، دا هرڅه د الله پاک تقدیر له مخې مخکې روان دي؛ ځکه دا هرڅه ستا لپاره ازموینې دي.

## له ستړي ژونده بېزار يې؟

کله کله درباندې داسې سخت حالت تېرېږي چې انسان ورسره ستړی او ناهیلی شي.

له خلکو ځوریدل، د حالاتو سختي، کورنۍ او د ټولنې ستونزې او ورته نورې ستونزې انسان ستړی او ناهيلی کړي، خو مه خپه کېږه او مه ناهيلی کېږه.

بي بي هاجرې علیها السلام چې کله د صفا او مروه غونډيو ترمنځ منډې وهلې، په ګرمه دښته کې تنده اوج ته رسېدلې وه او له زوی سره يو ځای د مرګ له ګواښ سره مخامخ وه، هېڅوک نه وو، دا اټکل چا کولای شو چې ځمکه به ورته سوری او اوبه ترې را بهر کېږي؟

د الله پاک معامله همداسې ده!

کله چې سخت حالت درباندې و، بي بي هاجره ځان ته مثال راوړه او ځان ته يادوه چې الله پاک ستا مرسته هم کوي.

چا فکر کړی و چې يونس عليه السلام به د کب يا ماهي له خېټې ژغورل کېږي، خو څنګه وژغورل شو؟

چا فکر کړی و چې نوح عليه السلام به له هغه پياوړي سېلاب او طوفان څخه ژغورل کېږي، خو الله پاک څنګه وژغوره؟

ته هم د الله پاک بنده يې، سخت حالت چې درباندې راتلو، په دې فکر اوسه چې هر حالت لنډمهال او خامخا پای ته رسېدونکی دی.

پنځم: څوک چې له هر لمونځ څخه وروسته آیت الکرسي ووایي او تر راتلونکي لمانځه پورې وفات شي، مخامخ به جنت ته ځي. که څوک د شپې آیت الکرسي ووایي، تر سهاره به دده ساتنې لپاره الله پاک ملایکې مقررې کړي.

شپږم: څوک چې د سورت کهف د جمعې په ورځ ولولي، تر بلې جمعې به دده له مخ څخه تر اسمانه نور وي او د دجال له فتنې څخه به خوندي پاتې شي.

اووم: د قران کریم د هر توري په لوستلو الله پاک لس نېکۍ ورکوي.

(الــمَ) یو توری نه دی؛ الف یو، لام بل او میم بل توری دی، یعنې ته چې یوازې (الــمَ) ووایې، دېرش نېکۍ دې وګټلې.

نو بیا د څه لپاره ناست یې؟

د ټیک ټاک یا نورو ټولنیزو رسنیو کارولو پر ځای ولې قران کریم نه لولې؟

ولې هره ورځ خپله ژبه په ذکر بوخته نه ساتې؟

ځینې اسانه ذکرونه چې هره ورځ یې لوستلی شې او ډېر ثوابونه لري:

اللّٰه أَكْبَر.

لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّٰهُ.

حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ.

لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلا باللَّهِ.

سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ.

استغفار لوله، یا له الله پاک څخه بخښنه غواړه، درود شریف لوله او خپله ژبه تل په دې ذکرونو باندې بوخته ساته.

دي او هغه تر ټولو غوره تدبير نيوونکی دی، ته اسباب برابروه او په اللّٰه تعالی توکل کوه.
اللّٰه تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾[۳۲]
ژباړه: بېشکه له تنگسي سره پراختيا هم ده.
نو صبر ولره او د بې پروايۍ هنر زده کړه.

## اسانه کار خو لويه گټه

څو ذکرونه دي چې انسان لپاره ډېرې ښېگڼې او خير راوړي او په احاديثو کې يې ډېر فضيلتونه ياد شوي.
لومړی: چا چې (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّٰهِ) يوازې يو ځل ولوست، دا دده لپاره په جنت کې د خزانو يوه خزانه ده.
دويم: چا چې (قُلْ هُوَ اَللّٰهُ أَحَدٌ) يو ځل ولوست، داسې دی لکه قران کريم درې برخو کې يې چې يوه برخه لوستي وي او که درې ځله چا ولوست، لکه ټول قران کريم يې چې لوستی وي.
دريم: چا چې (قُلْ هُوَ اَللّٰهُ أَحَدٌ) لس ځله ولوست، اللّٰه پاک به ده ته په جنت کې يو کور جوړ کړي.
څلورم: چا چې (سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ) ووايه، د هر ځل په لوستلو به اللّٰه پاک ده لپاره په جنت کې يوه ونه يا نيالگی کېنوي.

۳۲: سورة الشرح، ٦ آيت.

موږ هم که د الله پاک ازموینو کې صبر وکړو او ځان پکې بریالی کړو، همغه بدله ترلاسه کولای شو چې الله پاک له خپلو نېکو بندګانو سره ژمنه کړې.
صبر یوازې یوه کلمه ښکاري، خو که ورته تم شې او فکر پرې وکړې، د جنت ګټلو لویه وسیله ده. د صبر په برکت انسان پخپل رب نېک ګومان کوي او هغه ته تسلیمېږي، چې دا ټول د الله پاک د راضي کېدو لامل کېږي. طبیعي ده، کله چې رب راضي شي په دنیا او اخرت کې دې په لویو نعمتونو نازوي.
ددې تر څنګ په دنیا کې هم د صبر ډېرې ګټې دي، د ډېری ستونزو او تشویشونو یوازینۍ درملنه صبر او بې پروایي ده.
ته په صبر او بې پروایۍ کولای شې له ستونزو سره په اسانه مقابله وکړې؛ ځکه د خپلې راتلونکي په اړه، د اولاد د راتلونکي په اړه، د رزق یا روزۍ یا نورو شیانو په اړه تشویشونه او اندېښنې ډېری یې د شیطان وسوسې وي او په دغه طریقه غواړي تا له ژونده بېزاره او ناهیلی کړي.
ته یې په مقابل کې د صبر او بې پروایۍ هنر او کمال زده کړه چې شیطان ونه شي کولای په اسانۍ تا مات کړي.
د مرستې او ملاتړ وعدې الله پاک څومره ډېرې درسره کړې دي، بیا څنګه د شیطان وسوسو ته تمېږې؟
دغه ډول حالاتو کې ځان ته دا یادونه کوه چې الله تعالی د قران کریم ګڼو ځایونو کې ژمنه کړې چې ستا روزي، مرګ او ژوند د هغه له لوري

## د ژوند امتحانونه؛ څنګه بریالی شم؟

مالي تاوان، د خپلې کورنۍ نږدې غړي له لاسه ورکول، ظالم مېړه، بدکاره ښځه، بې لارې اولاد، بد ګاونډی یا ورته نورې ستونزې، دا ټولې د دنیا ازموینې دي. کله چې دغه ډول حالاتو سره انسان مخامخ کېږي، صبر یا هم بې صبري کوي.

هغوی چې صبر وکړي په ازموینه کې به بریالی شي او هغوی چې بې صبري کوي او د الله پاک څخه ناهیلي کېږي، ناکامېږي.

دا دنیا د ازموینې ځای دی، دلته د عملونو نتیجه کمه خو ربښتینې پایله یې اخرت کې ورکول کېږي.

زه او ته خو پرېږده، ان پیغمبران هم له دغو ازموینو خوندي نه وو.

د رسول الله ﷺ تاریخ دې لوستی؟

د ایوب علیه السلام په ناروغۍ د صبر، د لوط علیه السلام د بدکاره مېرمنې، د نوح علیه السلام د بې لارې زوی، د فرعون د نېکې مېرمنې او د نورو بدو او ښه انسانانو تاریخونه دې لوستي؟

دوی ټول د الله تعالی له لوري په ازموینو کې وو.

د فرعون مېرمن ښه ښځه وه، مېړه یې بدکار و. د لوط علیه السلام مېرمن بې لارې وه، مېړه یې ښه انسان و.

دا ټولې ازموینې دي چې الله پاک پرې انسان ازمویي او د هغوی د صبر بدله څه وه او ده؟

الله پاک ورته قران کریم کې د جنت د ورکړې یادونه کړې.

خو ابلیس گناه وکړه، تکبر یې وکړ او داسې احساس یې درلود چې هېڅ ناسم کار یې نه دی کړی. الله پاک تر قیامته ذلیل کړ او له خپل مقام څخه یې وشاړه.
دا په دې مانا نه ده چې د گناه کول درته عادي شي او په دې نیت گناه کوې چې توبه به ترې وباسې.
علماوو د توبې درې شرطونه ښودلي دي:
لومړی: د گناه پرېښودل
دویم: په گناه باندې پښېمانه کیدل
درېیم: په راتلونکي کې پیاوړی عزم او اراده به کوې، چې بیا دغه گناه نه ترسره کوم
یعنې د هغې گناه ترسره کولو اسباب او امکانات به له منځه وړې.
د بېلگې په ډول: الله مه کړه که ناروا فلمونه دې کتلي وي، سملاسي به ټول فلمونه له خپل کمپیوټر یا موبایل څخه پاکوې یا که کومه بله گناه دې کړې وي، ټول هغه اسباب به لرې کوې چې هغه گناه ته د بیا ستنېدو لار اسانوي.
خو له دې کارونو سرېېره که بیا هم درڅخه گناه کېده، نو د همدغه پورته درې شرطونو په پوره کولو توبه کوه.
کله چې گناه درڅخه کېده، دوه رکعته نفل کوه او خپل رب ته په عاجزۍ دعا وکړه چې ودې بخښي او د توبې توفیق درکړي او د گناه مخنیوي کې درسره مرسته وکړي.

## څنګه توبه وکړم؟

هغه چې ګناه کوي، سره له دې چې د ګناه مخنیوي هڅه کوي، خو شهوت پرې برلاسی کېږي او دی د ګناه په ترسره کېدو ناخوښ وي او هغه انسان چې ګناه کوي، ورپسې وایي چې دوه ورځې دنیا ده خوند ترې اخلم او د ناوړه کار ترسره کولو باندې ویاړي، دا دواړه ډېر توپیر لري. په ګناه پښېمانه کېدونکی تر متکبر ګنهګار ډېر غوره دی؛ ځکه پښېماني ښودل په حقیقت کې توبه کول دي.

رسول الله ﷺ فرمایي: «التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لاَ ذَنْبَ لَهُ.»[31]

ژباړه: له ګناه څخه توبه کوونکی داسې دی لکه هېڅ ګناه چې یې نه وي کړې.

خو هغه چې په ګناه ویاړي او له توبې بې پروا وي، د رب نه خوښېږي.

دا ډول انسان فکر کوي چې دوه ورځې دنیا ده، کیسه کې یې مه کېږه.

هر ډول ناروا کار چې یې زړه غواړي، ترسره کوي یې.

که ته ورته ووایې، وه ځوانه ګناه دې وکړه، توبه وباسه، درته وایي به چې دوه ورځې دنیا ده خوندونه واخله، باور وکړئ داسې انسانان ډېر بدبخته دي.

ادم علیه السلام تېروتنه وکړه، ژر یې پښېماني وښوده، توبه یې وکړه او الله پاک ته یې د زارۍ لمن وغوړوله. الله پاک ورته بخښنه وکړه او غوره انسان شو.

۳۱: سنن ابن ماجه، د حدیث شمېره: ۳۴۴۶.

ډېر کوښښ کوه چې بده جاريه ګناه ستا له تللو وروسته پاتې نه شي؛ بلکې ښه صدقه جاريه پرېږده چې له مرګ وروسته يې ثوابونه درپسې در روان وي.

نورو ته په سپکو سپورو ويلو يا ليکلو هغه انسان ته څه ضرر نه رسېږي، ټول تاوان يې ليکونکي ته دی چې په دنيا کې به ورته خلک په سپکه سترګه ګوري او اخرت کې به د خپلو کړنو ځواب ورکوي.

ټولنيزې رسنۍ په ډېر مسووليت کاروه. داسې مه کوه چې هرڅه ګورې او خپروې يې، هر پوسټ ګورې کمنټ پرې کوې، هر ډول خبره چې دې زړه غواړې ليکې يې، د خلکو زړونه خپه کوې او نور انسانان په تکليفوې. دا ټول داسې ژوندي ګناهونه دي چې له مرګ وروسته به هم درپسې در روان وي.

څومره لويه بدبختي ده چې ته دنيا کې نه يې، خو دغه ګناهونه ټول درپسې ليکل شوي وي! که د چا لاس نه در رسېږي، الله تعالی خو شته کنه، له هغه څخه به چېرته پټ او له هغه څخه به چېرته ورک شې؟ هېڅکله هم ترې ورک کېدای نه شې.

## تل دا دعا کوه

يا الله ﷻ ما تر هغه څه غوره کړه چې خلک زما په اړه ښه ګومان لري او پر هغه څه مې پرده غوړولې وساته چې د خلکو له سترګو پناه دي.

په قيامت کې مې خپل حضور ته له يو پاک او سپېڅلي زړه سره ودروه. هغه ورځ چې له پاک زړه پرته بل هېڅ شی انسان ته ګټه نه رسوي.

## هره خبره دې ليکل کيږي

ځينې کسان په ټولنيزو رسنيو کې د نورو خلکو د پوسټونو لاندې سپک يا بد کمنټونه يا ښکنځلې په دې فکر ليکي چې د چا لاس نه ور رسيږي او څه ورسره نه شي کولای. خو دوی په دې فکر نه دی کړی چې هر منفي کمنټ، هره سپکه خبره او هر بد عمل په عملنامه کې ليکل کيږي. دوی داسې انګيري چې يوازې د خولې خبرې يا نور کارونه په عملنامه کې ليکل کيږي.

﴿مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ﴾[30]

ژباړه: هېڅ داسې لفظ د هغه له خولې څخه نه راوځي، چې د هغه د محفوظ ساتلو لپاره يو حاضر باش څارونکی ورسره موجود نه وي.

يعنې هغه کلمات چې له خولې را وځي، کوم کارونه چې ترسره کيږي يا ګوتې چې کوم کمنټونه ليکي، يا کومې بدې خبرې چې نورو ته کيږي، دا ټول ليکل کيږي او د قيامت په ورځ د انسان په عملنامه کې برخليک ټاکونکې وي.

که له ځان څخه صدقه جاريه نه شې پرېښودلی، نو لږ تر لږه خو داسې مه کوه چې يو بد پوسټ دې پروت وي. ته به سبا په دنيا کې نه يې، خو که ناسم څه دې خپاره کړي وي، هغه به د ژوندۍ ګناه په شان په تا پسې ليکل کيږي او اخرت کې به يې ځواب ورکوې.

---

۳۰: سورة ق، ۱۸ آيت.

راووتم چې د خپل دوکان په اړه خبر واخلم. لار کې له یو چا سره مخامخ شوم او هغه راته وویل چې ستا دوکان ژغورل شوی دی. ما وویل چې الحمدلله. خو کله چې لاړم او ومې کتل، نور انسانان په درد او کړاو اخته دي. حالات چې مې ولیدل، پښېمانه شوم چې ولې مې یوازې د ځان خیر وغوښت او نور خلک مې هېر کړل. په همدغه پښېمانۍ، له دېرشو کلونو راهیسې له الله پاک څخه بخښنه غواړم.

مسلمان باید همدغه ډول وي.

مور باید د بل چا په غم خوشحالي ونه کړو؛ ځکه الله پاک فرمایلي:

﴿إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ﴾[29]

ژباړه: که تاسې (مسلمانانو) ته څه ښېګڼه رسېږي، نو هغوی (کافران) خپه کېږي.

یعنې کله چې تاسې یو ښه موقف پیدا کوئ، ښه ژوند لرئ او الله پاک ښه امکانات درکړي، هغوی باندې بد لګېږي او خپه کېږي او کله چې تاسې ته یو درد او کړاو رسېږي، بیا نو هغوی پرې خوشحالېږي.

دا د کافرانو او منافقانو صفت دی او مسلمان باید ترې جدي ډډه وکړي.

د خلکو په غم او خپګان باندې خوشحالي مه کوه، څه چې ځان ته غواړې، همغه شان نورو مسلمانانو ته هم غواړه.

په ځان دې درد، کړاو غم، خپګان او بده ورځ لورېږي؟ نه!

همدغه شان مسلمانانو ته هم درد، کړاو، غم او بده ورځ مه غواړه.

---

۲۹: سورة آل عمران، ۱۲۰ آیت.

له دې موږ ته دا درس دی، چې حلال خوراک د انسان په نسل او په برخلیک ډېر اغېز لري.
که موږ د اللّٰه پاک لپاره د دنیا نعمت پرېږدو، هغه یې په بدل کې ګڼ نور نعمتونه راکوي.

## غواړې غوره مؤمن شې؟

د نورو په غم او خپګان باندې خوشحالي مه کوه.
د خلکو خوشحالي داسې غواړه لکه ځان ته چې یې غواړې.
څنګه چې ځان ته کړاو، درد او غم نه غواړې، همداسې یې نورو خلکو ته هم مه غواړه.
دا د منافقانو صفت دی چې د نورو انسانانو په غم باندې خوشحالېږي او په خوشحالۍ یې خپه کېږي.
نورو انسانانو ته خیر غواړه، اللّٰه پاک به تاته هم خیر در رسوي.
سري السقطِي[۲۸] د بغداد یو پخوانی عالم دی، پخپل وخت کې تر ټولو ښه عالم و، ده ویلي دي چې دېرش کاله کېږي د یو ځل الحمدللّٰه ویلو، په اړه د اللّٰه پاک څخه بخښنه غواړم.
چا ترې پوښتنه وکړه چې څه ډول؟
ویې ویل یوه ورځ د بغداد په یوه سیمه کې اور لګیدلی و، چې زما هټۍ یا دوکان هم همدغه سیمه کې و.

۲۸: أبو الحسن السَرِيُّ بنُ المُغَلَّسِ السَّقَطِي: په درېیم هجري قرن کې په زهد او علم کې د عراق مشهور عالم و.

د باغ مالک ته يې د خپل کمزوري اقتصادي حالت په اړه وويل، خو هغه ډاډ ورکړ چې د واده بندوبست کې به ورسره مرسته کوي.
د واده په شپه کوټې ته له دننه کېدو سره يې سلام وکړ. مېرمن يې را پورته شوه او د سلام ځواب يې ورکړ. سړی حيران شو، چې پلار خو يې گونگه او معيوبه ښودلې وه؛ دا خو حرکت او خبرې کوي!
له پوښتنې وروسته يې مېرمن ورته وويل: زه مې پلار ځکه ړنده بللې يم، چې له ټولو ناروا کارونو څخه مې سترگې خوندي ساتلي او هېڅ حرام څه مې په سترگو نه دي ليدلي.
گونگه يې ځکه ښودلې يم، چې په خوله مې داسې خبره نه ده کړې، چې هغه دې ناروا وي يا داسې څه مې نه دي ويلي، چې په هغې دې الله تعالی خپه شي.
په غوږونو مې حرام څه نه دي اورېدلي او د حرام کار لپاره مې قدمونه نه دي اخيستي، بلکې ټول ژوند مې د الله تعالی د احکامو او لارښوونو له مخې ترسره کړی.
پوهېږئ، دا سړی او دا مېرمن څوک وو؟
له دې جوړې څخه الله پاک امام ابوحنيفه رحمه الله زېږولی و. د منې خوړونکی سړی د امام ابو حنيفه پلار ثابت و، چې د امام ابو حنيفه رحمه الله رښتينی نوم نعمان ابن ثابت دی.
د يوې منې لپاره يې دومره لوی شرط ومانه او په بدل کې يې الله پاک نېکه جوړه او داسې اولاد ورکړ چې د اسلام ځلاند ستوری دی.

## په ژوند د حلال رزق اغېز

یو کس یوه ورځ د یو باغ څنګ ته ویاله کې اودس کاوه. په اوبو کې منه را روانه وه، هغه یې را واخیسته او د خوړلو پرمهال یې پام شو چې دا ښایي د باغ له ونې غورځېدلې وي او ده له اجازې پرته وخوړه. د بڼ یا باغ اړوند کور د دروازې له ټکولو سره یو سړی راووت.

د منې د خوړلو کیسه یې ورته وکړه او له هغه یې وغوښتل چې حق یې ور وبخښي.

د باغ مالک دا موقع وګڼله او د منې په بدل کې یې د پیسو او په باغ کې د مزدورۍ کولو له وړاندیز سربېره د هغه له بخښلو انکار وکړ.

هغه مالک ته وویل: چې دا خو ماته حرامه ده، یوه لار راته وښیه چې دغه حق دې ادا کړم او د اخرت له مسوولیت څخه وژغورل شم.

د باغ خاوند پرې یو سخت شرط کېښود او وړاندیز یې ورته وکړ، چې زما له لور سره واده وکړه.

د منې خوړونکي سړي له فکر وروسته غوښتل موافقه وکړي، خو د باغ مالک خبرې اوږدې کړې او ویې ویل: زما لور په سترګو ړنده ده، په غوږونو کڼه، په خوله ګونګه او په پښو شله ده.

سړی حیران شو چې اوس به څه کوي.

ځان سره یې وویل چې د اخرت له عذابه د دنیا دغه جنجال غوره دی او له واده سره یې موافقه وکړه.

## د خپګان یو عمده لامل

ځینې اروا پوهان وایي د ډېرى انسانانو د ذهني ناکراریو، ژور خپګان، رواني فشارونو او تشویشونو لوى لامل دا دى چې موږ له خلکو، کورنۍ غړو او دوستانو خپل توقعات ډېر لوړ ساتو.

زموږ طمع ډېره لوړه وي، خو بله ورځ هغه انسان چې موږ پرې تکیه کړې او پرې ډاډه یو، ناڅاپي د تمې خلاف کار سره زموږ احساسات او باور له منځه یوسي او نیمه لار کې مو پرېږدي. دغه ټکان پر روان منفي اغېز کوي او ناکراري رامنځته کوي.

د همدې لپاره چې روان دې سالم وي او ونه ځورېږې، له ټولو خلکو طمع یا توقع ښکته ساته.

د بېلګې په توګه: که ته له یوه ناځوان ملګري لوړه طمع ساتې او د ژوند هرڅه یې ګڼې، خو سبا درسره دوکه کوي، له دنیا ځي، یا دې زړه ماتوي، نو ستا حالت به څه وي؟

که ته ذهني پیاوړى نه یې دغه ډول چلند دې احساسات ځپي او خپګان درته پیدا کوي. ټول وخت به په دې فکر کې یې، چې څنګه ترې بدل واخلې او مجبور یې کړې چې ملامتي ومني او بېرته دې څنګ ته راشي.

همېشه دې طمع یا توقع له هر چا څخه محدوده ساته. دې ته اماده اوسه، چې که هغه انسان نه وي، ته ونه لوېږې او بدیل ولرې.

سر سري ژوند مه کوه او په یوه انسان پورې هرڅه مه تړه؛ ځکه انسانان محدود او کمزوري دي او بدلېدونکې طبیعت لري.

د حق او د الله پاک لپاره جګړه کې دوی د یو صف په شان ودرېږي، هر څومره فشار چې پرې راشي، نه جلا کېږي، بلکې د یو موټي په شان د دوښمن په مقابل کې ولاړ وي. دا هغه کسان دي چې الله پاک ورسره مینه کوي.
که ته دغه اته صفتونه خپل کړې الله پاک به له تا سره مینه کوي، چې په پایله کې به یې ته بختور شې، ښایسته ژوند به ولرې او د اخرت بدله به دې جنت وي ان شاءالله.

## په اسانه کار ډېر څه ترلاسه کړه

همېشه به دې اورېدلي وي چې استغفار وایه، خو ایا پوهېږې استغفار څه ته وایي؟
استغفار یعنې عذر کول او بخښنه غوښتل.
کله چې ته الله پاک ته عذر وړاندې کړې، چې یا الله دا تېروتنه یا ګناه راڅخه وشوه او له امله یې ما مه رانیسه او بخښنه راته وکړه.
که ته دوامداره توبه ونه کړې او د خپلو ګناهونو په اړه له الله پاک بخښنه ونه غواړې، ژوند دې بې خونده او ستونزمن کېږي. ستا په ژوند کې ګڼې ستونزې له ګناهونو سره تړاو لري، خو کله چې ته الله پاک څخه بخښنه وغواړې، نه یوازې دا چې دغه ګناه درته بخښي، بلکې په بدل کې اجر هم درکوي او د ژوند حالات دې هم ورسره برابرېږي.
نو له همدې امله، په ژوند کې دوامداره بخښنه غوښتل یا استغفار ویل دې عادت وګرځوه.

یعنې د الله پاک توکل کوونکي انسانان خوښېږي، هغوی چې د هر کار لپاره مادي اسباب برابروي او هڅې کوي، خو پایله یې الله پاک ته پرېږدي او پر هغه یې بشپړ توکل وي.
اووم: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾[٢٦]
ژباړه: بې له شکه الله انصاف کوونکي خوښوي.
یعنې د الله پاک عدل کوونکي انسان خوښېږي، هغوی چې انصاف کوي، هرڅه کې عدل او انصاف له ذهن څخه نه اوباسي.
که د یو چا ترمنځ پرېکړه کوي، په عدالت باندې ولاړه او په حق پرېکړه کوي او د چا په حق کې ظلم نه کوي.
داسې خلک مقسطین بلل کېږي.
اتم: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَٰنٌ مَّرْصُوصٌ﴾[٢٧]
ژباړه: د الله خو هغه خلک خوښ دي، چې د هغه په لار کې په داسې شان صف تړلي جنګېږي، چې ګواکې هغوی یو محکم کړای شوی دېوال دی.
یعنې الله پاک هغو کسانو سره مینه کوي، چې دوی د الله په لار کې داسې جګړه کوي لکه دوی چې یو کلک جوړښت وي، داسې چې له یو بل څخه هېڅکله نه جدا کېږي.

---

٢٦: سورة الحجرات، ٩ آیت.

٢٧: سورة الصف، ۴ آیت.

پنځم: ﴿وَاللَّهُ يُحِبُّ الصّبِرِينَ﴾[23]
ژباړه: الله د زغم خاوندان (صبر کوونکي) خوښوي.
يعنې د الله پاک صبر کوونکي انسانان خوښېږي.
هغوی چې د غم په وخت کې صبر کوي، هغوی چې کومه ستونزه پرې راځي، وايي چې دا د الله تعالی له طرفه دی.
هغوی چې په درد، سختۍ او کړاو اخته کېږي، صبر کوي چې الله پاک به خامخا ددې تر شا ماته خير رسوي، يا په دغه کار کې به خير وي.
کوم غم پرې راشي، اولاد يا د کورنۍ کوم بل غړی له لاسه ورکړي، يا کوم مالي تاوان وکړي، په بدل کې يې صبر کوي او وايي: ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾[24]
ژباړه: موږ د الله يو او د هماغه الله لوري ته زموږ ورگرځېدل دي.
يعنې دا هرڅه د الله تعالی له طرفه وو. هره ستونزه او سختۍ باندې صبر کوي او پايلې ته يې په طمع وي، چې الله پاک به څه بدله ورکوي او په اخرت کې يې بدله جنت دی.
شپږم: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾[25]
ژباړه: د الله هغه خلک خوښېږي چې د هماغه په ډاډينه کار کوي.

---

۲۳: سورة آل عمران، ۱۴٦ آيت.

۲٤: سورة البقرة، ۱٥٦ آيت.

۲٥: سورة آل عمران ، ۱٥۹ آيت.

ژباړه: د الله هغه خلک خوښېږي چې له بدۍ څخه لاس واخلي.
یعنې هغه کسان چې توبه ډېره کوي، ګناه ترې کېږي او په دې نیت توبه کوي چې بیا ګناه نه کوم. که بیا ترې ګناه وشوه، نو بیا توبه کوي، خو په دې نیت ګناه نه کوي چې ځه توبه به وباسم، توبه کوي که ګناه ترې وشوه بیا توبه کوي.
درېیم: ﴿وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾[21]
ژباړه: او (الله پاک) پاکي خوښوونکي خوښوي.
یعنې الله پاک هغه انسانان خوښوي چې هغوی پاکي خوښوي، ځان پاک ساتي، خپل فکر، خپله ژبه او هرڅه پاک ساتي، پاک او حلال خوراک او څښاک کوي.
څلورم: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾[22]
ژباړه: ځکه چې پرهېزګاران د الله خوښېږي.
یعنې د الله پاک پرهېزګاران خوښېږي، هغوی چې له ګناه څخه ځان ساتي او هغه کار نه کوي چې الله پاک پرې نا راضه کېږي.
کله چې د کوم ناسم کار اراده وکړي، نو په دې فکر وي چې هسې نه الله پاک ترې خپه شي او کله چې کوم کار کوي، په دې فکر وي چې الله پاک راضي کړم.
دغه متقیان او پرهېزګاران دي.

---

۲۱: سورة البقرة، ۲۲۲ آیت.

۲۲: سورة التوبة، ۴ آیت.

## غواړې په الله پاک ګران شې؟

اته ډوله کسان دي چې الله پاک ورسره مينه کوي.

غواړې د هغو کسانو په ډله کې راشې، چې د ټولو کايناتو خالق ورسره مينه کوي؟

له چا سره چې الله پاک مينه کوي ژوند به يې خوشحاله وي، ښکلی ژوند به لري، له ستونزو به خوندي وي، ارامه او له خوشحالۍ څخه ډک زړه به لري او اخرت کې به يې جنت ځای وي ان شاءالله.

که غواړې په دغه کسانو کې راشې، نو دا صفتونه خپل کړه:

لومړی: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾[19]

ژباړه: الله ښېګڼه کوونکي خوښوي.

يعنې الله پاک نېک انسانان خوښوي چې ښې خبرې کوي، ښه کارونه کوي، خلکو سره مرسته کوي، ټول فکر او نيت يې دا وي چې الله پاک راضي کړي.

نېک انسان څوک دی؟

هغه چې نيت يې ښه وي، چا سره بد نه کوي، ښه کارونه کوي، ښه خبره کوي، ښکنځل نه کوي او ورته نور...

دغه نېکو کاره انسانان دي.

دويم: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ﴾[20]

---

[19]: سورة البقرة، ۱۹۵ آيت.

[20]: سورة البقرة، ۲۲۲ آيت.

## له ظلم څخه ځان وساته

که مېرمنې ته د غلامۍ په سترګه ګورې او لکه د مزدورې چلند ورسره کوې، که یو کارمند لرې او د هغه له توان څخه پورته کار پرې کوې، که ډاکټر یې، د بې پروايي او فيس يا اجورې له امله د ناروغ له ژوند سره لوبې کوې، که ښوونکی یې او په سخته ازموينه په زده کوونکو فشار راولې یا ورته نور مسوولیتونو څخه ناوړه استفاده کوې؛ پام دې وي چې بله ورځ به الهي محکمه کې دوی تا له ګرېوانه رانيسي خپل حق به غواړي؛ په هغه ورځ چې قاضي الله پاک وي!

أبو الدرداء رضي الله عنه د دامون په نوم یو اوښ درلود، که به چا ترې لنډ وخت د کار لپاره اخیسته، لومړی شرط به یې پرې دا و چې له وس څخه پورته مال پرې بار نه کړي.

د خپل مرګ په وخت یې اوښ ته په خطاب کې ویلي و:

اې دامونه، الله تعالی ته مې شکايت ونه کړې او دښمن مې نه شې چې زه الهي محکمه کې ستا ځواب بیا نه شم ویلی.

کله چې صحابه کرام حیواناتو سره د ناسم چلند له امله له الهي محاکمې داسې ډارېدل، د انسانو په اړه دې بيا څه نظر دی؟

له هر چا سره په نرمي او مهرباني چلند کوه او له ظلم څخه ځان په جدي ډول ساته.

که نه، الله مه کړه قيامت کې ښايي د همدوی له امله دې برخليک ابدي بدبختي وي.

که ښه کارونه یوازې د خلکو او د هغوی د مننې لپاره کوې، گیله کوه، خو که د الله د رضا او د اجر گټلو په نیت ښه کوې، بیا یې اجر الله پاک درکوي او ورسره به ته یو ښه انسان یې.
که غواړې د دنیا تر ټولو خوشبخته انسان اوسې، خلکو سره نېک چلند او مرسته کوه او بدله یې له الله پاک غواړه.

## داسې خلک وپېژنه

هغه کسان چې تا پېژني یا دې نه پېژني، خو د خلکو د منفي خبرو له مخې ستا په اړه خپل نظر بدلوي یا ستا په تړاو ناسم حکم کوي، دا ناځوانه خلک دي. خو تر دوی هم ناځوانه کس هغه دی، چې د خپل مزاج له مخې تا سره چلند کوي.
که خوشحال وي، نو تا سره ښه چلند کوي، خو که خپه وي چلند یې درسره بدلېږي. په حقیقت کې دا ډول شخص تاته نه، بلکې خپل مزاج ته ارزښت ورکوي.
تر دوی دواړو بیا ناځوانه انسان هغه دی، چې تاته د یوه فرصت یا وسیلې په سترگه گوري. دا ډول خلک خپلو موخو ته د رسېدو لپاره تا وسیله گڼي او کله چې خپل موخې ته ورسېږي، تا په نیمه لار کې پرېږدي. داسې خلکو ته اجازه مه ورکوه، چې ستا د ژوند او د موخو پر وړاندې خنډ شي.
دغه ډول خلک خپلو گټو پسې لالهاند وي. دوی ته ستا احساسات ارزښتمن نه دي، بلکې خپل مزاج او خپلې موخې ورته لومړیتوب لري.

ځوک چې د ماضي او راتلونکي په اړه تشویش کوي، خپل ژوند بې خونده کوي.

ډېری انسانان د داسې ستونزو په اړه تشویشونه کوي، چې ښایي هېڅ پېښې نه شي. ځینې د داسې کارونو په اړه ټوله ورځ خپه وي او تشویش ورته کوي، چې دوی پکې هېڅ ونډه نه شي ادا کولای، یا یې هېڅ لاس نه ور رسېږي، یا ښېخي ده پورې اړه نه لري. نو بیا ولې تشویش؟

ځان له نورو سره مه پرتله کوه؛ ځکه ډېری د ژوند ناخوالې له دې امله رامنځته کېږي چې ته له نورو سره ځان پرتله کړې.

که غواړې پرمختګ وکړې، ځان له ځان سره پرتله کوه. نن دې له پرون سره پرتله کړه، چې تر پرون دې نن ورځ څه پرمختګ کړی، نوي دې څه شی زده کړي دي، کوم مهارت دې لوړ کړی او کوم خیر کار دې کړی دی. دا سیالي تا بریالی کولای شي، نه دا چې خلکو سره ځان پرتله کوې؛ ځکه د خلکو او ستا امکانات او چارې توپیر لري.

هېڅ شی په دې نه ارزي، چې ته دې خپل عزت او قدر پرې کم کړې.

## ښه کوه، اجر یې له الله تعالی غواړه

که له خلکو سره ښه کوې، خو په بدل کې دې هغوی زړه ماتوي یا دې ښه په چا نه معلومېږي، خپه کېږه مه او ګیله مه کوه؛ ځکه ته ښه انسان یې، ښه دې کړي او د نېکي بدله انسانان نه بلکې الله پاک ورکوي.

## د بریالي ژوند لپاره زریني خبرې

په انسانانو بشپړه تکیه مه کوه او زړه ټول په چا پورې مه تړه. که سبا درڅخه هغه ځان لرې کړي، را وبه غورځېږې. د ځان او د خپلې کورنۍ ډېر خیال ساته.

کرکه له چا مه کوه، دا دې ذهن ناروغه کوي، زړه دې د دنیا له ښکلاوو توروي او ژوند دې بې خونده کوي. کرکه هغه کسان کوي چې ژوند کې ناکام وي. ته که د بریا په طرف روان یې، کرکه له هېچا مه کوه بلکې ټولو ته زړه پاک ساته.

د «نه» ویلو هنر زده کړه، هر چاته په هره خبره کې هو مه وایه؛ ځکه ډېر هو ویل دې وخت ضایع کوي او ژوند دې له اصلي لوري بدلوي.

«نه» ویل هنر او وړتیا ده، چې په کوم ځای کې نه ووایې او کوم حالت او ځای کې هو ووایې.

هغه ملګري له خپل نوملړ څخه لرې یا یې لاندې برخې ته یوسه، چې وخت دې ضایع کوي او منفي انرژي درکوي.

له داسې کسانو سره چې ښه پلان شریک کړې، سملاسي درته وایي چې دا خو ناکامه کېږي، ستا به ورته لویه هیله او طمع وي، خو هغه به داسې سپېره خوله وخوځوي چې روغ کار ته به دې اراده کمزورې شي. په تېرو شویو کارونو او ورځو پښېماني مه کوه، په ماضي کې ژوند مه کوه او له حال څخه خوند واخله.

يو چا د امام ابو حنيفه رحمه اللّٰه غيبت کاوه. يو بل کس دا خبر امام صيب ته ور وړ او ورته يې ويل چې فلاني دې غيبت کاوه.
امام ابو حنيفه رحمه اللّٰه خپل خدمتگار ته وويل چې د خرماوو يو ټوکرۍ جوړه کړه او د هغه کس کور ته يې وروړه. خبر راوړونکي فکر وکړ چې خبره يې سمه نه ده اخيستل شوې او بيا يې ټينگار وکړ چې ستا غيبت يې کاوه.
امام ورته وويل پوهېږم چې زما غيبت يې کاوه، خو زه بايد هغه ته دا ډالۍ ورکړم؛ ځکه چې ده په دنيا کې زما غيبت کړی دی او په قيامت کې به ماته خپلې هغه نېکۍ راکوي چې قبولې شوې وي، نو ايا دا په دې نه ارزي چې زه په دنيا کې دا څو دانې خرما ورکړم؟
مخکې له دې چې د چا غيبت پيل کړې، ځان سره فکر کوه ايا دغه څو شېبې د زړه تشول يا کينه سړول په دې ارزي، چې اخرت کې خپلې نېکۍ بل چاته ورکړې؟
ته به څه کوې، چې کله دې نېکۍ جنت ته بېولی شي، خو د غيبت او د خلکو د حقونو د خوړلو له امله دې همدغه نېکۍ په نورو ووېشل شي او ښايي ته دوزخ ته واستول شې!
که ستا غيبت کېده، پرې مه خپه کېږه؛ ځکه له تا څه نه کمېږي، خو که منفي صفت لرې او خلک يې له امله ستا غيبت کوي، د خپل ځان اصلاح خامخا کوه او هغه منفي صفت له ځانه لرې کړه.

## په خپل غیبت مه خپه کېږه

که خبر شوې چې چا دې غیبت کړی دی، یا بد یې درپسې ویلي دي؛ مه خپه کېږه، کینه ورسره مه کوه او زړه کې د خلکو لپاره حسادت مه ساته، بلکې د الله تعالی شکر اداء کړه.

ځکه ته د هغوی په اړه په غیبت بوخت شوی نه یې، بلکې خلک ستا په اړه په غیبت بوخت شوي دي.

هغوی د غیبت له زوره خبر نه دي. که پوهېدلای چې قیامت کې به د غیبت په بدل کې تاته خپلې نېکۍ درکوي، هېڅکله دا کار نه کاوه.

د هرې ناوړه خبرې او کړنې پوښتنه به له هر انسانه کیږي. ځینې خلک به قیامت کې ودرول شي او د هر ظلم او ناوړه خبره چې یې کړې، پوښتنه به ترې کیږي:

﴿وَقِفُوهُمْ ۖ إِنَّهُم مَّسْئُولُونَ﴾[18]

ژباړه: او دوی ودروئ له دوی څخه پوښتنه کیږي.

هغه کسانو چې ستا غیبت کړی، ددې په بدل کې به قیامت کې خپلې نېکۍ تر هغې درکوي چې ته راضي شې، لکه څنګه چې مبارکو حدیثونو کې په دې اړه راغلي.

ته هم باید ځان د نورو له غیبت څخه وساتې؛ ځکه ته به هم خپلې نېکۍ په خلکو ددې کار له امله وېشې.

۱۸: سورة الصافات، ۲۴ آیت.

## په ژوند کې بشپړ راحت څنګه ترلاسه کړم؟

غواړې چې په دنیا کې هوسا اوسې، له پرېشانیو خوندي اوسې او همېشه دې زړه له سکون او راحت څخه ډک وي؟

دا دې ارمان دی؟

خو کم بخته، دا ارمان یوازې په دنیا کې نه پوره کېږي، بلکې ددې هرڅه رښتینی ځای جنت دی.

کله چې ته له پُل سراط څخه تېر شې او جنت ته داخل شې، بیا به د هوساینې احساس وکړې.

دنیا د جنت ګټلو لپاره د ازموینې ځای دی، په دنیا باندې دومره مه ډاډه کېږه چې ته به همېشه او بشپړ سکون ولرې.

زحمت وکاږه، سترړیا ګاله، عبادتونه ترسره کوه او د خیر کارونه ترسره کوه، چې جنت وګټې، نو بیا به دمه شې.

په دنیا کې محدود سکون او ارام شته، خو رښتینی سکون لپاره الله پاک تاته جنت جوړ کړی دی.

د دنیا په مینه ځان دومره مه غرقوه، چې جنت پرې له لاسه ورکړې.

د نېکمرغۍ هغه تلپاتې کور ته چې کله داخل شې، زړه به دې له خوشحالۍ، سکون او نېکمرغیو څخه ډک شي.

## له دې بد عادت څخه ځان ساته

که د یو چا نېکه یادونه یا یې ستاینه وکړې، داسې کم خلک به پیدا شي چې هغه ته ورشي او ستا خبره ور ورسوي، چې فلاني ښه یادولې، خو که د چا غیبت دې وکړ، ډېرى کسان به منډې وهي او هغه کس ته به یې رسوي او دا زېرى به پرې کوي، چې فلاني دې غیبت کاوه.

فضل بن عیاض رحمه الله یو عالم دی. هغه وایي: له وهب بن منبه رحمه الله سره مجلس کې وم، چې یو کس ورته خبر راوړ، چې فلاني کس دې غیبت کاوه او ښکنځل یې درته کول یا یې بد یادولې.

هغه یې په ځواب کې وویل: ایا شیطان تر تا کوم بل پیغام رسوونکی پیدا نه کړ؟

یعنې ته د شیطان پیغام رسوونکی شوې او د خلکو په منځ کې اختلاف رامنځته کوې، غیبت وشو هغه انسان گناه وکړه، نو ته ولې د شیطان پیغام رسوونکی له ځانه جوړوې او ځان ته د گناه پېټی درنوې؟

دغه ډول انسانان په څه نیت خلک خبروي، چې غیبت یې شوی وي؟ ایا د خیر نیت لري که د شر؟

څکه د خلکو په زړونو کې د نورو په اړه کینه پیدا کولو کې خو خیر نشته، بلکې سراسر شر دی. په دې خو تر ټولو ډېر شیطان خوشحالېږي، چې یو څوک دده کار اسانه کړي او د انسانانو ترمنځ اختلاف پیدا کړي.

نو همدې امله کوښښ کوه چې د شیطان پیغام رسوونکی انسان نه شې، ترڅو د خلکو ترمنځ اختلافاتو لامل ونه گرځې.

## که زړه دې تنګ دی؛ دا زیری درسره مرسته کوي

کله چې د حالت خراب او زړه دې سخت تنګ شو، دا زېری در په یادوه چې له هرې تنګسیا سره هوساینه شته.

الله تعالی فرمایي: ﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾[15]

ژباړه: نو حقیقت دا دی چې له تنګسې سره پراختیا هم ده.

﴿لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ﴾[16]

ژباړه: تاسې به هرو مرو، پړاو په پړاو له یو حالت نه بل تېرېدونکي یئ.

ټول حالتونه لنډمهالي او بدلېدونکي وي.

ستونزه دومره ځان ته مه جدي کوه چې فکر کوې ټول ژوند به همداسې روان وي. نه! دا حالت دې خامخا بدلېږي، الله پاک ستا حال له یوه حالت څخه بل ته خامخا بدلوي ان شاءالله.

سعادتمن او خوشبخته انسان د تنګسیا، خوشحالۍ او غم په وختونو کې له الله پاک سره پاتې کېږي چې له برکته یې د زړه حالت بهتریږي.

﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ﴾[17]

ژباړه: او وپوهېږئ چې الله د انسان او د هغه د زړه تر مینځه حائل دی.

یعنې ستا یو حالت بل ته بدلوي.

خپل رب ته ور ستون شته او اړیکه ورسره پیاوړې کړه، تر ټولو غوره حالت او ښه ژوند به ولرې ان شاءالله.

---

۱۵: سورة الشرح، ۵ آیت.

۱٦: سورة الانشقاق، ۱۹ آیت.

۱۷: سورة الأنفال، ۲۴ آیت.

کله چې ته نیمه شپه له خوبه را ویښ شې او دوه رکعته نفل یا تهجد لمونځ وکړې او په سجدو کې یې خپل رب ته دعا کوې، دغه دوه حالتونه چې یو خو نیمه شپه او بل سجدو کې انسان الله پاک ته ډېر نږدې وي.

## د حکمت لوی درس

روایتونو کې راځي، ذوالقرنین چې کله د عراق بابل ته د رسېدو پرمهال ناروغ شو، خپلې مور ته چې پر یوه بل ډېر ګران وو، یو پسه یا ګډه او یو لیک ورولېږه. په لیک کې یې خپلې مور ته لیکلي و چې کله زما له مرګ څخه خبره شوې، دغه پسه حلال کړه او په کلي کې اوازه خپره کړه چې د هر چا کور کې څوک غم ونه لري؛ څوک وفات شوی نه وي او ورته نور حالتونه ونه لري، دا ټول را وغواړه او هغوی ته مېلمستیا ورکړه. ذوالقرنین چې کله وفات شو، نو مور یې همغسې وکړل. پسه یې حلال کړ، مېلمستیا یې برابره کړه او خلکو پسې یې احوال واستوه؛ خو مېلمستیا کې یې هېڅا ګډون ونه کړ. مور یې پوه شوه، چې په دې خبره کې اصلي حکمت څه و.

له دې سره یې د غم بار سپک، تشویش او تکلیف کم شو.

تاسې هم په کلي کې پوښتنه وکړئ، ایا داسې یوه کورنۍ به وي چې په کور کې یې غم او خپګان نه وي؟

دا ناممکنه ده، نو بیا حالات ولې دومره زورور شي چې تا په ملا مات کړي او له ژونده دې زړه تور کړي؟

دغه ساعت کې د هغو کسانو په ډله کې شامل شې چې د الله پاک ذکر کوي، نو ځان پکې شامل کړه.[۱۳]

کله چې ستونزې ډېرې وې یا دې حالت سخت خراب و، اودس او بیا دوه رکعته نفل کوه او په سجدو کې خپل رب ته له ستونزو ګیله کوه، زړه به دې تل له سکون څخه ډک وي او خوندور ژوند به ولرې.

بل دا چې د شپې په نیمایي یا له نیمې شپې وروسته برخه کې انسان الله پاک ته ډېر نږدې وي.

په یوه حدیث مبارک کې راغلي چې الله پاک لکه څنګه د هغه له شان سره مناسبه ده، نیمه شپه کې لومړي اسمان ته نازلېږي او غږ کوي چې ایا څوک شته چې له ما څخه څه وغواړي، زه یې ورکړم او ایا څوک شته چې له ما څخه بخښنه وغواړي، زه ورته بخښنه وکړم؟[۱٤]

نو چې الله پاک پخپل عظمت سره دا غږ کوي او ته دغه وخت خپل رب ته ناست یې، نو دا څومره لوړ مقام او ځانګړی حالت دی!

څومره ښه ده چې دغه دواړه حالتونه سره یو ځای کړې. څنګه؟

---

۱۳: د حدیث عربي متن: «أقربُ ما يكونُ الربُّ من العبدِ في جوفِ الليلِ الآخرِ فإنِ استطعْتَ أن تكونَ ممن يذكرُ اللّهَ في تلْكَ الساعَةِ فكُنْ.» (سنن الترمذي، د حدیث شمېره: ۳۵۷۹).

۱٤: د حدیث عربي متن: «يَنْزِلُ رَبُّنا تَبارَكَ وتَعالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إلى السَّماءِ الدُّنْيا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ، يقولُ: مَن يَدْعُونِي، فأسْتَجِيبَ له؟ مَن يَسْأَلُنِي فأُعْطِيَهُ؟ مَن يَستَغْفِرُني فأغْفِرَ له؟» (صحيح البخاري، د حدیث شمېره: ۱۱۴۵. و صحیح مسلم د حدیث شمېره: ۷۵۸).

## دوه حالتونو کې دعا غواړه

له کلونو راهیسې دعاګانې کوې خو نه قبلېږي، ستونزې لرې خو حل لار در څخه ورکه ده؟

ستونزې دې ډېرې دي او د ژوند ستونزو چاپېر کړی یې؟

خلک دې ځوروي او له حالاتو کړېږې او بالاخره داسې یو حالت لرې چې له ژونده ستړی یې؟

پوهېږم همدا اندېښنې او حالت ستا په څېر ډېری انسانان ځوروي.

یوه اسانه طریقه درته ښیم عمل پرې وکړه، له دغې لارښوونې به تر ډېره خلاص شې او هرڅه چې له خپل رب څخه غواړې هغه به ترلاسه کړې ان شاءالله، خو که خیر دې پکې وي.

دوه حالتونه دي چې انسان پکې الله پاک ته ډېر نږدې وي او دعا پکې قبلېږي ان شاءالله.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «أَقْرَبُ ما يَكونُ العَبْدُ مِن رَبِّهِ، وهو ساجِدٌ، فأكْثِرُوا الدُّعاءَ.»[۱۲]

ژباړه: بنده د سجدې په حالت کې تر بل هر وخت ډېر الله پاک ته نږدې کېږي، نو په دې حالت کې ډېرې دعاوې کوئ.

بل حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایلي: الله پاک انسان ته د شپې په آخره برخه کې تر ټولو نورو حالتونو ډېر نږدې وي، که کولای شې چې

---

۱۲: صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ۴۸۲.

## په دې کار ځان عزتمن کړه

خلکو ته په شکايت او ګيلو ښايي د هغوی شفقت او زړه سوی جلب کړې او د زړه بار دې کم شي، خو ورسره به دې مقام د هغوی په سترګو کې ټيټ شي.

په خلکو تکيه لکه په نم لرونکي ديوال تکيه ده، چې له غورځېدو سره يې تا هم غورځوي، خو که شکايت دې الله پاک ته وکړې د هغه رحمت به پر تا نازل شي، مرسته به دې وکړي او ستونزې به دې حل شي.

ته په څه نيت له سختو حالاتو او ازموينو کمزوري مخلوق ته شکايت کوې؟ دا خو په حقيقت کې له خپل رب څخه د هغه بندګانو ته ګيله ده.

انسان پخپله کمزوری دی، د ځان مرسته نه شي کولای، نو له تا سره به يې څنګه وکړي؟

ددې پر ځای ولې په ټولواک رب توکل نه کوې چې فرمايي:

﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ﴾[11]

ژباړه: څوک چې پر الله توکل وکړي د هغه لپاره هغه کافي دی.

الله پاک ته کېنه، وژاړه، ګيله ورته وکړه، شکايت ورته وکړه او زړه ورته تش کړه؛ په بدل کې به يې پياوړی او با عزته انسان شې.

که خلک د مرستې رښتينې سرچينه بولې او شکايتونه ورته کوې ځان به درته عاجز او ذليل ښکاري او د خلکو د مهرباني جلبولو لپاره به ځان مظلوم ښکاره کوې.

---

۱۱: سورة الطلاق، ۳ آيت.

اوس پرېکړه ستا ده چې قیامت کې د چا په ډله کې درېدل غواړې، د نېکو انسانانو، که له بې لارې کنځلمارو او فحشا خپروونکو سره.
دا عادي خبره نه ده، د خلکو په تعقیبولو کې ډېر جدي اوسه او احتیاط کوه، چې د چا اکونټ یا پاڼې تعقیبوې او لایک او کمنټونه ورکوې.
ځان نه دا پوښتنه وکړه، ایا په دې راضي یې چې په قیامت کې له دغه خلکو سره په یوه ډله کې ودرول شې؟
که ځواب دې نه وي، نو همدا اوس پرېکړه وکړه.
یاد ساته چې د فحشا او بې لارۍ خپروونکو ویډیوګانو یا مطالبو ته یوازې ستا یو لایک، کمنټ، یا شریکول کول، د هغوی د ویډیوګانو په زیاتو لیدل کېدو یا پراخېدو کې مرسته کوي او په دې کار ته مسوول او د هغوی په ګناه کې شریک یې.
د قیامت په ورځ به ته د الله پاک په حضور کې ودرېږې. په عملنامه کې به دې داسې څه لیکل شوي وي، چې تا به نه وي کړي؛ ځواب به درکول کېږي دا هغه څه دي، چې نورو خلکو ترسره کړي دي، خو ته پکې ښکېل وې او ته یې سبب شوی وې.
نو همدې امله، د هغو خلکو څخه ځان په ټولنیزو رسنیو کې لرې وساته، چې فحشا خپروي، ښکنځل کوي او خلک بېلارۍ ته رابولي، ترڅو د دوی په ګناه کې ته ورسره ښکېل نه شې، چې قیامت کې به یې الله مه کړه بیا لوی قیمت پرې کوې.

په اولادونو او مېرمن باندې دې ژوند سخت کړی او بد چلند یا ظلم ورسره کوې؟
که دې ځواب هو وي، په همدغو برخو کې مثبت بدلون راوله او اړیکې دې له یادو خلکو سره ښې کړه، ستا حالت به هم ورسره بدل شي.
د مور او پلار احترام کوه، له کورنۍ سره ښه وخت تېروه، په اولادونو باندې شفقت او مهرباني کوه، د دوی په حق کې ظالم مه جوړېږه.
که ته پر دوی مهربان شې، اللّٰه پاک به دې ټول ژوند خوندور او کامیاب کړي او د ښیرازۍ او نعمتونو دروازې به ستا پرمخ پرانیستل شي.
اللّٰه پاک به درباندې رحم کوي؛ ځکه اللّٰه پاک هغه وخت له تا راضي کېږي چې مور او پلار له تا خوشحاله وي، کورنۍ له تا خوشحاله وي او ته یو ظالم انسان ونه اوسې.

## پام کوه دا موضوع جدي ده!

پام کوه او جدي اوسه چې له چا سره مینه لرې او په ټولنیزو رسنیو کې څوک تعقیبوې او د دوی لار تعقیبوې؛ ځکه قیامت کې به د همدغه خلکو سره د اللّٰه پاک په حضور کې درېږې.
رسول اللّٰه ﷺ فرمایلي دي: «المرءُ معَ من أحبَّ»[10]
ژباړه: انسان به (قیامت کې) له هغه چا سره وي چې مینه ورسره لري.
یعنې انسان به په قیامت کې له هغه چا سره یو ځای حشر کېږي، چې دی ورسره مینه لري او زړه یې ورپورې تړلی وي.

---

۱۰: صحیح البخاري، د حدیث شمېره: ٦١٦٨. و صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ۲٦۴۰.

تا پخپل مېړه پورې دومره زړه تړلې، چې هغه نه وي ژوند دې نه کېږي. دومره زړه تړل یا تعلق درته ستونزې جوړوي او ذهني ناروغي پیدا کوي؛ ځکه انسانان چې یو چا پورې ډېر زیات زړه وتړي، هغه مین یا عاشق وي او عاشق هرڅه له مخې لرې کوي، یا یې له منځه وړي ترڅو خپل معشوق ته ورسېږي، خو چې شاته ګوري ډېر څه یې له لاسه ورکړي وي، کورنۍ، ملګري او ټول ژوند هرڅه ګډوډ شوي وي.

## د نعمتونو دروازې ځان ته پرانېزه

ایا د خوشحالۍ او نېکمرغۍ دروازې دې پر مخ تړل شوې دي؟

هر کار چې کوې پایله یې منفي وي او هر خوا چې لاس اچوې څه نه ترلاسه کوې؟

زړه دې تنګ او خپه دی؟

ژوند دې له تنګسیا ډک یا درباندې سخت شوی دی او حیران پاتې یې چې څه وکړې؟

که داسې وي لومړی مې دا پوښتنې ځواب کړه، ورسره به دې ګنې دغه ستونزې حل شي ان شاءالله.

مور او پلار سره دې اړیکه څنګه ده؟

له کورنۍ، ماشومانو او مېرمنې سره دې اړیکه څنګه ده؟

ایا دوی له تا کړېږي؟

ایا مور او پلار دې د شپې له تا څخه خپه ویده کېږي؟

## تر دې حده پرې زړه مه تړه

ځينې خوېندې راته په ټولنيزو رسنيو کې پيغامونه استوي چې د ژوند له شريکانو ګيله منې او خپه وي.

د دوی له پيغامونو ښکاري چې ډېری يې يوه ګډه ستونزه لري: له اندازې زيات په مېړه پورې تعلق يا د زړه تړل.

خورې ستا د مېړه ژوند يو کتاب دی، چې د يوه فصل عنوان يې ته يې، خو تا بيا د خپل ژوند د کتاب ټول عنوان او فصلونه يوازې مېړه ته ځانګړي کړي.

د پياوړي شخصيت د کتاب ليکوال او د اړيکو ماهر ياسر الحزيمي وايي، انسانان بېلابېل کردارونه يا مسؤليتونه لري.

د بېلګې په توګه، ستا مېړه تر ټولو مخکې د الله بنده دی، د يو چا زوی دی، ستا د اولادونو پلار دی، ملګري لري، ګاونډيانو سره اړيکه پالي، يو ځای دنده لري او د يوه هېواد اوسېدونکی دی.

دا ټول مسووليتونه په يوه مسووليت نه شي بدلېدای.

د ځينو خويندو طمع وي، چې مېړه يې هرڅه پرېږدي او يوازې دې خپلو ښځو ته پام کوي؛ پاتې خلکو پروا نه ساتي، مېړه ته د شخصي ملکيت په سترګه ګوري.

همدا شان، مېرمنې هم ورته مسووليتونه لري او ځينې نارينه له خپلو ښځو طمع لري، چې يوازې دې ده ته پاملرنه کوي او نور ټول مسووليتونه او کارونه دې پرېږدي.

## د الله پاک پیاوړی مؤمن خوښېږي

موږ ته ویل شوي چې او په دې قانع کړای شوي یو، چې فقر عیب نه دی؛ الله پاک فقیران ډېر خوښوي او رسول الله ﷺ مالدار نه و. موږ ته ښودل شوي، چې غریبي زهد یا تقوا ده.

ایا رسول الله ﷺ له کفر سره یو ځای له فقر څخه هم پناه نه غوښته؟

«اللَّهمَّ إنيِّ أَعوذُ بكَ منَ الكُفرِ والفَقرِ.»[۹]

ژباړه: ربه زه تاته له کفر او فقر څخه پناه دروړم.

ایا رسول الله ﷺ نه دي فرمایلي چې پورته لاس له ښکته لاس څخه غوره دی؟

ایا پیاوړی مؤمن یې تر کمزوري د الله پاک په نزد غوره نه دی بللی؟

خو زموږ فکر داسې جوړ شوی، چې په دې کې ستونزه نشته که فقیر، محتاج او کمزوری یې.

نه، ته باید له اقتصادي، علمي او بدني اړخه پیاوړی مسلمان اوسې؛ ځکه الله پاک هغه مؤمن خوښوي چې پیاوړی وي.

که ته پراخ حلال مال وګټې، د صدقه ورکولو او د خیر کارونو سمبالولو امکانات به درسره زیات وي او د الله پاک لار کې به یې مصرفولی شې.

نو هڅه وکړه چې ځان په اقتصادي، علمي او بدني لحاظ پیاوړی کړې، ترڅو د خلکو سره مرسته وکړې او د الله پاک رضا ترلاسه کړې.

۹: سنن أبی داود، د حدیث شمېره: ۵۰۹۰.

## د دنیا او اخرت له عذابه د خوندیتوب دعا

دا دعا همېشه وایه؛ ژوند به دې ورسره عزتمند او له خیر او برکت څخه ډک وي. تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې د دنیا او قیامت له عذاب څخه به وژغورل شې ان شاءالله.

رسول الله ﷺ به تل دا دعا کوله: «اللَّهُمَّ أَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِي الْأُمُورِ كُلِّهَا وَأَجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْآخِرَةِ»[8]

ژباړه: یا الله! د هر کار په پای کې زموږ پایله ښه (زموږ په ګټه) کړه او د دنیا له شرمندګۍ او د قیامت له عذاب څخه مو وژغوره.

## ربه خپل دیدار مو په برخه کړه

موږ د نوح او ایوب علیهما السلام په شان صبر نه لرو، د ابراهیم علیه السلام په شان اخلاص او سرښندنه، د یعقوب علیه السلام په شان پر الله پاک نېک ګومان او توکل، د یوسف علیه السلام په شان تقوا، د یونس علیه السلام په څېر ذاکره ژبه، د رسول الله ﷺ په شان اخلاص، زغم، حکمت او په الله پاک توکل نه لرو، خو یا الله! موږ له تا سره مینه لرو او د نېکو بندګانو لارویان یو، زموږ څخه چې کوم ګناهونه شوي هغه راته وبخښه او د نېکو عملونو توفیق راکړه، پر موږ رحم وکړه او له موږ راضي شه، په اخرت کې جنت راکړه او خپل دیدار مو په برخه کړه.

8: دا حدیث امام بخاري پخپل کتاب تاریخ الکبیر کې تخریج کړی دی۳۰ پاڼه. او امام احمد پخپل مسند کې تخریج کړی، د حدیث شمېره: ۱۷٦۲۸.

## په دې کار ژوند مه ضايع کوه

خوشحالي دې په بې ځايه تشويش مه خرابوه، برياليتوب دې په غرور له منځه مه وړه، د نورو په اندېښنو دې ذهن مه ستړی کوه، د پرون په افسوس نن ورځ مه بربادوه، په بد نيتۍ او کينې خپل عقل مه ضايع کوه، خپل خوندور ژوند کوه او نورو ته زيان مه رسوه.
د الله تعالی په لاره نېغ ځه او همېشه اخرت پر دنيا لومړی کوه.
هغوی ناکام دي چې په ذهن کې د نورو کارونو سمبالوي او په دې تشويش کوي، چې فلانی ولې داسې نه شو يا هغسې نه شو.
تاته يې څه؟
بريالي انسان تر هر چا لومړی د ځان د بدلون هڅې کوي، پخپلو چارو فکر کوي او د بريا سفر په لار باندې دوامداره مزل کوي.
د خلکو تېروتنو اصلاح لپاره يوازې د مرستې په نيت سپارښتنه کوه، خو دومره ورته مه تمبړه چې زړه ورسره وخورې او په اړه يې تشويش وکړې.
د هغه کارونو په اړه اندېښنه چې بدلون او اصلاح يې ستا تر توان وتلي وي، وخت ضايع کوي او ذهن ناکراره کوي.
هغه څه په اړه فکر کوه چې ستا په توان پوره وي، خو نه يې کوې.
ستا ذهني روغتيا ډېره مهمه ده، خو که ته يې په بې ځايه اندېښنو خرابوې، د ناکامۍ تر څنګ دې د ژوند بېلابېلې برخې اغېزمنوي.
ددې پر ځای د ځان اصلاح کولو، ځان بدلولو او ځان څخه ښه شخصيت جوړولو لپاره دې انرژي مصرفوه.

که ټولنیزو رسنیو کې دې خلک ځوروي، هغوی بلاک کړه؛ ځکه ستا مزاج ډېر ارزښتمن او مهم دی، اجازه مه ورکوه چې خراب یې کړي.
ته د خپلې ذهني روغتیا، خپلې خوشحالۍ او ژوند مسوول یې. د انسانانو پروا تر هغې اندازې کوه، چې ستا خپله هوساینه او ژوند خراب نه شي.

## په دې کار سره به الله پاک ته ګران شې

هر وخت چې دې زړه وغواړي کوای شې له خپل رب سره ملاقت وکړې، پرته له دې چې تشریفاتو ته اړتیا وي یا ورسره د ملاقات وخت ونیسې. هر وخت چې غواړې د پاچایانو له پاچا سره ملاقت وکړې، جای نماز هوار کړه او ووایه: الله اکبر! یا لږ تر لږه دومره ووایه چې: یا الله!
الله پاک درباندې غږ کوي: لبیک یا عبدي! ووایه اې زما بنده؟
ته په داسې رب غږ کوې چې ناهیلی ترې نه ستنیږې.
وغواړه چې هرڅه ته محتاج یې، له هغه یې وغواړه؛ ځکه د دنیا او د اسمانونو ټولې خزانې، د کایناتو او هرڅه واک ټول د هغه دی.
هېڅوک ستا او د رب ترمنځ د ملاقات مزاحمت نه شي کوای او نه درباندې وخت محدودولی شي.
څومره چې دې زړه وي همغومره وخت ورسره د زړه خواله وکړه او ملاقات ته دې ادامه ورکړه؛ ځکه ته د یوه مهربان رب چې د ټولو پاچایانو پاچا دی ملاقات کوې او هغه ستا په توبه او د زړه خواله ډېر خوشحالیږي.
له شیطان پرته هېڅوک ستا مزاحمت نه شي کولای او شیطان خو بیا کمزوری دی کله چې رب ته پناه ورورې هغه دې مخه نه شي نیولی.

زړه د الله پاک لوري ته واړوه، د بنده پر ځای پکې د الله پاک مینه ځای کړه، په دنیا او اخرت کې به بریالی یې، ان شاءالله.

## بهترینې دعاګانې

د میلیونونه یا زرګونه دعاګانو له ډلې چې انسانانو کړې، الله پاک پخپل سپېڅلي کلام کې د څو پیغمبرانو دعاګانې یادې کړې دي.
دا څرګندوي چې قران کریم کې ذکر شوې دعاګانې د الله پاک خوښې دي او له خپلو بندګانو غواړي، چې دغه دعاګانې وکړي.
د بېلګې په توګه که ناروغ یې د ایوب علیه السلام دعا وکړه. که سختو ستونزو کې ګیر یې، د یونس علیه السلام دعا وکړه او همداسې نور.
قران کریم ته مراجعه وکړه الله پاک د خپلو محبوبو پیغمبرانو دعاګانې یادې کړې دي.

## اجازه مه ورکوه چې بې قدره دې کړي

قدر دې ستا په لاس کې دی؛ چاته اجازه مه ورکوه چې بې قدره دې کړي. ستا مزاج ستا خپل دی، څوک مه پرېږده چې درته ګډوډ او خراب یې کړي.
انسانانو ته همغومره قدر ورکړه، څومره چې هغوی یې ارزښت لري، له اندازې زیات واک مه ورکوه چې ژوند دې بې خونده او ذهن ګډوډ کړي.
که پوهېدلې چې کوم ځای کې دې قدر نشته، هلته مه ورځه.
هغه انسانان چې ستا په ارزښت نه پوهېږي، هغوی څخه بې پروا شه او لار ترې جلا کړه.

درېیم: د معشوق یا معشوقې منفي صفتونه ځان ته یادوه: که د پورته ټکو له عملي کولو سره دې ستونزه حل نه شوه، د هغه چا منفي صفتونه او عیبونه ذهن ته راوله چې پرې مین یې. که یې په اړه معلومات نه لرې له بل چا یې دقیق معلومات پیدا کړه.

څنګه چې د هغې ښه صفتونو او خوی ستا پر زړه ولکه کړې، همداسې یې عیبونه او منفي صفتونه زړه کې کرکه پیدا کوي. خو پام دې وي چې خپل محبوب په خلکو کې بدنام نه کړې؛ ځکه دا د هغې عزت ته زیان اړوي او ظلم دی.

ځینې مینان چې خپلو هېلو ته نه رسېږي، سملاسي له هغه چا سره دښمني کوي چې پرې مین وي یا یې کورنۍ ته زیان اړوي، نو له دې کار څخه جدي ډډه وکړه.

څلورم: له الله پاک مرسته غوښتل: لکه ابن القیم الجوزیة چې ویلي که پاسنیو لارښوونو ګټه ونه کړه او د زړه بار دې سپک نه شو، یوازینۍ درملنه دا ده چې الله پاک ته پناه یوسې او مرسته ترې وغواړې.[٧]

الله پاک ته دعا وکړه چې بې وسه، محتاج یا مین زړه دې خپلې مینې ته مایل کړي؛ د بې وسه او محتاج دعا قبلېږي ان شاءالله.

کله چې زړه الله پاک ته وسپارې هغه یې له خپلې مینې ډکوي؛ ځکه اصلي مالک یې دی.

٧: زاد المعاد في هدي خیر العباد، لیکوال: ابن القیم الجوزیة، څلورم جلد، پاڼه: ٢٧٥.

عشق یا د زړه ناروغي هم د نورو ناروغیو په شان درملنه لري. په لاندې طریقو عمل وکړه الله پاک مهربان دی زړه به دې سکون ومومي.
لومړی: واده: که په چا مین یې تر ټولو ښه لار یې شرعي نکاح ده، مرکه یا جرګه ور واستوه او ګډ ژوند ورسره پیل کړه.
رسول الله ﷺ فرمایلي: «لم يُرَ للمُتَحابِّينَ مِثلُ النِّكاحِ».[٦]
ژباړه: د دوو مینانو لپاره مو تر نکاح بل غوره څه نه دي لیدلي.
دویم: زړه ترې صبر کړه: که خپل معشوق ته د نکاح له لارې نه رسیږې او قسمت دې ورسره نه وي، زړه ترې صبر کړه. ځان ته دا احساس ورکړه، چې ولې دې زړه داسې چا پورې تړې او په داسې څه ژوند بربادوې، چې نه ور رسیږې؟
دغه احساس او عقلاني درک دې ورو ورو زړه ارامه کوي او ذهن څخه دې بې ځایه فکرونه او خیالونه لرې کوي.
کله چې د زړه او عقل خبره یوه شي، ستونزه ورسره حل کیږي.
هوښیار انسان هېڅکله د ناممکن شي په لټه کې نه وي او وخت پرې نه ضایع کوي.
ددې ترڅنګ باید له ځان سره فکر او حساب وکړې چې عشق دې ژوند ته څومره زیانونه اړولي او له څومره ګټو یا ښېګڼو یې محروم کړی یې.
عاشقي دې د پرمختګ او بریالي کېدو مخه ډپ کوي او تر ټولو مهمه دا چې عقل دې لکه د ماشومانو کوچنی کوي.

---

٦: سنن ابن ماجه، د حدیث شمېره: ۱۸۴۷.

له دې سره ابن عباس رضي الله عنهما د عرفې ټوله ورځ دعا کوله، چې الله پاک یې له عشق څخه وساتي.[۵]
دا درې نښې که په تا کې وې، نو د عشق په ستونزه کې ګیر یې.
لومړی: هغه څوک چې له اندازې زیات دربانديې ګران دی، که هغه نه وي په اړه یې ډېر فکر کوې او دوامداره دې په خیالاتو کې وي.
دویمه: کله چې درسره وي ډېر پرې تمرکز یا ترکیز کوې او ټول ژوند دې ورپورې تړلی وي.
درېیمه: خپل ملکیت یې ګڼې او غواړې کنټرول یې ستا لاس کې وي.
یعنې داسې احساس درسره وي چې هغه باید یوازې ستا په خوښه وچلېږي او بل چاسره اړیکه ونه لري، یا د هغه راشه درشه کنټرولول غواړې او په دې ډارېږې چې تا پرېږدي او بل څوک انتخاب کړي.
که له چا سره ستا په اړیکه کې دغه درې نښې وي، په یاد ولره چې مقابل لوری به هر وخت له تا څخه ځان لرې یا ګوښه ساتي؛ ځکه انسانان غواړي پخپله خوښه ژوند وکړي نه د نورو تر کنټرول لاندې.
ته چې څومره چا پورې ځان تړې او نږدې کېږې، هغه به په همغه اندازه واټن زیاتوي او ځان به درڅخه لیرې کوي؛ ځکه یو شی چې څومره ډېرېږي عادي کېږي او انسان ورسره ستومانه کېږي.
ابن القیم الجوزیة ویلي: څوک چې څومره یو شي پورې ځان تړي یا تعلق یې ورسره ډېرېږي، په همغه اندازه پرې ځورېږي.

---

۵: الجواب الکافي. لیکوال: ابن القیم الجوزیة. پاڼه: ۴۹۷.

پر هغوی بریالی کېدای نه شي. کله چې د هغوی موقف ته ځان ټیټ کړي، په هر حالت کې تا بایللې ده.
هغوی په دې پښېمان کړه چې یو نېک انسان یې له لاسه ورکړ، چې کله ستا په شان ملګری پیدا نه کړي.

## عشق سخته ناروغي ده

خلک لګیا وي خپله دنیا او اخرت جوړوي، خو عاشق په غمونو او تشویشونو کې ډوب وي.
عشق د زړه سخته ناروغي ده او په هغو زړونو کې دوامداره پاتې کېږي چې د الله پاک له محبت څخه خالي وي.
عشق د انسان په محبت کې افراط دی په داسې ډول چې معشوق د عاشق د زړه واکمن او کنټرولوونکی شي او ټول وخت یې په خیالاتو او فکر کې وي.
د عشق پیل اسان او خوندور، منځ یې غم او پای یې بربادي ده.
عشق بل چا پورې زړه تړل او دوامداره تړاو دی. څوک چې مین شي، خوشحالي او سکون یې له ژوند څخه کډه کوي.
ابن عباس رضي الله عنهما د عرفات په غونډۍ و، یو ځوان ورته دعا لپاره وروستل شو چې ډېر ډنګر او حالت یې خراب و.
پوښتنه یې وکړه چې څه پرې شوي؟
ورته وویل شول چې مین دی او عشق یې حالت داسې کړی.

## یوه څېره؛ له داخلي نارامۍ خلاصون

که دوه څیرې لرې؛ خلکو ته یو مخ ښکاره کوې او تر هغوی پناه بل ډول یې، له دوامداره داخلي کشمکش سره به مخامخ یې، زړه به دې نارامه وي او دا ستا ذهني کراري هم اغېزمنوي. له داسې چلند سره به تل ځان درته کم او بېقدره ښکاري؛ ځکه ته خپله اصلي څېره او شخصیت تر هر چا ښه پېژنې او که دوه مخي کوې، ځان درته بې ارزښته ښکاري او تشویش به لرې چې اصلي څېره دې رسوا نه شي.

کوښښ کوه چې پټه څېره دې تر ښکاره ډېره ښه وي؛ ځکه که د خلکو له سترګو پناه یې، الله پاک خو دې ویني او هغه اصلي څارونکی دی.

## بد ملګري داسې پېښېمان کړه

د خلکو له نیوکو تېښته نشته او د هغوی خولې بندول ناممکن کار دی، خو کوای شې غوږونه د منفي نظرونو او سپکو سپورو له اورېدو بند کړې.

داسې څوک پېژنې چې د ټولو خلکو بدې خولې یې ور بندې کړې وي؟

الله پاک او د هغه په پیغمبرانو پسې خلک منفي څرګندونې نه کوي؟

بهترین مهارت دا دی چې د اړتیا پرمهال پر غوږونو پرده واچوې او د ځورونکو خبرو له اورېدو یې بند کړې.

بد خلک تل ستا ارزښتونه ازمايي چې ته صبر کوې او که نه. د هغوی چلند تاته مهارت در زده کوي. ځینې سپک کسان هڅه کوي تا خپل منطق ته ښکته کړي، مه ور ښکته کېږه؛ ځکه چې په هېڅ صورت کې

ددې معنی دا هم راځي چې له ګناهونو ځان وساتي او داسې څه ونه وايي، چې نه يې دنيا ته ګټه کوي او نه هم اخرت ته.
له دې سره د مسلمان دينداري ښکلې کېږي او ايمان يې بشپړېږي.

## د مطمئن زړه لپاره پنځه عادتونه

که غواړې قانع او مطمئن زړه ولرې چې په برکت يې له ژونده خونده واخلې، دا کارونه دې عادت کړه:
مننډوی اوسه: د ژوند د ښکلو شيبو ښکار کوه، له هرې شيبې خوند اخله، که کوچنۍ هم وي او د رب شکر کوونکی اوسه ان په کوچنيو شيانو.
حمد ويونکې اوسه: هر نعمت چې دې ترلاسه کاوه، الحمدللّٰه وايه. همېشه د اللّٰه پاک حمد او ثنا يادوه، ژبه د اللّٰه پاک په ثنا او صفت بوخته ساته. له خوبه پاڅېدو او ويده کېدو او د خوراک او څښاک په ګډون په هر حالت کې د اللّٰه پاک شکر ادا کوه او تسبيح يې وايه.
نېک عملونه کوه: هرڅه کې د خير نيت لره او له هرچاسره نيکي کوه، ځکه په نېکو کارونو تر ټولو مخکې ځان ته قدرمن کېږې.
قناعت کوونکی اوسه: د خپلو حاجتونو اندازه کمه ساته، که نه ټول عمر به موړ نه شې. هغوی چې قناعت نه کوي، که څومره هم مالدار شي، سترګې به يې نه مړيږي او ژوند به يې سترې وي.
د ځان قدر کوه: خپل عزت نفس او قدر له منځه مه وړه، تل د خپل عزت ساتنه کوه. عزت نفس په هېڅ قيمت مه قرباني کوه.

## د بې قراره زړه تسکین

که دې زړه له دنیا تور، بې قراره او تنګ وي، لاس پرې کېږده او ووایه: اې ربه دا زړه ستا له امر پرته نه رغېږي، راته اصلاح يې کړه.

که چاته پکې کینه یا بخیلي وي، لاس پرې کېږده او ووایه: اې ربه، ستا په پریکړو او وېش يې راضي او قانع کړه.

تل دعا کوه چې اللّٰه پاک دې د زړه له ناروغیو خوندي وساتي؛ ځکه که ناروغ شي د دنیا له ټولو خوبایيو محروم او له ژونده بېزارېږي.

د زړه اصلي واک له تا سره نه بلکې له اللّٰه پاک سره دی؛ ځکه خو به رسول اللّٰه ﷺ دعا کوله چې الهي زړه مې په دین ثابت لره.

له دې ښکاري چې د زړه د ثبات او انحراف واک له اللّٰه پاک سره دی، چې څنګه يې وغواړي همغه اړخ ته يې اړوي.

د همدې لپاره باید زړه د الله پاک په مینه او ذکر مشغول وساتې.

## ځان ساتنه؛ د دین اصلي ښکلا

په هغه څه کې ځان مه ښکېلوه چې تا پورې اړه نه لري.

رسول اللّٰه ﷺ فرمايلي: «د انسان د اسلام ښکلا په دې کې ده چې له هغو کارونو ځان لیرې وساتي چې ده پورې اړه نه لري.»[٤]

یعنې مسلمان باید هغو کارونو کې په خبرې او عمل سره مداخله ونه کړي چې ده پورې اړه نه لري یا له اړتیا او ګټې پرته د نورو خلکو په چارو کې ځان ښکېل نه کړي.

---

٤: سنن الترمذي، د حدیث شمېره: ۲۳۱۷.

## له سکونه ډک ژوند غواړې؟

زړه په بدن کې پاچا دی او پاچا چې لار ورکی شي، ټول بدن گمراه او ژوند ورسره بېخونده کېږي.

رسول الله ﷺ فرمايي: «خبردار! چې په بدن کې د غوښې يوه ټوټه ده چې که هغه اصلاح شي: ټول بدن سم وي او که هغه فاسده شي، ټول بدن فاسدوي، پوه شئ چې هغه زړه دی.»[٢]

کله چې زړه مطمئن شي، ټول ژوند ورسره هوسا کېږي.

په زړه کې دې تر هر چا لومړی د الله پاک رضا ځای پر ځای کړه، که له هر چا مړېږي خو د الله پاک د مينې تږی وي او قرار يې يوازې د الله تعالی په ذکر او عبادت کې وي.

رسول الله ﷺ فرمايي: «د هغه کس مثال چې د خپل رب ذکر کوي او هغه چې يې نه کوي، د ژوندي او مړي مثال دی.»[٣]

يعنې څوک چې الله تعالی يادوي زړه يې ژوندی دی، که يې نه يادوي مثال يې د مړي دی.

که الله پاک دې زړه مطمئن کړي او د ايمان په خوند پوه شې، د دنيا تر ټولو خوشبخت انسان به يې.

تل د خپل زړه د اصلاح هڅه کوه او له ناروغيو يې ساته؛ ځکه هغه زړه چې اصلاح او روغ وي، په اسانۍ به د غم او بې قرارۍ ښکار نه شي.

---

٢: صحيح البخاري، د حديث شمېره: ٥٢.

٣: صحيح البخاري، د حديث شمېره: ٦٤٠٧. و صحيح مسلم، د حديث شمېره: ٧٧٩.

د کتاب لوستلو مینه وال دي یا یې انټرنټ ددې وړ نه وي چې ویډیوګانې پرې پوره وګوري.

د خپل فکر، پوهې او تجربې د غني کولو لپاره مې سفرونه او له ګټورو او علمي شخصیتونو سره مجلسونه کړي او زرګونه ساعته وخت مې د نړۍ د معتبرو علماوو د سلګونه ویډیوګانو، کتابونو او مقالو کتلو او لوستلو ته ځانګړی کړی او نچوړ مې یې د الله پاک په فضل د قلم په ژبه دې کتاب کې لیکلی دی.

دا یادونه ددې لپاره کوم چې زړونه مو مطمئن شي، چې په دې کتاب کې لیکل شوي مطالب مو فکر او ژوند کې مثبت بدلون راوستلی شي ان شاءالله.

## سریزه

د ۲۰۲۴ کال اکتوبر میاشت کې چې کله زما لومړی کتاب "د سکون ښار" چاپ شو، تمه مې نه وه چې دومره تود او پراخ هرکلی به یې وشي. یوازې په لومړیو درې میاشتو کې څه باندې لس زره ټوکه چاپ او وپلورل شو. څه باندې زر ټوکه په همدغه موده کې په غربي او نورو بهرنیو هېوادونو کې په انلاین ډول ځوانانو ترلاسه کړ.

د کتاب له لومړي چاپ سره ټولنیزو رسنیو کې شور جوړ شو او هر لوستونکي چې به کتاب ترلاسه کاوه، په ویاړ به یې له خپل ملګرو سره د انځور په شریکولو هغوی خبرول چې د سکون ښار یې ترلاسه کړی.

په دې تړاو مې هره لیکنه له نظره تېروله چې د کتاب د لا غني کولو لپاره وړاندیزونه او نیوکې ومومم، خو له مبالغې پرته وایم چې داسې نیوکې مې ونه موندې.

د نړۍ له ګوټ ګوټه کتاب لوستونکي مثبت پیغامونه لا هم استوي او د سکون ښار بهترین، ګټور او په روانه ژبه لیکل شوی کتاب بولي.

ستاسې هڅونې او لېوالتیا انرژي راکړه چې خپل دویم کتاب "مطمئن زړه" ولیکم چې همدا اوس ستاسې لاس کې دی.

کله چې له ځوانانو سره مخامخېږم همدا یوه خبره د ټولو مشترکه وي: "ویډیوګانو دې زموږ ژوند بدل کړی دی".

همداراز ټولنیزو رسنیو کې زما د ویډیوګانو پراخو کتونکو او په اړه یې د دوی مثبتو څرګندونو ته په کتو ددې اړتیا ده چې محتوا یې په کتابي بڼه چاپ کړم ترڅو یې هغه دوستان ولولي چې له خواله رسنیو لیرې دي،

د زړه له تله د ټولو هغو ملګرو څخه مننه کوم چې د دې کتاب د لیکلو په بهیر کې یې راسره هر اړخیزه مرسته کړې.
په ځانګړي ډول د هغو کسانو نومونه یادوم چې دا کتاب د دوی د هڅو، اخلاص او ملاتړ ښکاره نښه ده:

- **جاوید ابراهیمي** - د کتاب د نوم په ټاکلو، د مطالبو په ښکلا او نورو برخو کې یې ځانګړې مرسته کړې.
- **حبیب شاه ریحان** - د کتاب د متن په لیکلو او بیا بیا کتلو کې یې له اندازې زیاته خواري کړې.
- **ماستر ګلاب ګل عزیزي** - د کتاب متن یې له دیني اړخه کتلی.
- **سید ولي ناصر** - د کتاب د متن په سمون او اصلاح کې یې له اخلاص او مینې ډکه همکاري کړې.
- **کرامت الله وردګ** - د کتاب بیا کتنه او د متن په سمون کې یې له اخلاص ډکه همکاري کړې.
- **بخت منیر فاروقي** - د کتاب ښکلې پښتۍ یا پوښ یې په هنري ذوق او مهارت ډیزاین کړی.

دوی او ټولو هغو کسانو ته چې د کتاب په لیکلو کې د ذرې په اندازه ښکېل دي، له الله تعالی څخه جنت الفردوس او مطمئن زړونه غواړم.

د زړه درزا انسان ته وايي؛ بېشکه ژوند څو دقيقې او ثانيې دی.
ځان ته له مرګ وروسته نوم پرېږده، ځکه چې ښه نوم بل ژوند دی.[1]

١: د احمد الشوقي د عربي شعر مفهوم

دې کتاب کې زما د زړه خبرې ستاسې د زړونو لپاره لیکل شوي.
که د سختیو، خپګان او تشویشونو په سیند لاهو یې، مطمئن زړه درسره مرسته کوي ان شاءاللّٰه.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**مطمئن زړه**

ليکوال: عبيدالله حسام

خپرندوی: ميزان اکاډمي

د چاپ کال: ۱۴۰۴/۲۰۲۵

واټس اپ: 0093772051025

ايميل: info@hussambooks.com

ويب سايټ: www.HussamBooks.com

ISBN: 978-9936-1-0955-1

د دې کتاب هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له ليکوال سره خوندي دي.

# مطمئن زړه

عبیدالله حسام